## د ۱۳۹٦ کال د جزا کود پر بنسټ د اختصاصي جزا حقوق

## (۱۱، ۱۲ او ۱۳ جزوې)

# د مخدره موادو جرمونه

**(Narcotic Relataed Crimes)**

**لیندۍ ۱۳۹۸**

**ترتیبوونکي: د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDOL)**

**کابل، افغانستان**

**وېبپاڼه:www.idlo.int**

## د دې جزوې په اړه

د دې جزوې ټول اړوند مواد او درج شوي موارد د افغانستان قوانینو سره سم ترتیب او جوړ شوي دي. د افغانستان قوانینو د نوو تعدیلاتو سره سم د ډاډ په موخه لازمه ده چې دغه جزوه وخت پر وخت بیا بیا وکتل شي. په دغه جزوه کې هر رنګه جزئی یا ټولیز بدلون د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) پورې اړوند او ځانګړی دی.

ټول هغه مواد چې د دې کتاب منځپانګه جوړوي ستاسی د ګټې اخیستنې او نه سوداګرۍ لپاره دي. د دې موادو طبع او خپرول د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) لپاره محفوظ دي.

- **په دې کتاب کې کارول شوي قوانین :**

- د ۱۳۹۶ کال د جزا کود؛
- د ۱۳۹۶ کال د مخدره موادو او مسکراتو پر وړاندې د مبارزې قانون؛
- د ۱۳۹۳ کال د جزايي اجراآتو قانون ؛
- د ۱۳۹۲ کال د څارنوالۍ د تشکیل او واک قانون؛ او
- د ۱۳۸۸ کال د پولیسو قانون.

د موضوعاتو لړلیک:

# لومړۍ برخه

# د مخدره موادو د جرمونو کلیات


**لومړی مبحث: د مخدره موادو مفهوم: ........ ۵**

لومړۍ وینا: د مخدره موادو لغوي تعریف: ........ ۵

دویمه وینا: د مخدره موادو اصطلاحي تعریف: ........ ۵

**دویم مبحث: د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې ملي او نړیوالې حقوقي سرچینې: ........ ۸**

لومړۍ وینا: د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې ملي سرچینې: ........ ۸

دویمه وینا: نړیوالې سرچینې: ........ ۱۳

**دریم مبحث: له مخدره توکو سره د مبارزې، د مخدره موادو جرمونو د تنظیم او رسیده ګۍ اداري: ........ ۱۶**

لومړۍ وینا: د مخدره توکو سره د مبارزې معینیت: ........ ۱۶

دویمه وینا: د نشه یي توکو او مسکراتو پر وړاندې د مبارزې عالي کمېسیون: ........ ۱۸

دریيمه وینا: د نشه یي توکو د تنظیم کمېټه: ........ ۲۳

څلورمه وینا: د نشه توکو د جرمونو د کشف، څېړنې او محاکمې مراجع: ........ ۲۶

**د لومړۍ برخې پایلیزه: ........ ۳۹**


# دویمه برخه

# د مخدره توکو د قاچاق جرمونه


**لومړی مبحث: د مخدره توکو د قاچاق مفهوم: ........ ٤٤**

لومړۍ وینا: د قاچاق لغوي او اصطلاحي تعریف: ........ ٤٤

دویمه وینا: د افغانستان په قوانینو کې د مخدره توکو د قاچاق مفهوم: ........ ٤٦

**دویم مبحث: د مخدره توکو د قاچاق جرم عناصر: ........ ٤٧**

لومړۍ وینا: د مخدره توکو د قاچاق جرم قانوني عنصر: ........ ٤٧

دویمه وینا: د مخدره توکو د قاچاق جرم مادي عنصر: ........ ٤٧

دریيمه وینا: د مخدره توکو د قاچاق جرم معنوي عنصر: ........ ۵۵

**دریم مبحث: د مخدره توکو د قاچاق جزا: ........ ۵٦**

**لومړۍ وینا: د مخدره توکو د قاچاق اصلي جزا او تبعي جزا:........................................... ۵۶**
**دویمه وینا: هغه حالتونه چې له نورو جزاگانو سره یوځای د مخدره توکو د قاچاق د جرم جزا د تطبیق وړ ده: ............. ۶۲**
**د دویمې برخې پایلیزه: ........................................................................ ۶۷**

## درېیمه برخه

## د مخدره توکو د قاچاق جرمونو اړوند جرمونه

**لومړی مبحث: د مؤظفینو او یا پټو همکارانو لخوا د مخدره توکو اړوند جرمونه: ............................................۷۰**
لومړۍ وینا: د مخدره توکو د تنظیم کمېټې د غړو سرغړونه: ..........................................................۷۰
دویمه وینا: د پټو (مخفي) همکارانو سرغړونې: ..........................................................۸۲
درېیمه وینا: کشفي مخفي غیر قانوني اقدامات: ..........................................................۹۶
څلورمه وینا: د کشفي مخفي اقداماتو په اجراء کې افشاء گري: ..........................................................۱۰۹
**دویم مبحث: د عادي اشخاصو لخوا د مخدره موادو اړوند جرمونه: ..........................................................۱۱۴**
لومړۍ وینا: د مالک او رهن اخیستونکي سرغړونې:..........................................................۱۱۴
دویمه وینا: د مخدره توکو په تولید کې د استفادې وړ وسایلو د برابرولو جرم: ..........................................................۱۲۰
درېیمه وینا: نورو ته د وړاندې کولو په منظور د مخدره توکو د ترکیب او مخلوطولو جرم: ..........................................................۱۲۷
څلورمه وینا: تر تصرف لاندې ځایونو کې د مخدره توکو د مصرف د اجازې ورکولو جرم: ..........................................................۱۳۳
پنځمه وینا: اجباري اعتیاد ته د سوقولو جرم: ..........................................................۱۳۶
**عمومي پایلیزه: ..........................................................................۱۴۱**
**آخځلیکونه: ..........................................................................۱۴۲**

# سریزه

## د بخښونکي او مهربانه خدای په نامه

د مخدره موادو جرمونه یو له خطرناکو جرمونو څخه دي چې پر مصرفوونکي د هغه د مادي او معنوي ضررونو سربېره، د هېواد پر اقتصاد، امنیت او اعتبار د سیمې او نړۍ په کچه هم جدي زیان واردوي.
افغانستان د امنیتي ستونزو له کبله د دې ناوړه پدیدې قرباني شوی او په ورته وخت کې یې د هغه پر وړاندې جدي مبارزه پیل کړې ده. نوموړی روزنیز کتاب د "مخدره مواد د جرمونو" موضوع د "مخدره موادو او مسکراتو پر وړاندې د مبارزې قانون"[۱] او "جزا کود" په رڼا کې څېړي. د "مخدره موادو د جرمونو" په اصطلاح کې دوه ډوله جرمونه شاملېږي: یو د مخدره موادو د قاچاق جرم او بل هغه جرمونه چې د قاچاق زمینه برابروي او یا د هغه پر وړاندې د مبارزې خنډ ګرځي.

## د موضوع اهمیت:

د مخدره موادو قاچاق په مخدره موادو د اخته کسانو د زیاتوالي سبب ګرځي ځکه چې په مخدره موادو د اعتیاد زمینه ورته برابروي. له بله پلوه، دا جرم د عامه مصونیت پر وړاندې له جرمونو څخه یو جرم او د سازمان موندلي جرمونو څخه یو جرم دی او که په هېواد کې خپور شي، د هغه اعتبار د نړۍ په کچه زیانمنوي او د بهرنۍ پانګونې د راکمېدو او حتی له هغه سره د نورو هېوادونو د اړیکو پرېکېدو لامل ګرځي او نورو ډېرو جرمونو ته غوره زمینه برابروي، لکه د پیسو وینځلو جرم، د اداري فساد جرمونه، تروریستي جرمونه او داسې نور. له بله پلوه، په هېواد کې د دې جرم خپرېدنه د جنایتکارو سازمانونو پاملرنه ځانته راګرځوي او په پایله کې یې هېواد د دغو ډلو د تباه کوونکي فعالیتونو په صحنه بدلېږي او د ودې او پرمختګ مخه نیسي. له همدې امله، د نوموړي جرم پر وړاندې مبارزه د افغانستان دولت د لومړیتوبونو په سر کې قرار لري.

[۱] - (۱۲۸۴) ګڼه رسمي جریده: د ۱۳۹٦ هجري لمریز کار د کب د میاشتې (۵) نېټه.

## د ليکلو موخه او ساحه:

نوموړی کتاب د عدليې وزارت د قاضيانو، څارنوالانو او حقوقي مساعدينو په روزنيزو پروګرامونو کې د ګټې اخيستنې په منظور برابر شوی دی ترڅو ګډونوال وتوانېږي چې د مخدره موادو د جرمونو اړوند مفاهيم درک او تحليل کړي، د هغه عناصر تشخيص او مجازات يې په ګوته او حکمونه يې په عمل کې پلي کړي.

## د کتاب جوړښت:

دا کتاب درې روزنيزې رسالې لري چې هره يوه يې په جلا ډول د تدريس وړ ده:

لومړۍ رساله (لومړۍ برخه): په دې برخه کې د مخدره موادو د جرمونو اړوند کُلي مفاهيم او مسايل څېړل شوي دي، د مخدره موادو مفهوم، د مخدره موادو پر وړاندې د مبارزې ملي او نړيوالې سرچينې او د مخدره موادو پر وړاندې د مبارزې ادارې هغه درې مهم موضوعات دي چې په درې مبحثونو کې څېړل شوي دي.

دويمه رساله (دويمه برخه): په دې برخه کې د مخدره موادو د قاچاق مفهوم، د نوموړي جرم عناصر او مجازات څېړل شوي دي.

درېيمه رساله (درېيمه برخه): په دې برخه کې د «د مخدره موادو د قاچاق جرم د اړوندو جرمونو» تر عنوان لاندې هغه جرمي کړنې تر بحث لاندې نيولې دي چې په جزا کود کې د مخدره موادو د قاچاق تر فصل لاندې ذکر شوي، خو د هغه جرمي ځانګړنه د مخدره موادو قاچاق نه دی، بلکه هغه جرمونه دي چې يا د قاچاق زمينه برابروي او يا د هغه پر وړاندې مبارزه له ننګونو سره مخ کوي.

## د ليکلو ميتود:

په دې روزنيز کتاب کې له تحليلي توصيفي ميتود څخه ګټه اخيستل شوې ده. هڅه پر دې وه ترڅو نوموړې روزنيزه جزوه د قاضيانو، څارنوالانو او حقوقي مساعدينو لپاره عملي جنبه ولري. له دې کبله له ستومانوونکو، سستې رامنځته کوونکو او په بشپړ ډول نظري بحثونو يا هغه بحثونو څخه چې په

ښوونیزو پروګرامونو کې يې طرح کولو ته اړتیا نه شته، دېده شوې ده. خو په ځینو مهمو او اړینو موارد‌و کې نظري تحلیلي بحثونه د ځانګړي اهمیت پر بنسټ طرح شوي دي.په هره برخه کې یو شمېر فرضي قضیې، د ګروپي بحثونو لپاره مباحثوي پوښتنې، صنفي فعالیتونه او انتقادي فکرونه شامل دي ترڅو ګډونوال شننې او ارزونې ته اړ باسي او روزنه ګډونوال محوره کړي. خو لازمه نه ده چې دا ټولې قضیې او پوښتني په ټولګې کې تر مناقشې او شننې لاندې ونیول شي، بلکې روزونکی د ځانګړي کړل شوي وخت په پام کې درلودلو سره د هغو څخه یو څو غوره کوي. د هر درس په پایله کې د هماغه درس پایلیزه او د ارزونې پوښتنې ذکر کېږي.

# لومړۍ برخه

## د مخدره موادو د جرمونو کلیات

**موخې:**

د نوموړې روزنیزې ناستې په پای کې به ګډونوال د لاندې چارو په اجراء کولو وتوانېږي:

- د مخدره موادو د مفهوم بیانول؛
- د مخدره موادو پر وړاندې د مبارزې د ملي او نړیوالو سرچینو پېژندل؛ او
- د مخدره موادو پر وړاندې د مبارزې ادارو، د مخدره موادو د تنظیم ادارې او د مخدره موادو جرمونو ته د رسیده ګۍ مراجعو په ګوته کول.

**عنوانونه:**

۱. د مخدره موادو مفهوم ؛
۲. د مخدره موادو پر وړاندې د مبارزې ملي او نړیوالې سرچینې؛ او
۳. د مخدره موادو پر وړاندې د مبارزې، د مخدره موادو جرمونو ته د رسیده ګۍ او تنظیم ادارې:
   - د مخدره موادو پر وړاندې د مبارزې معینیت.
   - د مخدره موادو او مسکراتو پر وړاندې د مبارزې عالي کمېسیون.
   - د مخدره موادو او مسکراتو پر وړاندې د مبارزې پولیس.
   - د مخدره موادو او مسکراتو پر وړاندې د مبارزې څارنوالی.
   - د مخدره موادو او مسکراتو جرمونو ته د رسیده ګۍ محکمې.

# لومړۍ برخه

## د مخدره موادو د جرمونو کليات

د مخدره موادو د جرمونو له څېړلو مخکې لازمه برېښي ترڅو د دې جرمونو اړوندې ځيني عمومي موضوعات چې د سريزې او تمهيد حيثيت لري، د مفاهيمو او کلياتو تر عنوان لاندې په درې جلا مبحثونو کې په لاندې ډول تشريح شي. لومړی مبحث: د مخدره موادو مفهوم، دويم مبحث: د مخدرو موادو ملي او نړيوالې حقوقي سرچينې او درېيم مبحث: د مخدره موادو پر وړاندې د مبارزې ادارې.

### لومړی مبحث: د مخدره موادو مفهوم:

تر دې مبحث لاندې لومړی د مخدره موادو لغوي تعريف او بيا اصطلاحي تعريف بيانېږي.

### لومړۍ وينا: د مخدره موادو لغوي تعريف:

له لغوي پلوه، د مُخَدِّر کلمه عربي اصطلاح ده چې د «خَدَر» له کلمې څخه اخيستل شوې چې د ضعف، سستۍ، ترمۍ او ناتوانۍ او سوړوالي څخه عبارت ده.[1] دا کلمه د وېرې، حيرانۍ، تردد، تنبلۍ او بې همتۍ لپاره هم کارول کېږي.

### دويمه وينا: د مخدره موادو اصطلاحي تعريف:

لومړی د افغانستان د قوانينو تعريف او بيا د ځينو پوهانو تعريفونه وړاندې کېږي:

### لومړی مطلب: د افغانستان په قوانينو کې د مخدره موادو تعريف:

مخدره مواد د ۱۳۹۶ کال د جزا کود د ۲۹۹ مې مادې په ۱ جزء کې داسې تعريف شوی دی: "**مخدره مواد او روان اړوونکي مواد: طبيعي او صنعتي موادو څخه عبارت دي چې د مسکراتو او مخدره موادو پر خلاف**

[1] - ابن منظور، محمد بن مکرم الأفريقي المصري. لسان العرب ج ٤،ص: ٢٣٠، دار صادر – بيروت چاپ اول .

**د مبارزې او د هغو د کنټرول د قانون په منضمه کې له ۱ تر ۴ ګڼه جدولونو کې، تنظيم او تصنيف شوي دي".**

د مخدره موادو او مسکراتو پر وړاندې د مبارزې قانون (۱۳۹٦) د ۳مې مادې په ۱ جزء کې مخدره مواد داسې تعريف شوي دي: قانون مبارزه با مواد مخدر و مسکرات(۱۳۹٦) در جزء ۱ مادهٔ ۳ مواد مخدر را چنين تعريف کرده است: «**مخدره مواد: هغه نباتات، توکي يا مرکبات دي چې د دې قانون له (۱، ۲، ۳ او ۴) ګڼه منضمه جدولونو کې تنظيم او تصنيف شوي دي**».

نوري جدول ته په مراجعې سره، ليدل کېږي چې د هغه (۱) ګڼه منضمه کې (۱۰۹) قلمه مخدره مواد او ممنوعي دي چې په طبابت کې نه کارول کېږي، او د هغه (۲) ګڼه جدول (۵۹) ډوله هغه مواد په بر کې نيسي چې په طبابت کې کارول کېږي، خو شديداً تر کنټرول لاندې قرار لري، او په (۳) ګڼه جدول کې هم (۷۵) ډوله هغه مواد ياد کړل شوي دي چې په طبابت کې کارول کېږي، خو يو برخه يې تر کنټرول لاندې قرار لري، خو په (۴) ګڼه جدول کې (۲۷) ډوله هغه لومړني کيمياوي مواد دي چې د مخدره موادو او روان اړوونکو درملو په توليد او پروسس کې کارول کېږي.

پورته ذکر شوي تعريفونه، شکلي تعريفونه دي، نه ماهوي. په دې معنی چې د مخدره موادو ماهيت يې تعريف کړی نه دی، نو د مخدره موادو د ماهيت درک کولو لپاره لازمه ليدل کېږي ترڅو ځيني پوهان په ځانګړې ډول د مخدره موادو مفهوم وړاندې کړي.

## دويم مطلب: د پوهانو له ليد لوري د مخدره موادو تعريف:

امام فراقي ويلي دي: "مخدره مواد هغه شيان دي چې عقل او حواس زايلوي، خو چې خوښي او نشاط رامنځته نه کړي."[1] په يو بل تعريف کې، "مخدره مواد هر هغه خام يا جوړ شوي مواد دي چې تحريکوونکي يا تسکينوونکي عناصر ولري، له طبي يا صنعتي مواردو پرته وکارول شي او د هغه کارول

[1] ـ الطيار، عبد الله بن احمد، مواد مخدر در فقه اسلام، ژباړه : حسين پور، سيد محمد يوسف ، نسخه پی دی ايف، اخيستل شوی له: www.aqeedeh.com.

د روږدي کېدو او د هغه د مصرفوونکي د مغزو د هوښیارۍ په سطحه کې د بدلون باعث وګرځي، د هغه جسمي، روحي یا ټولنیز ضررونه پر شخص او ټولنه ظاهر شي"[۱].

دا دوه تعریفونه د مخدره موادو تعریف معرفي کوي او دویم تعریف د اول په نسبت پراخه دی.

**(۱) لومړی فعالیت**

**ګروپي کار:**

په جزا کود او د مخدره موادو او مسکراتو پر وړاندې د مبارزې په قانون کې د مخدره موادو د تعریف پرتله کول:

ګډونوال دې د مخدره موادو تعریف چې په جزا کود او د ۱۳۹۶ کال د مخدره موادو او مسکراتو پر وړاندې د مبارزې په قانون کې ذکر شوی دی، پرتله کړي او د دوی ترمنځ توپیرونه دې څرګند کړي.

[۱] ـ راجی، عبد القدوس، اضرار و حکم شرعی مواد مخدر، ص ۱۱ ، نسخه پی دی ایف، اخیستل شوی له عقیده وېبپاڼې څخه: www.aqeedeh.com.

## دویم مبحث: د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې ملي او نړیوالې حقوقي سرچینې:

له سرچینو څخه منظور هغه سندونه دي چې د مخدره توکو اړوند مسایل یې تنظیم کړي دي؛ د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې وقایوي اجراآت، د مبارزې طریقې، د مرتکبینو مجازات، د نوموړې پدیدې پر وړاندې د مبارزې پر څرنګوالي حاکم ملي او نړیوال اصول، د هغه د له منځه وړلو څرنګوالی او د هغه له ضررونو څخه د ټولنې ملاتړ د همدې **سرچینو** په رڼا کې صورت نیسي.

### لومړی وینا: د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې ملي سرچینې:

په ملي سرچینو کې اساسي قانون، عادي قوانین، لارښوونې او طرز العملونه شامل دي چې هر یو یې په تفصیل سره بیانېږي.

**۱- اساسي قانون:**

د اساسي قانون په ۱۲۰مه ماده کې ټولو دعواوو ته په رسیده ګۍ کې د قضائیې قوې د صلاحیت او واک شمولیت، او په ۱۳۴مه ماده کې د څارنوالۍ او پولیسو صلاحیتونه تنظیم شوي دي. په ۲۵ تر ۳۲ مادو کې، د برائت اصل، د جرم د شخصي والي اصل، د جرم او جزا د قانونیت اصل، د حقایقو د کشف په مقصد د شکنجې د منع اصل، د مدافع وکیل د درلودلو حق او د اساسي قانون په ۳۷ او ۳۸ مادو کې د اشخاصو د مراسلاتو او مخابراتو د مصونیت او له تېري څخه د مسکن د مصونیت په څېر مسایل تنظیم شوي دي. دا کُلي حکمونه د مخدره موادو د جرمونو له جملې څخه د ټولو جرمونو په برخه کې د تطبیق وړ دي. د اساسي قانون ۷مه مادې، دولت د مخدره توکو له کرنې او قاچاق او د مسکراتو له تولید او کارولو څخه په مخنیوي مکلف کړی دی.

**۲- عادي قوانین:**

د مخدره موادو په اړه، یو شمېر ځانګړي قوانین تصویب شوي چې له هغوی څخه وروستی یې د مخدره توکو او مسکراتو پر وړاندې د مبارزې قانون دی چې په ۱۲۸۴ ګڼه رسمي جریده کې په ۵/۱۲/۱۳۹۶

نېټه خپور شوی دی چې ځینې برخې یې د جزا کود په ضمیمو سره لغوه شوي دي. د لا زیات وضاحت لپاره، له نوموړو قوانینو څخه د هر یو په محتویاتو بحث کوو.

**الف – په جزا کود کې د مخدره موادو جرمونه:**

د مخدره موادو جرمونه، د جزا کود په ۲۹۹ تر ۳۲۲ مادو کې تنظیم شوي دي؛ د نوموړي قانون په ۲۹۹مه ماده کې د مخدره موادو اړوند اصطلاحات تعریف شوي دي، او د نوموړي قانون په ۳۰۰ تر ۳۲۲ مادو کې د مخدره موادو په اړه د جزا ورکولو حکمونه بیان شوي دي چې تفصیل یې په لاندې ډول دی:

- د مخدره توکو کرنه او قاچاق؛
- د مخدره موادو د قاچاق په منظور د منقول او غیر منقول ملکیتونو په رهن یا اجاره ورکول؛
- د نقلیه واسطې مصارده چې له هغه څخه د مخدره موادو د قاچاق په منظور ګټه اخیستل کېږي؛
- د مخدره موادو په تولید کې د کارېدونکو وسایلو یا تجهیزاتو برابرول؛
- د مخدره موادو د قاچاق د ارتکاب په منظور د اشخاصو استخدامول؛
- د مخدره موادو پېرودل او توزیع؛
- د عامه خدمتونو د مؤظفینو پر وړاندې وسله وال مقاومت؛
- له خواړو یا څښاک سره د مخدره موادو ګډول؛
- په رسټورانټ، هوټل، سینما، پلورنځي او تر تصرف لاندې نورو ځایونو کې د مخدره موادو د کارولو اجازه ورکول؛
- د مخدره موادو د غیر قانوني جواز لیک صادرول؛
- د مخدره موادو غیر قانوني پلورل یا کارول؛
- له روږدي سره د مخدره موادو موجودیت؛
- مخدره موادو باندې روږدي کېدلو ته هڅول؛
- د مخفي همکار غیر قانون فعالیت؛
- د مخفي کشفي اقداماتو په اجراء کولو کې سرغړونه/تخلف؛ او

- غير قانوني مخفي كشفي اقدامات.

**ب – د مخدره موادو او مسكراتو پر وړاندې د مبارزې قانون:**

د جزا كود له صادرېدو وروسته، د مخدره موادو او مسكراتو پر وړاندې د مبارزې قانون په (۷) فصلونو او (۷۷) مادو او (۵) ضميمه كې تصويب او د ۱۳۹٦ كال د كب د مياشتې په ۵مه نېټه په ۱۲۸۴ رسمي ګڼه جريده كې (يعنې د جزا كود له نافذېدو څخه ۱۰ ورځې وروسته) نافذ شوی دی. دا قانون د (عمومي حكمونو، د مخدره توكو د تنظيم كمېټه او عالي كمېسيون، د مخدره موادو او مسكراتو جرمونو ته د رسيده ګۍ مراجع، تلاشی – مخفي كشفي اقدامات – ضبط او مصادرې، د مخدره موادو او مسكراتو د قاچاق جرمونو او مجازاتو، د مخدره موادو او مسكراتو پر وړاندې د مبارزې په برخه كې د ادارو د دندو او صلاحيتونو او وروستي حكمونو) په څېر عنوانونه په ترتيب سره په اوو فصلونو كې تشكيل شوي دي.

د يادونې وړ ده چې كه څه هم دا قانون له جزا كود وروسته نافذ شوی دی، خو د دې قانون ۷۷مه ماده تصريح كوي چې د دې قانون په انفاذ سره د مسكراتو او مخدره موادو پر وړاندې د مبارزې او د هغه د كنټرول قانون چې په ۲۴/۳/۱۳۸۹ نېټه په (۱۰۲۵) ګڼه رسمي جريده كې خپور شوی، لغوه كېږي. په دې معنی چې نوموړی قانون په جزا كود د مخدره موادو اړوند حكمونه نه لغوه كوي.

د ۱۳۹٦ كال د كب د مياشتې په ۵مه نېټه په (۱۲۸۴) ګڼه رسمي جريده كې د خپور شوي مخدره موادو او مسكراتو پر وړاندې د مبارزې قانون له انفاذ ۱۰ ورځې وروسته د ۱۵/۱۲/۱۳۹٦ نېټه په (۱۲۸٦) رسمي ګڼه خپور شوی تقنيني فرمان (د جزا كود په ۹۱٦مه ماده كې د ايزاد په نوم) نافذ شو. نوموړی تقنيني فرمان د جزا كود په ۹۱٦مه ماده كې ۳۴، ۳۵ او ۳٦ جزؤونه اضافه كړل چې د هغه د ۳۴ جزء پر بنسټ، په ۳۳ تر ۳۵ مادو، د ۵۴مې مادې په (۲، ۳ او ۴) فقرو ك او د ۱۳۹٦ كال د كب د مياشتې په ۵مه نېټه په ۱۲۸۴ ګڼه رسمي جريده كې خپور شوي د مخدره موادو او مسكراتو پر وړاندې د مبارزې قانون په ۵۵ تر ۵۸ مادو كې درج حكومنه ملغی شوي دي.

باید یادونه وشي چې د مخدره موادو د جرم او جزا په اړه د جزا کود له ۲۹۹ تر ۳۲۲ مادو پورې د تطبیق وړ دي او د مخدره موادو اړوند نور موضوعات د ۱۳۹۶کال د کب د میاشتې په ۵ نېټه په ۱۲۸۴ گڼه رسمي جریده کې د خپور شوي مخدره موادو او مسکراتو پر وړاندې د مبارزې قانون تابع دي.

**(۲) دویم فعالیت**

**مباحثوي پوښتنه:**

د مخدره موادو او مسکراتو پر وړاندې د مبارزې قانون، د افغانستان اسلامي جمهور رئیس د ۲۵۱ گڼه فرمان په ذریعه په ۲۹/۱۱/۱۳۹٦ نېټه توشیح او بیا د ۱۳۹٦ کال د کب د میاشتې په ۵مه نېټه په (۱۲۸۴) گڼه رسمي جریده کې خپور شوی دی، چې په خپله ۷۷مه ماده کې صراحت لري چې " دا قانون د **توشیح له نېټې** څخه نافذ کېږي. د دې قانون په انفاذ سره به د مخدره موادو او مسکراتو پر وړاندې دمبارزې او د هغه د کنټرول قانون، چې په ۲۴/۳/۱۳۸۹ نېټه په ۱۲۰۵ گڼه رسمي جریده کې خپور شوی، لغوه کېږي". همدارنگه لیدل کېږي، د نوموړي قانون د توشیح د نیټې او د خپرېدو د نېټې ترمنځ څو ورځې واټن شون لري.

**پوښتنه:** د هغو موضوعاتو په اړه چې د نوموړي قانون د توشیح نېټې او د خپرېدو نېټې ترمنځ د وخت له پلوه واټن کې واقع کېږي، کوم قانون د تطبیق وړ دی؟

## ج – د جزایي اجراآتو قانون:

د جزایي اجراآتو قانون، چې د ۱۳۹۳ کال د غویي د میاشتې په ۱۵مه نېټه په ۱۱۳۲ گڼه رسمي جریده کې خپور شوی، ۴ باب، ۴۸ فصلونه او ۳۸۲ مادې لري او د اجراآتو او ټولو جزایي قضیو ته د رسیده گۍ څرنگوالی تنظیموي چې په هغه کې درج حکمونه د مخدره موادو پر اړوندو قضیو هم د تطبیق وړ دي. د یادونې وړ ده چې نوموړی قانون له انفاذ او خپرېدو وروسته، ضمیمې هم درلودلې او د نوموړو ضمیمو مادې هم په مکرر ډول تعدیل شوې دي چې نوموړي قانون ته د مراجعې او استناد پرمهال دا هم باید په نظر کې ونیول شي.

**د – لارښودونه او طرز العملونه:**

د پورته ذکر شوو قوانینو سربېره، د مخدره موادو په اړه ځيني لارښودونه او طرز العملونه د مخدره موادو د تنظیم کمېټی لخوا برابر شوي دي چې په لاندې ډول دي:

۱. د مجاز مخدره درملو او سایکوټروپیکونو د توزیع لارښود (د خپرېدو نېټه: ۸/۳/۱۳۸۹، د بیاکتنې نېټه: ۲۹/۸/۱۳۹۵)؛
۲. د مخدره او روان اړوونکو درملو د تجویز لارښود. (د خپرېدو نېټه: ۱۳۸۹/غویي/۲۰، د بیا نوي کېدو نېټه: ۲۹/۸/۱۳۹۵)؛
۳. د پریکرسرونو د تنظیم او کنټرول طرز العمل[۱]. ( د بیا نوي کېدو نېټه: ۱۰/۱۱/۱۳۹۴)؛
٤. د مخدره درملو، مجاز روان اړوونکو درملو، خالصو پریکرسرونو او د هغوی د ترکیبي شکلونو د اجازه لیکونو د صادرولو د څرنگوالي او سیستم طرز العمل؛
٥. د مخدره درملو، روان اړوونکو مجاز درملو او پریکرسرونو د انتقال او پیرودلو اړوندو معلوماتو او مشخصاتو د ثبت لارښود؛
٦. د نقلیه وسایطو د بطرۍ د مصرف لپاره د دولتي سکتور او خصوصي شرکتونو لخوا د سلفوریک اسید د واردولو، ذخیره کولو، رقیقولو او توزیع کولو طرز العمل؛
۷. په بېړني حالت کې د مجازو مخدره او روان اړوونکو درملو د واردولو او توزیع لارښود؛
۸. د مخدره موادو د تنظیم شوو فعالیتونو، مجازو روان اړوونکو او پریکرسرونو په اړه امنیتي معیارونه.

---

[۱] ـ د پریکرسر اصطلاح په قانون کې تعریف شوې نه ده، خو د مخدره موادو او مسکراتو پر وړاندې د مبارزې قانون د دریېمې مادې په (۷) جزء کې اولیه کیمیاوي ماده داسې تعریف شوې ده چې: هغه ماده ده چې د روان اړوونکو مخدره توکو په تولید یا پروسس کې کارول کېږي او د دې قانون په (۱۴) گڼه منضمه جدول کې تنظیم شوې ده، چې د پریکرسر اصطلاح په همدې اولیه ماده کې هم شاملېږي، لکه څرنگه چې همدا مفهوم د مخدره توکو سره د مبارزې وزارت په وېبپاڼه کې هم خپره شوې ده او ویل شوي دي چې: له پریکرسرونو څخه مراد: هغه شمېر کیمیاوي مواد دي چې په طبابت، صنعت او علمي-تحقیقاتي مسایلو کې کارول کېږي، خو اولیه مواد دي چې د مخدره توکو په پروسس او تولید کې هم کارول کېږي.
http://mcn.gov.af/fa/page/۱۸۳٦/٥۱۲۹/object-objectobject-objectdrug-regulation-committee

## دویمه وینا: نړیوالې سرچینې:

په نړیواله کچه، د مخدره توکو په اړه درې مهم سندونه وجود لري چې عبارت دي له: د ۱۹٦۱ یوازینی پروتوکول، د ۱۹۷۱ کال د روان اړوونکو درملو کنوانسیون او د ۱۹۸۸ کال د ویانا هوکړه لیک یا په وینا کې د ۱۹۸۸ کال د ډسمبر په میاشت کې تصویب سره د مخدره توګو او روان اړوونکو درملو د قاچاق پر وړاندې د مبارزې لپاره د ملګرو ملتونو هوکړه لیک.

د نوموړي سندونو په اړه لا زیات معلومات په لاندې ډول وړاندې کېږي.

### الف – د ۱۹٦۱ کال یوازینی پروتوکول:

د مخدره توکو لپاره د ۱۹٦۱ زېږدیز کال یوازینی پروتوکول یو نړیوال تړون دی چې د هغه په انعقاد سره د نوموړي تړون غړي هېوادونه هوکړه کړې چې د مخدره توکو او هغه ته ورته درملو، په طبي درملنو، علمي څېړنو او د قانوني جواز له صادرېدو پرته، تولید او واردول ممنوع ګڼلي. افغانستان د ۱۹٦۱ زېږدیز کال د مارچ د میاشتې په ۳۰مه نېټه نوموړی پروتوکول لاسلیک کړ.

البته اولیه تړونونه چې وړاندې په نړیواله کچه منعقد شوي وو، د مخدره توکوه یوازې ځیني محدود او ټاکلي ډولونه لکه "افیون" او "کوکا" او د دوی مشتقات یې شامل کړي، خو د وخت په تېرېدو، د مخدره توکو ورته موادو ډولونه زیات شول چې په هیڅ ډول نړیوالو هوکړو کې شامل نه و، نو د ۱۹٦۱ زېږدیز کال یوازینی پروتوکول د مخکینیو کنفرانسونو، کنوانسیونونو او پروتوکولونو د جمع بندۍ په موخه منعقد شو. یوازینی پروتوکول په حقیقت کې د مخکینیو هوکړو په ځانګړي ډول د ۱۹۳۱ کال د پاریس تړون لیک امتداد او بشپړوونکی دی او د هغه په انعقاد سره د مخدراتو کورنۍ پورې د اړوندو مصنوعي موادو زیات شمېر کارول چې په تېرو دېرشو کلونو کې رامنځته شوي او د تعامل وړ ګرځېدلي دي – د ځینو درملو په ګډون – منع کړل شول[1].

[1] ـ https://www.ml-advocates.com/ ، https://ar.wikipedia.org/wiki /، https://egypt-lawer.blogspot.com/۲۰۱۱/۱۰/۱۹٦۱.html ، http://parstoday.com/dari/radio/uncategorised-i٦۰۵۷۷

د یادونې وړ ده چې په ۲۰۱۵ زیږدیز کال کې له ۱۸۵ څخه زیات هېوادونو یوازینی پروټوکول لاسلیک کړ او د ملګرو ملتونو اکثره غړي هېوادونه له هغه سره یوځای شول. د نوموړي پروټوکول د ۱۹۷۲ زیږدیز کال اصلاحي مصوبه هم د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د ملي شورا مجلسینو ته د تصویب لپاره ولېږل شوه او همدارنګه د ولسمشر لخوا توشیح او په ۱۵/۱۰/۱۳۹۳ نېټه په (۱۱۵۷) ګڼه رسمي جریده کې خپور شو.

**ب – د روان اړوونکو درملو په اړه د ۱۹۷۱ زیږدیز کال تړون:**

دا تړون د ۱۹۷۱ زیږدیز کال د فبرورۍ د میاشتې په ۲۱مه نېټه د روان اړوونکو او نورو هغو انرژي رامنځته کوونکو درملو چې په نړۍ کې کارول کېږي، تر کنټرول لاندې راوستلو په منظور، خو د ۱۹۶۱ زیږدیز کال د کنوانسیون تر څارنې لاندې یې قرار نه درلود، په ویانا کې منعقد شو. په نوموړي تړون کې چې ۳۲ مادې یې درلودې او نږدې اویا هېوادونو هغه لاسلیک کړ، د روان اړوونکو درملو لپاره یې پراخه تعریف وړاندې کړی دی. په دې درملو کې ټول هغه طبیعي، مصنوعي، خالص او ترکیبي مواد شامل دي چې پر عقل اغېزه کوي او د روان اړوونکو درملو لیسټ په (۱، ۲، ۳ او ۴) جدولونو کې له هغه سره ضمیمه شو.[۱]

**ج – د ۱۹۸۸ زیږدیز کال د ویانا تړون لیک:**

د ۱۹۸۸ زیږدیز کال د ویان تړون لیک یا د مخدره موادو او روان اړوونکو درملو له قاچاق سره د مبارزې لپاره د ملګرو ملتونو تړون لیک چې ۳۴ مادې لري او د ۱۹۸۸ زیږدیز کال د ډسمبر د میاشتې په ۲۰مه نېټه په ویانا کې رامنځته شو. افغانستان د ۱۹۹۲ زیږدیز کال د فبرورۍ په میاشت کې له هغه سره یوځای شوی دی. د نوموړي تړون لیک موخې عبارت دي له:

- د مخدره موادو او روان اړوونکو سره د مبارزې تشدید؛

[۱] - https://www.ml-advocates.com/ar/% /،
/https://issuu.com/naginadjib/docs

- د مخدره موادو له غیر مشروع تجارت سره د مبارزې په برخه کې د غړو هېوادونو ګډه همکاري؛
- د هغو اولیه کیمیاوي موادو د تعامل او تجارت ممنوعیت چې د مخدره موادو په برابرولو کې کارول کېږي؛ او
- د ۱۹٦۱ کال د یوازیني تړون او د ۱۹۷۱ کال د روان اړوونکو درملو د پروتوکول د تطبیق او تأیید لپاره د قانوني لارو رامنځته کول چې افغانستان له دوی سره په مشروط ډول د ۱۹۸۵ زېږدیز کال د مارچ د میاشتې په ۲۱مه نېټه یوځای شوی دی.

نوموړی تړون لیک د ۱۹۹۰ زېږدیز کال د نومبر د میاشتې له ۱۱مې نېټې څخه تر اوسه د اجراء وړ دی او د هغه د غړو شمېر تر ۲۰۱۴ زېږدیز کال پورې ۱۸۹ هېوادونو ته رسیدلی وو. د افغانستان اسلامي جمهوري دولت هم د نوموړي تړون لیک له غړو څخه یو دی چې د ملي شورا د مجلسینو له تصویب او د ولسمشر له توشیح وروسته د ۱۳۷۰ کال د مرغومي د میاشتې په ۳۰مه نېټه په ۷٦۰ ګڼه رسمي جریده کې خپور شوی دی.

## درېیم مبحث: له مخدره توکو سره د مبارزې، د مخدره موادو جرمونو د تنظیم او رسیده ګۍ ادارې:

په ملي کچه ډېر شمېر ادارې د مخدره توکو د جرمونو سره د مبارزې په برخه کې فعالیت لري چې تر ټولو مهمې هغه یې عبارت دي له:

- د کورنیو چارو وزارت د مخدره توکو سره د مبارزې معینیت، چې د مخدره توکو او مسکراتو پر وړاندې د مبارزې وزارت ځای ناستی ګرځېدلی دی؛
- د نشه یي توکو او مسکراتو پر وړاندې د مبارزې عالي کمېسیون؛
- د نشه یي توکو او مسکراتو د تنظیم کمېټه؛
- د نشه یي توکو او مسکراتو پر وړاندې د مبارزې پولیس؛
- د نشه یي توکو او مسکراتو پر وړاندې د مبارزې څارنوالۍ؛ او
- د نشه یي توکو او مسکراتو جرمونو ته د رسیده ګۍ محکمه.

له پورته ادارو څخه هره یوه په جلا ویناوو کې واضح کوو.

### لومړۍ وینا: د مخدره توکو سره د مبارزې معینیت[1]:

د ۱۳۹٦ کال د مخدره توکو او مسکراتو پر وړاندې د مبارزې قانون له ۴مې مادې سره سم، د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت د نورو اړوندو وزارتونو او ادارو په همکارۍ سره د مخدره توکو او مسکراتو پر وړاندې د مبارزې چارو د همغږۍ، د مخدره توکو د کنټرول د ملي ستراتېژۍ د تطبیق او اړوندو پالیسیو او له هغوی څخه د څارنې مسؤلیت پر غاړه لري. لیکن لکه څرنګه چې وویل شول، دا مسؤولیتونه د کورنیو چارو وزارت د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې معینیت ته انتقال شوي دي. په ۲۰۰۲ زېږدیز

۱ - دا معینیت نوی د کورنیو چارو وزارت په چوکاټ کې رامنځته شوی او د نشه یي توکو او مسکراتو پر وړاندې د مبارزې هغه وزارت پر ځای رامنځته شوی دی چې د ولسمشر د فرمان پر بنسټ منحل شو او د کورنیو چارو په وزارت کې مدغم شو. خو له هغه ځایه چې په قانون کې ډېرې دندې هغې ته متوجه کېږي او په قانون کې هم له دې څخه یادونه شوې ده، خو په نافذه قوانینو کې د نوموړي وزارت پېشبیني شوي صلاحیتونه د کورنیو چارو وزارت د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې معینیت ته انتقال شوي دي.

کال کې د ملي امنیت شورا تر چتر لاندې د "نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې ریاست" تر نامه لاندې ریاست رامنځته شو. نوموړي ریاست د ۲۰۰۳ زېږدیز کال د جنورۍ په میاشت کې عملاً په فعالیت پیل وکړ. نوموړی ریاست په ۲۰۰۵ زېږدیز کال کې "د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت"[۱] ته بدل شو.

لکه څرنګه چې د نشه یي توکو د کنټرول په ملي ستراتېژۍ کې راغلي دي، د نوموړي وزارت عمده او مهمې دندې او مسؤولیتونه عبارت دي له:

۱. په ملي کچه د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې د پالیسیو، ستراتېژیو او برنامو د تدوین او تنظیم په برخه کې رهبري کول.
۲. د افغانستان اسلامي جمهوري دولت له مالیې وزارت سره د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې برنامو د برابرولو او تطبیق لپاره د بودیجې همغږي کول.
۳. د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې په امر او په دې برخه کې د هغوی د فعالیتونو د ترسره کولو په اړه د راپور ورکولو په امر کې له اړوندو دولتي ادارو سره همغږي.
٤. د نشه یي توکو د کنټرول د ملي ستراتیژۍ له تطبیق څخه څارنه او په اړه یې راپور ورکول[۲].

د ذکر شوو موخو د ترلاسه کولو په منظور، نوموړي وزارت د ۲۰۱۵ څخه تر ۲۰۱۹ کلونو لپاره کاري پلان جوړ کړ ترڅو د هغه په تطبیق سره لاندې موخې ترلاسه شي:

۱. د خشخاش په کښت کې کمښت؛
۲. د نشه یي توکو تولید او قاچاق راکمول؛ او
۳. نشه یي توکو ته د تقاضا راکمول او د نشه یي توکو د کارکوونکو د درملنې ظرفیت لوړول[۳].

---

[۱] - د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت وېبپاڼه ته دې مراجعه وشي: /history-mcn۱۸۳۵http://mcn.gov.af/fa/page/

۲ - د نشه یي توکو د کنټرول ملي ستراتېژي ۳.۱.۱. (۱۳۹۲ – ۱۳۹٦).

۳ - د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې لپاره د افغانستان د عمل ملي پلان (۱۳۹۴) ګڼه ۱، پاڼه ۴. نوموړی پلان د ۲۰۱۵ څخه تر ۲۰۱۹ کلونو لپاره لیکل شوی دی.

نوموړی وزارت د تشکیلاتو له پلوه، دوه معینیتونه (مالي او اداري معینیت او د پالیسۍ او همغږۍ معینیت)، د پلان او پالیسۍ، نشه یي توکو ته د تقاضا راکمولو، د نشه یي توکو د سروی، د معیشت د بدل برنامو ریاستونه د پالیسۍ او همغږۍ معینیت له مهم ریاستونو څخه دي.[۱]

باید یادونه وشي چې د افغانستان اسلامي جمهور رئیس د ۱۳۹۷ کال د سلواغې په ۷مه نېټه فرمان پر بنسټ د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت له کورنیو چارو وزارت سره ادغام شو.

د نوموړي فرمان پر بنسټ، په ټولو اړوندو تقنیني سندونو کې لازم تعدیلات رامنځته شول او په اړوندو مراجعو کې طی مراحل کېږي او د دې ادغام د بهیر تر وروستي کېدو پورې د نوموړي وزارت د ټولو صلاحیتونو او مسؤولیتونو د پر مخ بېولو او تعمیل مسوؤلیت د کورنیو چارو وزیر په غاړه دی.

نوموړی فرمان د غوره حکومتدارۍ د تأمین، د نشه یي توکو د قاچاقبرانو پر وړاندې د قانون د تطبیق او د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې په امر کې د دولتي ادارو ترمنځ د وظیفوي تداخل رفع کولو او په مصارف کې د خوندیتوب اصل د رامنځته کولو په برخه کې صادر شوی دی.[۲]

## دویمه وینا: د نشه يي توکو او مسکراتو پر وړاندې د مبارزې عالي کمېسیون:

په ۱۳۹٦ کال د تصویب شوي د نشه یي توکو او مسکراتو پر وړاندې د مبارزې قانون د غوره اجراء کولو په موخه، نوموړي قانون د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې د عالي کمېسیون تشکیل پېشبیني کړی دی. د نوموړي کمېسیون رامنځته کول او د هغه غړي د نوموړي قانون د پنځمې مادې په لومړي بند کې او د هغه دندې او صلاحیتونه د نوموړي قانون په شپږمه ماده کې بیان شوي دي چې په راتلونکو پاڼو کې به د هغوی په اړه بحث وکړو.

---

[۱] - د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت وېبپاڼه (۱۳۹۸/٦/۱٤ ۱۱:۰۰ سهار): /http://mcn.gov.af/fa/page٥۱٥٦/۱۸۳٥

[۲] - د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د جمهوري ریاست د عالي مقام دفتر د عمومي ریاست وېبپاڼه (۱۳۹۸/۹/۳ ٤:۰۰ ماسپښین):
https://ocs.gov.af/dr/news_details/٦٦۱

**لومړی مطلب: د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې عالي کمېسيون غړي:**

د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې عالي کمېسيون له يو رئيس او ۲۴ غړو څخه تشکيل شوی دی. د نوموړي کمېسيون په رأس کې ولسمشر يا د هغه له معاونينو څخه يو او نور غړي يې وزيران او د عمومي او خپلواکو رياستونو رئيسان تشکيلوي. د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې قانون پنځمه ماده په دې اړه داسې صراحت لري "(۱) د دې قانون د حکمونو د ښه تطبيق او د مخدره توکو او مسکراتو د قاچاق سره د اغېزمنې مبارزې په منظور، د مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې عالي کمېسيون چې په دې قانون کې د عالي کمېسيون په نوم يادېږي، په لاندې ترکيب سره رامنځته کېږي:

۱. جمهور رئيس يا د جمهور رئيس مرستيال د رئيس په توګه.
۲. له مخدره توکو سره د مبارزې وزير د غړي په توګه.
۳. د سترې محکمې د عمومي جزاء د ديوان رئيس د غړي په توګه.
٤. لوی څارنوال د غړي په توګه.
٥. د کورنيو چارو وزير د غړي په توګه.
٦. د بهرنيو چارو وزير د غړي په توګه.
۷. د ملي دفاع وزير د غړي په توګه.
۸. د ماليې وزير د غړي په توګه.
۹. د عدليې وزير د غړي په توګه.
۱۰. د عامې روغتيا وزير د غړي په توګه.
۱۱. د ارشاد، حج او اوقافو وزير د غړي په توګه.
۱۲. د اطلاعاتو او فرهنګ وزير د غړي په توګه.
۱۳. د اقتصاد وزير د غړي په توګه.
۱٤. د کرنې، مالدارۍ او اوبو لګولو وزير د غړي په توګه.

۱۵. د مخابراتو او تکنالوژۍ وزیر د غړي په توګه.
۱٦. د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزیر، د غړي په توګه.
۱۷. د کار او ټولنیزو، شهیدانو او معلولینو چارو وزیر د غړي په توګه.
۱۸. د سوداګرۍ او صنایعو وزیر د غړي په توګه.
۱۹. د پوهنې وزیر د غړي په توګه.
۲۰. د لوړو زده کړو وزیر د غړي په توګه.
۲۱. د ښځو چارو وزیر د غړي په توګه.
۲۲. د ملي امنیت لوی رئیس د غړي په توګه.
۲۳. د سیمه ییزو ارګانونو د خپلواکې ادارې لوی رئیس د غړي په توګه.
۲٤. د ژوند، چاپیریال د ساتنې د ملي ادارې لوی رئیس د غړي په توګه.
۲۵. د افغانستان د مرکزي بانک د لوی ریاست رئیس د غړي په توګه.

(۲) د عالي کمېسیون د اداري او سکرتریت د چارو پرمخ بېول د مخدره توکو سره د مبارزې وزارت د قانون د تنفیذ له ارګانونو سره د همغږۍ ریاست پر غاړه دی. چې د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې معینیت د کورنیو چارو وزارت په چوکاټ کې تبدیل شوی دی.

لکه څرنګه چې لیدل کېږي، د ټولو وزارتونو وزیران د ټرانسپورټ وزارت او د قومونو او قبایلو وزارت په استثناء د مخدره توکو پر وړاندې د عالي کمېسیون غړیتوب لري او د وزیرانو سربېره لوی څارنوال او د سترې محکمې د عمومي جزا د دیوان رئیس د نوموړي کمېسیون غړیتوب لري. د یادونې وړ ټکی دا دی چې له پورته ذکر شوو ټولو وزارتونو او ادارو څخه د هغه تر ټولو عالي مقام د کمېسیون د غړي په توګه په نظر کې نیول شوی دی. خپلواکې ادارې لکه د ملي امنیت عمومي ریاست، د سیمه ییزو ارګانونو خپلواک ریاست، د محیط زیست ادارې عمومي رئیس او د افغانستان د مرکزي بانک عمومي رئیس هم د دې کمېسیون نور غړي ګڼل کېږي.

**دویم مطلب: د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې عالي کمېسیون دندې او صلاحیتونه:**

د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې عالي کمېسون دندې او صلاحیتونه د ۱۳۹۶ کال له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون په شپږمه ماده کې ذکر شوي دي. د دې صلاحیتونو د فهریت له مطالعې څخه داسې انګېرل کېږي چې د نوموړي کمېسیون دندې او صلاحیتونه ډېر د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې لپاره د برنامو، موخو په ټاکلو، د پالیسۍ او ستراتېژۍ په تدوین پورې اړه لري. په بل عبارت، نوموړی کمېسیون د نشه یي توکو پر وړاندې مبارزې لپاره په مستقیم ډول د اجرایي فعالیتونو مسؤولیت پر غاړه نه لري، بلکه ادارو لپاره د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې قوانین، اصول، لارښودونه او موخې ټاکي. نوموړی کمېسیون د یوازې یو عملیاتي ادارې په پرتله یوه پرېکړه کوونکې او د پالیسۍ جوړوونکې اداره ده .

د نوموړي کمېسیون دندې او صلاحیتونه له نشه یي توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون په شپږمه ماده کې په لاندې ډول بیان شوي دي:

۱. د مخدره توکو او مسکراتو د کنټرول د ملي ستراتېژۍ تصویب او له تطبیق څخه یې څارنه او پر هغې باندې نوې کتنه.
۲. د مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې اړوندو پالیسیو او کړنلارو تصویبول.
۳. د اړوندو وزارتونو او ادارو ترمنځ د همغږۍ او همکارۍ د ځواکمنتیا لپاره د لازمو تدبیرونو نیول.
٤. د مخدره توکو او مسکراتو د غوښتنې د کموالي لپاره د لازمو تدبیرونو نیول.
٥. پر مخدره توکو د روږدو کسانو د درملنې د زمینې د برابرولو لپاره د لازمو تدبیرونو نیول.
٦. د مخدره توکو د مؤلدو نباتاتو له ناقانونه کرلو څخه د مخنیوي لپاره د لازمو تدبیرونو نیول.
۷. د اړتیا په صورت کې د دې قانون د حکمونو د ښه تطبیق په منظور د تخنیکي کمېټې رامنځته کول.
۸. د کړنو (اجراآتو) د رپوټ اورېدل او د مخدره توکو سره د مبارزې د خنډونو او ستونزو بررسي او په دې برخه کې د تصمیم نیول.

۹. د دې قانون د حکمونو د تعدیل وړاندیز.
۱۰. د طبي، صنعتي اړتیاوو د لېږې کولو او د علمي او طبي څېړنو په منظور د مخدره توکو د مؤلدو نباتاتو د کرلو په هکله د تصمیم نیول.

په دې اړه چې عالي کمېسیون پورته ذکر شوې دندې او صلاحیتونه څنګه اِعمالوي، د نشه يي توکو سره د مبارزې قانون د شپږمې مادې ۲ فقره د دغو دندو د اجراء کولو او د دغو صلاحیتونو د اِعمال طریقه په جلا کړنلارې سره سپارلي دي.

## درېیم مطلب: د نشه يي توکو پر وړاندې مبارزې ولایتي او د ولسوالۍ کمېسیون او د هغوی دندې:

د نشه يي توکو او مسکراتو پر وړاندې د مبارزې عالي کمېسیون سربېره، د نوموړي قانون اوومه ماده حکم کوي ترڅو په ولایتونو او ولسوالیو کې هم د والیانو او ولسوالانو تر ریاست لاندې د نشه يي توکو او مسکراتو پر وړاندې د مبارزې کمېسیونونه رامنځته شي:

البته د دغو کمېسیونونو دندې هم په کُلي ډول د نشه يي توکو او مسکراتو پر وړاندې د مبارزې عالي کمېسیون له دندو سره ورته دي او د دواړو محتویات يو شان دي، سربېره پردې، دغه کمېسیونونه نورې دندې هم لري، لکه:

۱. د مخدره توکو له تولید او کرنې څخه د مخنیوي لپاره د فعالیتونو همغږي کول.
۲. د مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې په کار کې د تبلیغاتي برنامو له اجراء څخه څارنه.
۳. په روغتیایي اساسي بستو کې په مخدره توکو د روږدو د درملنې له شاملولو څخه څارنه.
٤. د معیشت د بدل د برنامې له تطبیق څخه څارنه او د هغې د اغېزمنتیا تأمین او د خلکو د فعال ګډون د زمینې برابرول.
٥. عالي کمېسیون ته د مخدره توکو او مسکراتو د کنټرول پر ملي استراتېژۍ باندې د نوې کتنې په هکله، د وړاندیز وړاندې کول.
٦. د عالي کمېسیون د تصمیمونو او مصوبو تطبیقول.

۷. د عالي کمېسیون ته د اړوندو اجراآتو د رپوټ وړاندې کول.

## درېیمه وینا: د نشه يي توکو د تنظیم کمېټه:

د مخدره توکو د تنظیم کمېټه د ۱۳۸۴ کال له نشه يي توکو سره د مبارزې قانون د اووه پنځوسمې مادې د (۲) فقرې د حکم پر اساس د ۱۳۸۵ کال د زمري په میاشت کې رامنځته او د ۱۳۹٦ کال له نشه يي توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون په اتمه، نهمه او لسمه مادو کې مجدداً د هغه دندو او مکلفیتونو ته انعکاس ورکړل شوی دی.

## لومړی مطلب: د نشه يي توکو د تنظیم کمېټې ترکیب، دندې او صلاحیتونه:

د نشه يي توکو د تنظیم کمېټې ترکیب او غړي او د هغه د کار طریقه د ۱۳۹٦ کال له نشه يي توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون په اتمه ماده کې په لاندې ډول بیان شوي دي:

١. د عامې روغتیا له وزارت څخه یو تن طبي کارپوه او یو تن د درمل جوړولو کارپوه.
٢. د مخدره توکو سره د مبارزې له وزارت څخه د طبي چارو یو تن کارپوه او د حقوقي چارو یو تن کارپوه.
٣. د مالیې له وزارت څخه د گمرکونو یو تن کارپوه.
٤. د مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې د پولیسو له معینیت څخه یو تن کارپوه.
٥. د سوداگرۍ او صنایعو له وزارت څخه یو تن کارپوه.
٦. له عدلیې وزارت څخه یو تن د حقوقي چارو کارپوه.

د نوموړي قانون د اتمې مادې په موجب، د دې مادې په (١) فقره کې د درج شوې کمېټې غړي د اړوندو وزارتونو لخوا د څلورو کلونو مودې لپاره ټاکل کېږي. د کمېټې رئیس د هغې د غړو له منځه د غړو د رایو په اکثریت سره د دوو کلونو مودې لپاره ټاکل کېږي.

(۳) د کمېټې غونډې د هغې د دوه پر درې غړو په حضور سره دایرېږي.

(٤)په غونډو کې د کمېټې تصمیمونه د هغې د غړو د رایو په اکثریت سره نیول کېږي او په مخصوص کتاب کې ثبتېږي.

(٥) که چېرې د کمېټې غړی، سپارل شوې دندې په ښه توگه سرته ونه رسوي، له مخدره توکو سره د مبارزې وزیر کولای شي د هغه تعویض، له اړوندې مرجع څخه وغواړي.

(٦) د کمېټې د اړوند فعالیت او اجراآتو ډول، په جلا مقررې یا کړنلاره کې تنظیمېږي.

## دویم مطلب: د نشه يي توکو د تنظیم کمېټې دندې او صلاحیتونه:

له نشه يي توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون نهمه ماده د نشه يي توکو د تنظیم کېمټې دندې او صلاحیتونه داسې تنظیم کړې دي:

(۱) کمېټه د لاندو دندو او واکونو لرونکې ده:

۱- د دې قانون په (۱، ۲، ۳ او ۴) گڼه منضمه جدولونو کې د مخدره توکو د نوم درجول، له نومړو جدولونو څخه د مخدره توکو د نوم حذف کول او له یوه جدول څخه بل جدول ته د هغه لېږدول.

۲- په دې قانون کې د درج شوي جواز لیک او اجازه لیک غوښتونکو اشخاصو د غوښتنلیکونو بررسي.

۳- د دې قانون د حکمونو مطابق غوښتونکو اشخاصو ته د جواز لیک او اجازه لیک ورکول، د هغه تعلیق او لغو کول.

٤- د دې فقرې په ۳ جزء کې د درج شوي جواز لیک او اجازه لیک د لرونکو اشخاصو پر فعالیتونو څارنه او کنټرول او عدلي او قضایي مراجعو ته د سرغړوونکو ور پېژندل.

٥- په دې قانون کې د درج شوي جواز لیک او اجازه لیک لرونکو اشخاصو د فعالیتونو د رپوټ ترلاسه کول او بررسي کول او له مخدره توکو سره د مبارزې وزارت ته د هغه د پایلو وړاندې کول.

(۲) کمېټه مکلفه ده له اړوندو اجراآتو او فعالیتونو څخه له مخدره توکو سره د مبارزې وزارت او د عامې روغتیا وزارت او نورو اړوندو ارگانونو ته په ربعوار او کلني ډول، رپوټ ورکړي.

(۳) کمېټه مکلفه ده له مخدره توکو سره د مبارزې، د عامې روغتيا وزارتونو او نورو ښکېلو ارگانونو لارښوونې چې د تقنيني سندونو له حکمونو سره سم صادرې شوې وي، رعايت کړي.

د يادونې وړ ده چې دا کمېټه د سپارل شوو دندو د ترسره کولو په برخه کې فعاليتونه ترسره کړي دي چې له دې فعاليتونو څخه ځينې يې عبارت دي له:

- په ځانگړي ډول د مخدره درملو، سايکوټراپيک او پريکرسرونو د ۲۳ کړنلارو او لارښودونو تصويب چې له دوی له منځه دوه کړنلارې او دوه لارښودونه نوي شوي او د وزارت لخوا منظور او د وزارت په وېبپاڼه کې خپور شوي دي.
- د تر کنټرول لاندې موادو د اړوندو چارو د تنظيم مقررې مسوده چې درې فصلونه او ۳۰ مادې لري.
- د عامې روغتيا وزارت په همکارۍ تر کنټرول لاندې د مخدره، روان اړوونکو درملو او کيمياوي موادو اټکلول.
- د کارخانو د توليداتو په پروسس کې د کيمياوي موادو د مصرفولو له بهير څخه د څارنې په موخه د هېواد په څلورو زونونو (بلخ، هرات، ننگرهار او قندهار) کې د گډې کمېټې (د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې له پوليسو څخه يو استازی، د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې رياست د قانون د تنفيذ مدير او د ملي امنيت رياست له ۵۵ مديريت څخه يو استازی) رامنځته کول.[1]

---

[1] _ http://mcn.gov.af/fa/page/۱۸۳٦/٥۱۲۹/object-objectobject-objectdrug-regulation-committee

**(۳) درېیم فعالیت**

**مباحثوي پوښتنه:**

آیا د نشه يي توکو د تنظیم کمېټې دندې او واکونه چې له نشه يي توکو او مسکراتو پر وړاندې د مبارزې قانون په نهمه ماده کې تصریح شوي، د دې کمېټې د غړو په تخصص سره چې د دې قانون په اتمه ماده کې بیان شوي دي، مطابقت لري؟

## څلورمه وینا: د نشه توکو د جرمونو د کشف، څېړنې او محاکمې مراجع:

د مخده موادو جرمونو ته رسیده گي بېلابېل پړاوونه طی کوي؛ له کشف څخه پیل او د نیولو، څېړنې او د تور توجیې پړاوونه تېروي او د تورن پر برائت یا الزامیت مني حکم په صادرېدو سره پای مومي چې په دې مسیر کې پولیس، څارنوالي او محکمې هر یو – په ترتیب سره – خپل رول او اجراآت ترسره کوي، چې په دې ځای کې له دې مراجعو څخه د هر یو رول او اجراآت په جلا مطالبو کې توضیح کوو.

### لومړی مطلب: له مخدره موادو او مسکراتو سره د مبارزې پولیس او د ضبط او نیولو نورې مراجع:

د ۱۳۹۳ کال د جزایي اجراآتو قانون د ۸۰مې مادې له (۱) فقرې سره سم، «د جرم کشف د پولیس او د ملي امنیت مؤظف لخوا صورت نیسي.» او د ۱۳۸۸ کال د پولیسو قانون د ۵مې مادې له ۱۸ جزء سره سم، «د جرمونو کشف او د هغوی له پېښېدو څخه مخنیوی د پولیسو له دندو څخه گڼل کېږي.» د مخدره موادو کشف او له هغه څخه مخنیوی هم په پورته ذکر شوو مادو کې درج د پولیسو په واکونو کې هم شاملېږي. په پورته ذکر شوو قوانینو کې د درج شوو پولیسو سربېره، د مخدره موادو او مسکراتو سره د مبارزې د پولیسو په نوم ځانگړي پولیس هم شتون لري چې دندې او صلاحیتونه یې د ۱۳۹۶ کال د مخدره موادو او مسکراتو سره د مبارزې قانون په ۱۳مه ماده کې تنظیم شوي دي. سربېره پردې، د نومړي قانون په ۱۴مه ماده کې د مخدره موادو سره د مبارزې پولیسو له ځانگړې قطعې او په ۱۵مه ماده کې د

ضبط او نیولو مراجعو څخه یادونه شوې ده.

**۱ – له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې پولیس او د هغوی دندې او واکونه:**

له مخدره توکو سره د مبارزې پولیس هغه ځانګړي پولیس دي چې دندې او واکونه یې د مخدره موادو او مسکراتو سره د مبارزې قانون په ۱۳مه ماده کې تصریح شوي دي، په دغو دندو او واکونو کې د مخدره موادو د کشف، د مظنونیو نیولو، د مخدره موادو د ضبطولو، د مخدره موادو د تولید لابراتوارونو او تأسیساتو او د مخدره موادو د مؤلد نباتاتو د کرنې تخریبولو په څېر صلاحیتونه شامل دي.
له مخدره موادو او مسکراتو سره د مبارزې پولیس، د مخدره موادو او مسکراتو جرمونو مظنونین واکمنې څارنوالۍ ته تسلیموي. همدارنګه د مخدره موادو او مسکراتو د نیولو او ضبط اړوندو اجراآتو او نورو اجراآتو په اړه له مخدره توکو سره د مبارزې وزارت او عالي کمېسیون ته په ربعوار او کلني ډول راپور ورکوي.
له مخدره موادو او مسکراتو سره د مبارزې قانون د ۱۳مې مادې د (۲) فقرې پر بنسټ، "د مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې پولیس مکلف دي ترڅو د مخدره توکو او مسکراتو جرمونو مظنونین، اړوند سندونه او مدارک له نیولو وروسته د اکثر حد (۷۲) ساعتونو په موده کې په نوموړي قانون کې درج شوې واکمې څارنوالۍ ته تسلیم کړي".
لیدل کېږي چې له عامه قاعدې سره سم، څارنوالۍ ته د مخدره توکو د جرمونو د مظنونیو د تسلیمولو موده له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون د ۱۳مې مادې له (۲) فقرې سره سم هم اکثر حد (۷۲) ساعتونه ټاکل شوي دي، خو د نوموړي قانون د (۱۳) مادې د (۳) فقرې پر بنسټ، په ځینو حالتونو کې د تسلیمۍ موده د نوموړي اصل خلاف ده، او دا چې که د مخدره توکو اندازه له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون د ۱۷مې مادې په ۱ فقره کې له درج شوو اندازو څخه زیات وي او د کابل ولایت له ساحې څخه دباندې کشف او مرتکبین یې ونیول شي، په دې صورت کې له مخدره موادو سره د مبارزې پولیس له کشف او نیولو وروسته د (۷۲) ساعتونو په موده کې د هغه راپور څارنوالۍ ته تسلیموي

او مظنون او اړوند سندونه او مدارک له نیولو وروسته د اکثر حد (۱۵) ورځو په موده کې د کابل له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې پولیسو ادارې ته انتقالوي. که چېرې موجه او قانوني معاذیر په ټاکلې موده کې د مظنون د انتقال مانع شي، ټاکلې موده دوام کوي. البته له مخدره توکو سره د مبارزې پولیسو ادارې ته د نوموړي مظنون له تسلیمولو وروسته هماغه موده (۷۲) ساعتونه د رعایت وړ دي او له هغه څخه سرغړونه د قانوني تعقیب وړ گرځي.

**۲ – د مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې پولیسو ځانگړې قطعه:**

سره له دې چې له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون دریالسمه ماده له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې پولیسو دندې او صلاحیتونه مشخص او بیانوي، د نوموړي قانون څوارلسمه ماده د کورنیو چارو وزارت مکلفوي ترڅو له مخدره توکو سره د مبارزې او د قاچاقبرانو د نیولو، د مخدره توکو د ضبطولو، د کروندو تخریب او ... نور د اړتیا وړ اقداماتو په څېر د اړینو اقداماتو نیولو په منظور له مخدره توکو د مبارزې پولیسو ځانگړې قطعه د نوموړي وزارت له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې معینیت په چوکاټ کې او له ننگونو او اړتیاوو سره سم رامنځته کړي.

د مخدره توکو سره د مبارزې ځانگړې قطعه د صلاحیت او موقف له پلوه د مخدره موادو سره د مبارزې پولیسو د مرکزي ادارې تابع ده او د نوموړې قطعې صلاحیتونه او اقدامات لکه یوه ځانگړې مسلکي او یا ضربتي ډله چې اجرایوي او عملي اړخ ډېر لري او هغه ټول د مخدره موادو سره د مبارزې پولیسو د مرکزي ادارې تر چتر لاندې ترسره کوي.

**(۴) څلورم فعالیت**

**مباحثوي پوښتنه:**

د مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې د ۱۴مې مادې (۳) فقره تصریح کوي چې "له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې ځانګړې قطعه، د خشخاشو، کوکا او بنګ دانو کښتونو او د مخدره توکو، مسکراتو د تولید لابراتوارونه یا تأسیسات له تثبیت او عکس اخیستنې وروسته ویجاړوي او د الکولي مشروباتو د پلور او استعمال ځانګړي ځایونه له تثبیت او عکس اخیستنې څخه وروسته مهر او لاک کوي".

کله چې قانون جوړوونکی په نوموړې فقره کې د درج شوو اقداماتو په اجراء کولو کې مشخصاً له "ځانګړې قطعې" څخه یادونه کوي، نو پوښتنه په دې ځای کې ده چې:

- آیا په پورته فقره کې د درج شوو صلاحیتونو ورکول د مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې په ځانګړې قطعې پورې منحصر دي یا د مخدره توکو سره مبارزې پولیسو نورې څانګې او اړوندې نورې مراجع کولای شي دا ډول اجراآت عملي کړي؟

- که چېرې دا ډول اقدامات له ځانګړې قطعې پرته د بلې مرجع په وسیله اجراء شي، آیا عملي شوي اجراآت باطل ګڼل کېږي؟

**۳ - د ضبط او نیولو نورې مراجع:**

له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې پولیسو او د هغه د ځانګړې قطعې ترڅنګ، له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون نورې مراجع تنظیم کړې دي چې کولای شي د مخدره توکو او مسکراتو د قاچاق مظنونین ونیسي او غیر قانوني مخدره توکي، وسایل او تجهیزات او د هغه په تولید کې کارېدونکي مواد ضبط کړي، دا مراجع د نوموړي قانون د ۱۵مې مادې له (۱) فقرې سره سم عبارت دي له:

۱- سرحدي پولیس او نور ملي پولیس.
۲- د ملي امنیت مؤظفین.
۳- د گمرکونو مؤظف کارکوونکي.
٤- د ملي دفاع وزارت مؤظفین.

پورته ذکر شوې مراجع مکلفې دي، نیول شوي مظنونین، ضبط شوي مخدره توکي او مسکرات، وسایط، وسایل او نور ضبط شوي شیان، اړوند سندونه او مدارک په ۲۴ ساعتونو کې له مخدره توکو سره د مبارزې پولیسو ته وسپاري. له مخدره توکو سره د مبارزې ځایي پولیس هم په خپل وار مکلف دي، په ۲۴ ساعتونو کې، د پېښې رپوټ له مخدره توکو سره د مبارزې د پولیسو مرکزي ادارې، له مخدره توکو سره د مبارزې وزارت او واکمې څارنوالۍ ته، ولېږي.

همدارنگه د ملي دفاع وزارت او د ملي امنیت عمومي ریاست مکلف دي، له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې په برخه کې د خپلو کشفي فعالیتونو او عملیاتو په هکله، له مخدره توکو سره د مبارزې د پولیسو معینیت ته خبر ورکړي.

سرحدي پولیس هم مسؤولیت لري ترڅو د مخدره توکو او مسکراتو د ضبط او په سرحدونو کې د هغو له لېږد څخه د مخنیوي په منظور، لازم تدبیرونه ونیسي او په سرحدونو کې له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې په عملیاتو کې له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې له پولیسو سره، همکاري وکړي.

## دویم مطلب: له مخدره موادو او مسکراتو سره د مبارزې څارنوالۍ:

د مخدره توکو په جرمونو کې د څېړنې او د دعوای د اقامې صلاحیت له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون له شپاړلسمې او اوولسمې مادې سره سم د مخدره توکو د اندازې او د کرل شوې ځمکې د مساحت له پلوه تقسیم بندي شوې دي، لکه څرنگه د نوموړي قانون د اوولسمې مادې لومړۍ فقرې مقادیر مشخص کړي دي چې هغو جرمونو ته رسیده گي چې د جرم د موضوع موادو اندازه او یا هم د هغې ځمکې مساحت کې په هغې کې مخدره توکي کرل شوي وي، له هماغه ټاکل شوې اندازې څخه

لړ وي، هغه ته رسيده ګي د ولايتونو د څارنوالۍ صلاحيت او له ټاکلې اندازې څخه زيات له مخدره موادو او مسکراتو سره د مبارزې ځانګړې څارنوالۍ صلاحيت دی، په دې معنی چې د مخدره توکو او مسکراتو په جرمونو کې څېړنه او د دعوي اقامه ځانګړې او يا عادي (عمومي) څارنوالۍ مخ ته وړي، چې په راتلونکو کرښو کې د هر يو واکونه بيانېږي.

## لومړۍ فرعه: له مخدره توکو سره د مبارزې ځانګړې څارنوالۍ:

د ۱۳۹٦ کال له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې د شپاړلسمې مادې (۱) فقره په دې اړه داسې صراحت لري: "**د مخدره توکو او مسکراتو له جرمونو سره د مبارزې څارنوالۍ منحصراً د دې قانون د اووه لسمې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو مخدره توکو او مسکراتو د قاچاق په جرمونو او د هغو په مرتبطو جرمونو کې د تحقيق او د عوي د اقامې واک لري**".

د نوموړي قانون د اووه لسمې مادې (۱) فقرې ته په مراجعې سره، ليدل کېږي چې که چېرې:

أ. د هېرويينو، مورفينو، کوکايينو يا د دې توکو څخه د جوړ شوي ترکيب اندازه له يوه کيلو ګرامه زياته وي،

ب. د ترياکو يا له هغې مادې څخه د جوړ شوي ترکيب اندازه، له لسو کيلو ګرامه زياته وي،

ج. د چرسو او بنګ دانه يا د دې قانون په (۱، ۲، ۳ او ۴) منضمه جدولونو کې له درج شوو موادو څخه د جوړ شوي ترکب اندازه، له پنځوسو کيلو ګرامو څخه زياته وي،

د. د مسکراتو اندازه له دوه سوه ليټرو زياته وي،

ه. د مخدره توکو د مؤلدو نباتاتو د کښت مساحت، له پنځوسو جريبو څخه زيات وي،

و. د سنتيتيک اندازه له لسو ګرامو څخه زياته وي،

ز. د استيک آنهايدرايت اندازه له پنځو ليټرو حخه زياته وي،

په هغه صورت کې هغوی ته رسيده ګي، له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې څارنوالۍ واک دی.

سربېره پردې، د همدې مادې له (۳، ۴ او ۵) فقرو سره سم، له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې څارنوالۍ مکلفه ده ترڅو:

أ. د مخدره موادو او مسکراتو د قاچاق جرمونو او د هغه اړوندو جرمونو په اړه عندالمطالبه له مخدره موادو سره د مبارزې وزارت ته په میاشتني او کلني ډول خبر ورکړي.
ب. محکمو او له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې وزارت ته د مخدره توکو د قاچاق جرمونو اړوندو دوسیو د لېږدولو په اړه رسماً خبر ورکړي.
ج. د محکمو د صادر شوو پرېکړو یو نقل له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې وزارت ته وسپاري.

## دویمه فرعه: د مخدره توکو سره د مبارزې عادي څارنوالۍ:

له مخدره توکو سره د مبارزې قانون د شپاړلسمې مادې (۲) فقره د هغه شمېر مخدره توکو او یا د کرنیزې ځمکې مساحت چې اندازه یې د دې مادې په (۱) فقره کې له درج شوې اندازې څخه لږ وي، په اړه صراحتاً حکم کوي چې دا ډول قضیو ته رسیده ګي او د هغه په اړه څېړنه او د دعوی اقامه د قانون له حکمونو سره سم د اړوند ولایت د څارنوالی له صلاحیت څخه دی.

د ولایتونو د څارنوالیو د تشکیل او واک په اړه باید وویل شي چې: د ولایتونو په مرکز او ولسوالیو او ښاري ناحیو کې لومړنۍ څارنوالۍ، لکه څرنګه چې د څارنوالۍ د تشکیل او واک قانون په (۲۵) مه ماده کې لیکل شوي دي، (له لومړنیو محکمو یا د محکمو د لومړنۍ جزایي دیوانونو سره موازي) د اړوندې استیناف څارنولای تر اثر لاندې رامنځته کېږي، او د نوموړي قانون د ۲۷مې مادې له حکم سره سم د څانګو تولې دندې واکونه په اړونده حوزه کې اِعمالوي، خو دا چې د قانون په حکم د استیناف څارنوالی یا د مرکزي ریاستونو د واک په دایره کې قرار ولري.

د مخدره توکو په جرمونو کې د څېړنې او د دعوی د اقامې سرېږه، د ولایتونو څارنوالۍ هم مکلفیت لري ترڅو:

أ. محکمې ته د مخدره توکو، بیا د اړوند ولایت د مخدره توکو سره د مبارزې ریاست ته د لېږدولو په اړه اطلاع ورکړي.

ب. د محکمو د صادر شوو پرېکړو یو نقل د مخدره توکو سره د مبارزې وزارت ته ولېږي.

له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون د شپاړلسمې مادې متن د مخدره توکو په جرمونو کې د څېړنې او د دعوی اقامې د صلاحیت په اړه داسې صراحت لري:

"(۱) د مخدره توکو او مسکراتو له جرمونو سره د مبارزې څارنوالۍ منحصراً د دې قانون د اووه لسمې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو مخدره توکو او مسکراتو د قاچاق په جرمونو او د هغو په مرتبطو جرمونو کې د تحقیق او د دعوي د اقامې واک لري.

(۲) که چېرې د مخدره توکو د مؤلدو نباتاتو د کښت مساحت او د مخدره توکو او مسکراتو اندازه د دې قانون د اووه لسمې مادې په (۱) فقره کې له درج شوو مقادیرو څخه لږ وي، د قانون د حکمونو مطابق، د هغه په هکله د تحقیق او د دعوي اقامه د اړوند ولایت د څارنوالۍ واک دی.

(۳) د مخدره توکو او مسکراتو له جرمونو سره د مبارزې څارنوالي د مخدره توکو او مسکراتو د قاچاق د جرمونو او هغو ته د مرتبطو جرمونو په هکله، د غوښتنې په وخت کې له مخدره توکو سره د مبارزې وزارت ته په میاشتنۍ او کلنۍ ډول خبر ور کوي.

(٤) د مخدره توکو او مسکراتو له جرمونو سره د مبارزې څارنوالي محکمو ته د مخدره توکو د قاچاق د جرمونو د نسبتي دوسیو له لېږلو څخه له مخدره توکو سره د مبارزې وزارت ته په رسمي ډول خبر ورکوي. په هغه صورت کې چې د دې قانون د حکمونو مطابق، د قضیې رسید ګي د ولایت د محکمې واک وي،

ځايي څارنوالي، محکمې ته د دوسيې له لېږلو څخه د اړوند ولايت له مخدره توکو سره د مبارزې رياست ته، خبر ورکوي.

(۵) څارنوالي د محکمو د صادرو شوو فيصلو يو نقل له مخدره توکو سره د مبارزې وزارت ته لېږي".

**(۵) پنځم فعاليت**

**مباحثوي پوښتنې:**

**لومړۍ پوښتنه:** مخدره توکو سره د مبارزې پوليسو يو کيلو ګرام مورفين، **۵۰۰** ګرام هيرويين او ۱۲ کيلو ګرام ترياک د (x) ولايت له يوې ولايسوالۍ څخه د مخدره توکو له يو تن قاچاقبر سره ونيول، په دې حالت کې د نوموړي قاچاقبر پر وړاندې څېړنه او د دعوې اقامه له لاندې ادارو څخه د کومې يوې واک ګڼل کېږي:

الف: له مخدره توکو سره د مبارزې ځانګړې څارنوالي.

ب: د (x) ولايت څارنوالۍ.

ج: د مورفينو او هيروينو قاچاق موضوع د (x) ولايت څارنوالۍ او د ترياکو موضوع د مخدره توکو د ځانګړې څارنوالۍ له واک څخه دي.

د: د مورفينو د قاچاق موضوع د (x) ولايت له واک او د هيروويينو موضوع د هماغې ولسوالۍ واک او د ترياکو موضوع له مخدره توکو سره د مبارزې ځانګړې څارنوالۍ واک.

**دويمه پوښتنه:**

له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون د شپاړلسمې مادې (۳) فقرې په صراحت سره د مخدره توکو او مسکراتو له جرمونو سره د مبارزې څارنوالۍ يادونه کړې او دا اداره مکلفوي ترڅو "د مخدره توکو

او مسکراتو د قاچاق جرمونو او د هغه اړوند نورو جرمونو په اړه عندالمطالبه د مخدره توکو سره د مبارزې وزارت ته په میاشتني او کلني ډول خبر ورکوي".

آیا دا حکم د ولایتونو پر څارنوالیو هم د تطبیق وړ دی او دوی هم د مخدره توکو سرهد مبارزې وزارت پر وړاندې دا ډول مسؤولیت لري یا نه؟

## درېیم مطلب: د مخدره توکو او مسکراتو جرمونو ته د رسیده ګۍ محکمې:

لکه څنګه چې ځانګړې او غیر ځانګړې ولسوالۍ د مخدره توکو او مسکراتو د جرمونو په اړه د څېړنې او د دعوي اقامې په اړه واک ولري، د مخدره توکو او مسکراتو جرمونو اړوندو قضیو ته د رسیده ګۍ واک هم د ځانګړو محکمو او ناځانګړو محکمو ترمنځ هم وېشل شوی دی. له دې محکمو څخه هر یو په جلا ډول توضیح کېږي.

### لومړۍ فرعه: په ابتدائیه پړاو کې د مخدره توکو جرمونو ته د رسیده ګۍ ځانګړې محکمه:

په ابتدائیه پړاو کې د مخدره توکو جرمونو ته د رسیده ګۍ ځانګړې محکمه د مخدره توکو جرمونو سره د مبارزې لومړنۍ محکمه ده. هغه جرمونه چې هغوی ته رسیده ګي د نوموړې محکمې له واک څخه ګڼل کېږي، له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون د اووه لسمې مادې د (۱) فقرې په ۱ تر ٦ جزؤنو کې داسې تصریح شوي دي:

" (۱) په دې قانون کې درج شوو جرمونو ته رسیدګي، په لاندې حالاتو کې، په ټول هېواد کې د مخدره توکو او مسکراتو له جرمونو سره د مبارزې د ابتدائیه محکمې واک دی.

۱- که چېرې د هېرویینو، مورفینو، کوکایینو یا د دې توکو څخه د جوړ شوي ترکیب اندازه له یوه کیلو ګرامه زیاته وي.

۲- که چېرې د ترياکو يا له هغې مادې څخه د جوړ شوي ترکيب اندازه، له لسو کيلو گرامه زياته وي.

۳- که چېرې د چرسو او بنگ دانه يا د دې قانون په (۱، ۲، ۳ او ۴) گڼه منضمه جدولونو کې له درج شوو موادو څخه د جوړ شوي ترکيب (د هېروئينو، مورفينو، کوکايينو او ترياکو څخه پرته) اندازه، له پنځوسو کيلو گرامه څخه زياته وي.

٤- که چېرې د مسکراتو اندازه له دوه سوه ليتره زياته وي.

٥- که چېرې د مخدره توکو د مؤلدو نباتاتو د کښت مساحت، له پنځوسو جريبو څخه زيات وي.

٦- که چېرې د سنتيتيک اندازه له لسو گرامو څخه زياته او د استيک انهايدرايت اندازه له پنځو ليترو څخه زياته وي.

## دويمه فرعه: له مخدره توکو سره د مبارزې ناځانگړې محکمې:

په ابتدائيه پړاو کې د مخدره توکو جرمونو ته د رسيده گۍ ناځانگړې محکمه د ابتدائيه محکمو د عامه امنيت له ديوانونو څخه عبارت ده. هغه جرمونو چې هغوی ته رسيده گي د دغو ديوانونو له واک څخه گڼل کېږي، له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون د اووه لسمې مادې په (۳) فقره کې داسې تصريح شوي دي:

**"که چېرې د مخدره توکو د مؤلدو نباتاتو د کښت مساحت يا د مخدره توکو او مسکراتو يا له هغو څخه د جوړ شوي مرکب اندازه، د دې مادې په (۱) فقره کې له درج شوو مقاديرو څخه لږ وي، د قانون د حکمونو مطابق، د قضيې ابتدائيه رسيد گي په مرکز او ولايتونو کې د ابتدائيه محکمو او استيناف محکمو د عامه امنيت د ديوانونو واک دی".**

## درېیمه فرعه: په استینافي پړاو کې له مخدره توکو سره د مبارزې جرمونو ته د رسیده ګۍ محکمې:

د مخدره توکو جرمونو ته استینافي رسیده ګي هم د استیناف له محکمو څخه د یوې لخوا صورت نیسي، چې عبارت دي له: ۱- د مخدره توکو او مسکراتو له جرمونو سره د مبارزې محکمه. ۲- د ولایتونو د استنیاف محکمو د امنیت دیوانونه.

**۱- د مخدره توکو او مسکراتو له جرمونو سره د مبارزې استیناف محکمه:** لکه څنګه چې وړاندې ذکر شول، له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون د اووه لسمې مادې د (۱) فقرې په ۱ تر ٦ جزؤنو کې درج شوو جرمونو ته رسیده ګي په لومړنۍ مرحله کې د مخدره توکو او مسکراتو له جرمونو سره د مبارزې د ابتدائیه محکمې صلاحت او په دویمه مرحله کې د مخدره توکو او مسکراتو جرمونو د استناف محکمې واک دی.

د نوموړي قانون د اووه لسمې مادې (۲) فقره په دې اړه داسې صراحت لري: "**د مخدره توکو او مسکراتو له جرمونو سره د مبارزې د استیناف محکمه، د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو جرمونو د استینافي رسیدګۍ واک لري.**"

نوټ: د پورته مادو له مطالعه کولو څخه وپوهېدو چې د مخدره توکو او مسکراتو جرمونو ته د رسیدهګۍ ځانګړې محکمې هم په ابتدائیه پړاو او هم په استینافي مرحله کې شتون لري.

**۲- د ولایتونو د استنیاف محکمې:** لکه څنګه چې وړاندې مو وویل: که چېرې د مخدره توکو د مؤلدو نباتاتو د کرنې مساحت او یا د مخدره توکو او مسکراتو اندازه د اووه لسمې مادې د (۱) فقرې په ۱ تر ٦ درج شوو جزؤونو کې له درج شوو اندازو څخه کم وي، د قضیې ابتدائیه رسیده ګي د ابتدائیه محکمو د عامه امنیت دیوانونو واک او د نوموړو قضیو استینافي رسیدګي د ولایتونو د استیناف محکمو صلاحیت دی.

له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون د اوولسمې مادې (۴) فقره په دې اړه داسې صراحت لري: «**د ولایتونو د استیناف محکمې د دې مادې په (۳) فقره کې د درج شوو جرمونو د استینافي رسید ګۍ واک لري**».

## څلورمه فرعه: د فرجام غوښتنې په پړاو کې د مخدره توکو سره د مبارزې جرمونو ته د رسیدګۍ دیوان:

په استینافي پړاو کې، له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون د اوولسمې مادې له (۵) فقرې سره سم: «**د سترې محکمې د عامه امنیت دیوان د فرجام غوښتنې په پړاو کې د مخدره توکو او مسکراتو د جرمونو د رسیدګۍ واک لري**».

## د لومړۍ برخې پایلیزه:

د مخدره توکو او له مخدره توکو سره د مبارزې ملي او نړیوالو سرچینو په اړه له بحث او بررسۍ وروسته او د ۱۳۹٦ کال له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون د ۱۲ تر ۱۷ مادو له تحلیل وروسته، له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې ادارو، د مخدره توکو د تنظیموونکو ادارو او د مخدره توکو او مسکراتو جرمونو ته د رسیدګۍ ادارو په اړه لاندې پایلو ته ورسېدو:

۱- مخدره توکي، هغه هغه خام یا جوړ شوي مواد دي چې تحریکوونکي یا تسکینوونکي عناصر لري، له طبي او صنتي مواردو پرته کارول او د هغوی مصروفول د مصرفوونکي د معتاد کېدو او د ماغزو د هوښیارۍ په کچه کې د ګډوډۍ لامل ګرځي او پر شخص او ټولنه باندې د هغه جسمي، روحي یا ټولنیز ضررونه را څرګندېږي". مخدره توکي د ۱۳۹٦ کال له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون د دریېمې مادې په ۱ جزء کې داسې تعریف شوي دي: «مخدره توکي: هغه نباتات، توکي یا مرکبات دي چې د دې قانون په (۱، ۲، ۳ او ۴) ګڼه منضمه جدولونو کې تنظیم او تصنیف شوي دي».

۲- په ملي برخه کې مخدره توکو سره د مبارزې ډېر شمېر سرچینې شتون لري چې پر اساسي قانون، عادي قوانینو، لاربښودونو او کړنلارو مشتمل دی؛ په دې برخه کې نافذ قوانین د ۱۳۹٦ کال د کب د میاشتې په ۵مه نېټه په ۱۲۸۴ ګڼه رسمي جریده کې خپور شوی له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون او د ۱۳۹۳ کال د غویي د میاشتې په ۱۵مه نېټه په ۱۱۳۲ ګڼه رسمي جریده کې خپور شوی د جزایي اجراآتو قانون څخه عبارت دي. د نوموړو قوانینو سربېره، ځینې لاربښوونې او کړنلارې د مخدره توکو د تنظیم کمېټې لخوا برابرې شوې دي چې په دې روزنیزه رساله کې د څلورو لاربښوونو او درې کړنلارو څخه یادونه شوې ده.

۳- په نړیواله برخه کې، د مخدره توکو په اړه درې مهم سندونه شتون لري چې د ۱۹٦۱ کال له یوازیني پروټوکول، د ۱۹۷۱ کال د د روان اړوونکو درملو کنوانسیون او د ۱۹۸۸ کال د ویانا

ترون لیک یا په ویانا کې د ۱۹۸۸ زیږدیز کال په ډسمبر میاشت کې تصویب شوی د مخدره توکو او روان اړوونکو درملو د قاچاق پر وړاندې د مبارزې لپاره د ملګرو ملتونو ترون لیک څخه عبارت دي.

٤- په افغانستان کې د مخدره توکو سره د مبارزې، د مخدره توکو د تنظیم او د مخدره توکو جرمونو ته د رسیدګۍ اداري له: د مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې وزارت، د مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې عالي کمېسیون، د مخدره توکو او مسکراتو د تنظیم کمېټې، د مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې پولیسو، د مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې څارنوالیو او د مخدره توکو او مسکراتو جرمونو ته د رسیدګۍ محکمو څخه عبارت دي.

٥- له مخدره توکو سره د مبارزې وزارت د مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې چارو د همغږي کولو، د مخدره توکو د کنټرول د ملي ستراتیژۍ د تطبیق او د هغوی اړوندې پالیسیو او له هغوی څخه د څارنې مسؤولیت د نورو وزارتونو او اړوندو اداره په همکارۍ پر غاړه لري چې اوسمهال نوموړی وزارت منحل او له کورنیو چارو وزارت سره مدغم شوی دی او دا مسؤولیتونه د کورنیو چارو وزارت له مخدره توکو سره د مبارزې معینیت ته انتقال شوي دي.

٦- په ۱۳۹٦ کال کې تصویب شوی مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون د همدې قانون د غوره اجراء لپاره مخدره توکو سره د مبارزې عالي کمېسیون تشکیل پیشبیني کړی دی. نوموړی کمېسیون یو رئیس او ۲۴ غړي لري. ولسمشر یا د هغه له مرستیالانو څخه یو د نوموړي کمېسیون په رأس کې قرار لري، د ټولو وزارتونو وزیر پرته د ټرانسپورټ او قومونو او قبایلو وزارتونو څخه، لوی څارنوال او د سترې محکمې د عمومي جزا دیوان رئیس، د ملي امنیت د لوی ریاست رئیس، د سیمه ییزو ارګانونو د خپلواکې اداري رئیس، د ژوند کولو چاپېریال د اداري عمومي رئیس او د افغانستان د مرکزي بانک عمومي رئیس د مخدره توکو سره د مبارزې عالي کمېسیون غړي دي. د عالي کمېسیون د اداري او سکرتریت چارو پر مخبېول د قانون تنفیذ ارګانونو سره د همغږۍ

ریاست په غاړه دي. د مخدره توکو سره د مبارزې عالي کېمسیون دندې او واکونه د ۱۳۹۶ کال له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون په شپږمه ماده کې تصریح شوي دي.

۷- له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې عالي کمېسیون سربېره، د مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې ولایتي او د ولسوالۍ کمېسیونونه د والیانو او ولسوالو تر ریاست لاندې تشکیل شوي دي.

۸- د مخدره توکو د تنظیم کمېټه د ۱۳۸۴ کال د مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې په قانون کې د هغه دندې او واکونه تصریح شوي دي.

۹- د مخدره توکو جرمونو ته د رسیدګۍ مراجع له پولیسو، څارنوالیو او محکمو څخه عبارت دي؛ له مخدره توکو سره د مبارزې پولیس ځانګړي پولیس دي چې دندې او واکونه یې له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون په ۱۳مه ماده کې تصریح شوي دي. همدارنګه د نوموړي قانون څوارلسمې مادې د کورنیو چارو وزارت مکلف کړی ترڅو له مخدره توکو سره د مبارزې او د قاچاقبرانو د نیولو، د مخدره توکو د ضبطولو، د کرنې تخریبولو او نورو د اړتیا وړ اقداماتو نیولو په منظور د مخدره توکو سره د مبارزې ځانګړې قطعه یې د نوموړي وزارت له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې د ځانګړو پولیسو قطعه رامنځته کړي. نوموړې قطعه د واک او موقف له پلوه د مخدره توکو سره د مبارزې پولیسو د مرکزي اداري تابع ده.

۱۰- له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې پولیسو او د هغه د ځانګړې قطعې ترڅنګ، له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون نورې مراجع هم تنظیم کړي دي چې کولای شي د مخدره توکو او مسکراتو د قاچاق مظنونین ونیسي او غیرقانوني مخدره توکي، وسایل او تجهیزات او د هغه په تولید کې کارېدونکي مواد ضبط کړي، دا مراجع د دې قانون د ۱۵مې مادې له (۱) فقرې سره سم له سرحدي پولیسو او نورو ملي پولیسو، د ملي امنیت مؤظفینو، د ګمرکونو د مؤظفو کارکوونکو او د ملي دفاع وزارت له مؤظفینو څخه عبارت دي.

۱۱- د مخدره توکو په جرمونو کې د څېړنې او د دعوي د اقامې واک له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون له شپاړلسمې او اووه لسمې مادې سره سم د مخدره توکو د اندازې او د کرنيزې ځمکې د مساحت له پلوه د ولايتونو څارنواليو او له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې ځانگړې څارنوالۍ ته وېشل شوي چې هره يوه يې په خپله ساحه کې خپلې دندې او واکونه لري.

۱۲- د مخدره توکو او مسکراتو جرمونو اړوندو قضيو ته د رسيدگۍ صلاحيت د ځانگړو محکمو او ناځانگړو محکمو ترمنځ وېشل شوي چې عبارت دي له:

- د مخدره توکو له جرمونو سره د مبارزې ابتدائيه محکمه چې په ابتدائيه مرحله کې له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون د اووه لسمې مادې په (۱) فقره کې درج شوي د مخدره توکو جرمونو ته د رسيدگۍ صلاحيت لري.
- د ابتدائيه محکمو د عامه امنيت ديوانونه چې په ابتدائيه پړاو کې له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون د اوولسمې مادې په (۳) فقره کې درج شوي د مخدره توکو جرمونو ته د رسيدگۍ واک لري.
- د مخدره توکو او مسکراتو له جرمونو سره د مبارزې استيناف محکمه چې په استينافي پړاو کې له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون د اووه لسمې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو جرمونو ته د رسيدگۍ صلاحيت لري.
- د ولايتونو د استيناف محکمې، چې په استينافي پړاو کې له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون د اوولسمې مادې په (۳) فقره کې د مخدره توکو درج شوو جرمونو ته د رسيدگۍ صلاحيت لري.
- د فرجام خواهۍ په مرحله کې د سترې محکمې د عامه امنيت ديوان د مخدره توکو او مسکراتو جرمونو ته د رسيدگۍ صلاحيت لري.

# دویمه برخه

# د مخدره توکو د قاچاق جرمونه

## موخې:

د دې برخې په پایه کې به ګډونوال وتوانېږي چې:

- د مخدره توکو د قاچاق مفهوم واضح کړي؛
- د مخدره توکو د قاچاق جرمونه لیست کړي؛
- د مخدره توکو د قاچاق جرم عناصر تشخیص کړي؛ او
- د مخدره توکو د قاچاق اړوند جرمونو مرتکبینو ته مجازات په ګوته او تطبیق کړي.

**عنوانونه:**

۱. د مخدره توکو د قاچاق مفهوم.

۲. د مخدره توکو د قاچاق جرم ارکان.

۳. د مخدره توکو د قاچاق جرم جزاګانې.

# دویمه برخه

## د مخدره توکو د قاچاق جرمونه

د نومورې روزنیز رسالې دویمه برخه کې درې مبحثونه شامل دي: په لومړي مبحث کې د مخدره توکو د قاچاق جرم مفهوم، په دویم مبحث کې د مخدره توکو د قاچاق جرم عناصر او په درېیم مبحث کې د مخدره توکو د قاچاق مجازات بیانېږي.

### لومړی مبحث: د مخدره توکو د قاچاق مفهوم:

په دې مبحث کې لومړی د قاچاق حقوقي لغوي او اصطلاحي تعریف او بیا په دوو ویناوو کې د افغانستان په قوانینو کې د مخدره توکو د قاچاق مفهوم واضح کېږي:

### لومړۍ وینا: د قاچاق لغوي او اصطلاحي تعریف:

په دې وینا کې لومړی د قاچاق اصطلاح لغوي معنی او بیا د حقوقپوهانو په اصطلاح کې د هغه معنی بیانېږي.

### لومړی مطلب: د قاچاق لغوي تعریف:

د قاچاق اصطلاح په اصل کې ترکي ریښه لري او په قاموسونو او فارسي فرهنګونو کې داسې تعریف کړې ده: " قاچاق وړل شوی، وړل شوی او هغه څه چې هېواد ته د هغه را ننوتل یا د دولت له لورې د هغه معامله منع ده[1].

په عمید فرهنګ کې قاچاق داسې تعریف شوی دی: "قاچاق له ترکي ژبې څخه اخیستل شوې ، تېزي کول، هغه کار چې په پټه او په چټکۍ سره ترسره شي، هغه اجناس پېرل یا پلورل چې هغوی واردولو یا صادرول ممنوع دي"[2].

---

[1] - لغتنامۀ دهخدا، سرواژۀ «قاچاق».

[2] - فرهنگ عمید، سرواژۀ «قاچاق»، ص: ۷۸٤.

د اقتصاد په علم کې په مشخص ډول د هغو اجناسو واردولو او خارجولو چې په پټه توګه د هېواد له پولو وارد یا خارج شي، ته قاچاق وايي. اقتصادي اجناسو ته چې د قاچاق وړ ګرځي، د قاچاق اجناسو نوم ورکوي. هغه شخص یا اشخاص چې د قاچاق په ترسره کولو لاس پورې کوي، ورته قاچاقچي یا سوداګر وايي[1].

## دویم مطلب: په حقوقي اصطلاح کې د قاچاق تعریف:

"د ګمرکونو سرغړونو او تجسس څخه د مخنیوي په منظور د اداري متقابلو مرستو نړیوال کنوانسیون[2]" کې چې د ۱۹۷۷ کال د اکتوبر په میاشت کې تصویب شوی دی، په نایروبي هېواد کې د ګمرکونو د همکارۍ شورا داسې تعریف کړی دی:

د نوموړي کنوانسیون د لومړۍ مادې (ت) بند سره سم: "د قاچاق اصطلاح له هغه ګمرکي تقلب څخه عبارت ده چې په کې له ګمرکي پولو څخه په هره طریقه د اجناسو په پټه توګه تېرول دي".[3] چې په دې وسیله شخص د ګمرک د سرغړونې او د واردېدو یا صادرېدو اړوندو عوارضو او مالیاتو د ټول یا یو یوې برخې پیسو ورکړې څخه د تېښتې یا یې د ګمرکي چارو د قانون موضوع د ممنوعیتونو او محدودیتونو اجراء کول نا لیدلي ونیسي او یا د ګمرکي چارو قانون مخالفې ګټې ترلاسه کړي.

د قاچاق د دقیق حقوقي تعریف له وړاندې کولو څخه مخکې باید وویل شي چې د (قاچاق) د جرم انګارۍ اصلي معیار – که د مخدره توکو یا نورو اجناسو قاچاق وي – د زیان اصل (Harm Principle) دی. هر دول د هغه عمل د جرم انګارۍ لپاره چې نورو ته د زیان د واردېدو یا د نا منلو وړ خطر باعث ګرځي، زیات توجیهات لري.

د قاچاق په جرم انګارۍ کې کېدلای شي د زیان واردېدل هم ټولنه او هم دولت مشاهده کړي؛ د بېلګې

[1] - وبپاڼه: ویکی پدیا، دانشنامهٔ آزاد. https://fa.wikipedia.org/wiki/%D٩٪٨٢٪D٨٪A٧٪DA%٨٦٪D٨٪A٧٪D٩٪٨٢

١. INTERNATIONAL CONVENTIONON MUTUAL ADMINISTRATIVE ASSISTANCEFOR THE PREVENTION, INVESTIGATIONAND REPRESSIONOF CUSTOMS OFFENCES (Nairobi, ٩ June ١٩٧٧)

٢.Article ١: (d) the term "smuggling" means Customs fraud consisting in the movement of goods across a Customs frontier in any clandestine manner.

په ډول د څارنو له اِعمال څخه تېښته او د قانوني مجوزونو نه ترلاسه کول، د خپلو عوایدو (گمرکي عواید) له یوې برخې څخه د دولتونو محرومول.... او داسې نور.

هغه څه ته په توجه سره ویلای شو چې د قاچاق اصطلاح په حقوقي اصطلاح کې په عام مفهوم سره دا ډول تعریفوو: **"قاچاق، د قانوني تشریفاتو له رعایتولو پرته هېواد ته د اجناسو واردول یا د هغه صادرول دي په داسې ډول چې د دولت لخوا د مقرر شوو عوارضو یا مالیاتو له ورکړې څخه په تېښته او یا له قانوني څارنو څخه په تېښته تمام شي"**[1].

## دویمه وینا: د افغانستان په قوانینو کې د مخدره توکو د قاچاق مفهوم:

د افغانستان جزا کود د ۲۹۹مې مادې په ۲ جزء کې د مخدره توکو او روان اړوونکو درملو قاچاق تعریف کړی دی. همدارنگه له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون چې له جزا کود وروسته نافذ شوی، د مخدره توکو قاچاق یې د درېیمې مادې په دویم جزء کې داسې تعریف کړی دی: «**د مخدره توکو قاچاق: د مخدره توکو د مؤلدو نباتاتو کرل یا د دې قانون په (۱، ۲، ۳ او ۴) گڼه منضمه جدولونو کې د درج شوو مخدره او روان اړوونکو توکو یا د هغوی څخه د جوړ شوي مرکب تولید، برابرول، پروسس، پېرل، پلورل، ساتنه، وېش، کمېشنکاري، واردات، صادرات، لېږد رالېږد (ترافیک)، وراندې کول، کارول (استعمالول)، زېرمه کول یا پټول یا په دې قانون کې د درج شوي جواز لیک او اجازه لیک څخه پرته د روان اړوونکو او توکو په ناقانونه تولید او ترکیب کې د کارولو په منظور د دې قانون په (۴) گڼه منضمه جدول کې د درج شوې هرې اولیه کیمیاوي مادې (پریکرسر) په هکله فعالیت، دی**»[2].

له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون، د مخدره توکو قاچاق د هغه په قانوني اصطلاح کې د په پراخه معنی سره تعریف کړی او هغه اعمال چې د مخدره توکو قاچاق پېژندل کېږي، په دې تعریف کې بیان شوي دي چې د مخدره توکو د قاچاق په تشکیلوونکي عناصرو کې به پرې بحث او څېړنه وشي.

۱- له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون، (۱۲۸۴) گڼه رسمي جریده، د ۱۳۹٦ کال د کب د میاشتې ۵مه نېټه.

## دویم مبحث: د مخدره توکو د قاچاق جرم عناصر:

هر حرم درې عمومي عناصر (قانوني، مادي او معنوي) لري او ځیني جرمونه ځانګړي عناصر هم لري چې غالباً د قانون له نصوصو څخه استنباط کېږي.

### لومړۍ وینا: د مخدره توکو د قاچاق جرم قانوني عنصر:

د جزا کود له ۳۲مې مادې سره سم، «د جرم قانوني عنصر په دې قانون کې د جرمي عمل او د هغه د ټاکلې جزا له تصریح څخه عبارت دی.» د جزا کود له ۳۰۰ تر ۳۲۱ مادې، د قاچاق او د مخدره توکو د قاچاق اړوندو جرمونو قانوني عنصر تشکیلوي؛ په داسې ډول چې د مخدره توکو او روان اړوونکو توکو د قاچاق او د هغه اړوند نورو فعالیتونو جرم په ۳۰۰مه ماده کې، او د هغه ټاکلې جزا د نومړي قانون په ۳۰۱ تر ۳۲۱ مادو کې تصریح شوې ده.

نوټ: د ۱۳۹٦ هجري لمریز کال د کب د میاشتې په ۵مه نېټه په (۱۲۸۴) ګڼه رسمي جریده کې خپور شوی له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون په ۳۳ تر ۵۳ مادو او د ۵۴مې مادې په (۲، ۳ او ۴) فقرو او د ۵۵ تر ۵۸ مادو کې درج شوي حکمونه چې د مخدره توکو او مسکراتو د قاچاق جرمونه او مجازات په بر کې نیسي، د «د ۱۳۹٦ کال د کب د میاشتې په ۱۵مه نېټه په (۱۲۸٦) ګڼه رسمي جریده کې خپور شوی د جزا کود په ۹۱٦مه ماده کې ایزاد په نوم د تقنیني فرمان په واسطه ملغی شوی دی.

### دویمه وینا: د مخدره توکو د قاچاق جرم مادي عنصر:

د جزا کود له ۳۳مې مادې سره سم: «د جرم مادي عنصر د قانون د مخالف عمل له ارتکاب یا د هغه عمل د اجراء له ډډې کولو څخه عبارت دی چې قانون په هغه حکم کړی دی په داسې ډول چې ارتکاب یا ډډه کول په جرمي پایلې تمام شي او د عمل او پایلې ترمنځ د سببیت اړیکه موجوده وي.»

پورته تعریف ته په کتو، د جرم په مادي عنصر کې: فعل/د فعل ترک[1]، پایله او د سببیت اړیکه شامل دي. خو لزوماً دا درې ګوني عناصر د ټولو جرمونو په مادي رکنونو کې شتون نه لري، ځکه چې جرمونه د

[1] - په ځینو مواردو کې لکه د اطلاع نه ورکول او د کرنې په ځمکه کې نه ممانعت.

پایلې د درلودلو یا نه درلودلو له پلوه په پایله لرونکي او نا پایله لرونکي جرمونو وېشل کېږي. په پایله لرونکي جرمونو کې، د پایلې رامنځته کېدل د جرم د تکمیل شرط دی، خو په نا پایله لرونکي جرمونو کې، یوازې د فعل واقع کېدل د هغه د پایلې له رامنځته کېدو پرته، جرم پېژندل کېږي. نا پایله لرونکي جرمونه د فعل جرمونو یا مطلق جرمونو په نوم هم یادېږي.

د مخدره توکو د قاچاق جرم (جبري اعتیاد ته د هڅولو جرم په استثناء سره) له مطلق (ناپایله لرونکي) جرمونو څخه دی. نو د هغه په مادي عناصرو کې مادي کړنه (فعل) او د جرم موضوع شامل دي چې لاندې تشریح کېږي.

## لومړی مطلب: د مخدره توکو د قاچاق په جرم کې مادي کړنه (فعل):

جرمي کړنه د مخدره توکو د قاچاق جرم د مادي عنصر له اجزاوو څخه یو جزء دی، لومړی هغه کړنې چې د مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون د ۳ مادې په ۲ جزء کې او د جزا کود د ۲۹۹مې مادې په ۲ جزء کې د مخدره توکو قاچاق شمېرل شوی دی، ذکر کوو (الف)، بیا دغه کړنې تشریح او توضیح کوو (ب).

**الف-** د هغو کړنو تعریف چې د مخدره توکو د قاچاق جرم تشکیلوي، د ۱۳۹۶ کال له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون د درېیمې مادې په ۲ جزء کې او د جزا کود د ۲۹۹مې مادې په ۲ جزء کې تصریح شوي دي:

نوموړې کړنې د هغه څه مطابق چې د ۱۳۹۶ کال د مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون د درېیمې مادې په ۲ جزء کې تصریح شوي دي، ذکر کوو، ځکه چې دا قانون له جزا کود وروسته نافذ شوی دی:

۱- له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون په (۱، ۲ او ۳) ګڼه منضمه جدولونو کې د درج شوو مخدره توکو او روان اروونکو د مؤلدو نباتاتو کرل؛

۲- له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون په (۱، ۲ او ۳) ګڼه منضمه جدولونو کې درج شوي د مخدره توکو او روان اړوونکو یا له هغوی څخه د جوړ شوي مرکب تولیدول؛

۳- له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون په (۱، ۲ او ۳) ګڼه منضمه جدولونو کې درج شوي د مخدره توکو او روان اړوونکو یا له هغوی څخه د جوړ شوي مرکب برابرول؛

٤- له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون په (۱، ۲ او ۳) ګڼه منضمه جدولونو کې درج شوي د مخدره توکو او روان اړوونکو یا له هغوی څخه د جوړ شوي مرکب پروسس کول؛

٥- له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون په (۱، ۲ او ۳) ګڼه منضمه جدولونو کې درج شوي د مخدره توکو او روان اړوونکو یا له هغوی څخه د جوړ شوي مرکب پېرودل؛

٦- له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون په (۱، ۲ او ۳) ګڼه منضمه جدولونو کې درج شوي د مخدره توکو او روان اړوونکو یا له هغوی څخه د جوړ شوي مرکب پلورل؛

۷- له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون په (۱، ۲ او ۳) ګڼه منضمه جدولونو کې درج شوي د مخدره توکو او روان اړوونکو یا له هغوی څخه د جوړ شوي مرکب ساتل؛

۸- له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون په (۱، ۲ او ۳) ګڼه منضمه جدولونو کې درج شوي د مخدره توکو او روان اړوونکو یا له هغوی څخه د جوړ شوي مرکب وېشل؛

۹- له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون په (۱، ۲ او ۳) ګڼه منضمه جدولونو کې درج شوي د مخدره توکو او روان اړوونکو یا له هغوی څخه د جوړ شوي مرکب کمېشنکاري؛

۱۰- له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون په (۱، ۲ او ۳) ګڼه منضمه جدولونو کې درج شوي د مخدره توکو او روان اړوونکو یا له هغوی څخه د جوړ شوي مرکب واردات؛

۱۱- له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون په (۱، ۲ او ۳) ګڼه منضمه جدولونو کې درج شوي د مخدره توکو او روان اړوونکو یا له هغوی څخه د جوړ شوي مرکب صادرات؛

۱۲- له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون په (۱، ۲ او ۳) ګڼه منضمه جدولونو کې درج شوي د مخدره توکو او روان اړوونکو یا له هغوی څخه د جوړ شوي مرکب لېږد رالېږد (ترافیک)؛

۱۳- له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون په (۱، ۲ او ۳) ګڼه منضمه جدولونو کې درج شوي د مخدره توکو او روان اړوونکو یا له هغوی څخه د جوړ شوي مرکب وړاندې کول؛

۱٤- له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون په (۱، ۲ او ۳) ګڼه منضمه جدولونو کې درج شوي د مخدره توکو او روان اړوونکو یا له هغوی څخه د جوړ شوي مرکب کارول؛
۱۵- له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون په (۱، ۲ او ۳) ګڼه منضمه جدولونو کې درج شوي د مخدره توکو او روان اړوونکو یا له هغوی څخه د جوړ شوي مرکب زېرمه کول؛
۱٦- له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون په (۱، ۲ او ۳) ګڼه منضمه جدولونو کې درج شوي د مخدره توکو او روان اړوونکو یا له هغوی څخه د جوړ شوي مرکب پټول؛
۱۷- له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې په قانون کې د درج شوي جواز لیک یا اجازه لیک څخه پرته د روان اړوونکو او مخدره توکو په ناقانونه تولید او ترکیب کې د کارولو په منظور د دې قانون په (۴) ګڼه منضمه جدول کې د درج شوې هرې اولیه کیمیاوي مادې (پریکرسر) په هکله فعالیت.

**ب- د ۱۳۹٦ کال د مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون د دریېمې مادې په ۲ جزء کې د درج شوو مخدره توکو د قاچاق د جرمي کړنو تشریح:**

- **د مخدره توکو او روان اړوونکو د مؤلدو نباتاتو کرل:** کرل په لغت کې د ځمکې د کرلو، یوې کولو، آماده کولو او د تخم شیندلو په معنی دي[1]. د پام وړ بحث په موضوع کې، له کرلو څخه منظور هر هغه کرنیز عمل دی چې مقصد یې د تخم شیندل او د مخدره مادې ترلاسه کول وي، د کرلو، اوبه کولو، کوډ ورکولو، حاصل ترلاسه کولو، راټولولو او داسې نورو اړوندو کارونو اِعمالول هم د مخدره توکو په کرنه کې شامل دي.
- **تولید:** تولید د کرنې په پرتله پراخه مفهوم لري او په دې کې ټول هغه اعمال شامل دي چې مادې ته وده ورکوي. تولید اکثراً په صنعتي اړخ پورې اړه لري.
- **برابرول:** د مخدره توکو د چمتو کولو، وړاندې کولو او تدارکاتو په معنی دی.
- **پروسس:** بهیر، تدریجي او دوامداره پرمختګ، برابرول او طی مراحل کول.
- **پېرودل:** هغه تړون چې د هغه په موجب مخدره ماده د ثمن (نغدې پیسې یا جنس) په مقابل کې ترلاسه کېږي.

۱- راغب اصفهانی، المفردات، ج ۱، ص ۲۰۰.

- **پلورل:** هغه ژمنه چې د هغه په موجب د ثمن (نغدې پیسې یا جنس) په مقابل کې بل شخص ته ورکول کېږي.
- **ساتل:** هغه خدمتونه چې کاروونکی له هغه ځخه په استفادې کولای شي دوامداره ګټه اخیستنه وساتي او د تمایل په صورت کې دوباره هغه له سر ونیسي.
- **وېشل:** نورو کسانو ته د اجناسو یا خدمتونو رسول.
- **کمېشنکاري:** د پلورونکي او پېرودونکي ترمنځ وساطت، او له یو شخص ځخه بل شخص ته د مخدره توکو د ملکیت د انتقال په مقصد د هغوی د ګټې لپاره کار.
- **واردات:** د افغانستان له باندې ځخه مخدره توکي واردول، که د وچې، سیند یا هوا له لارې وي.
- **صادرات:** له افغانستان ځخه بل هېواد ته د مخدره توکو صادرول.
- **لېږدول:** د مخدره توکو حیازت او تر تسلط لاندې نیول، لېږدول امکان لري څو شکلونه ولري؛ که هغه په لاس نیول شوی وي یا د ځپل بدن په یوې برخه کې ځای پر ځای شوی وي، لکه، جیب، جرابه، چنټه او داسې نور.
- **لېږد را لېږد (ترافیک):** یو ډول لېږد دی لیکن له یو ځای ځخه بل ځای ته له سفر کولو سره یوځای، هغه واټن چې لېږدوونکی یې ووهي یا هغه وسیله چې په هغې سره سفر کوي، مهمه نه ده، ځکه چې امکان لري سفر پیاده وي یا د مرکب یا بلې بېلابېل ډول نقلیه وسیلې په واسطه وي، ولو که شخص ځیني حیوانات د مخدره توکو د انتقال په منظور تربیه کړي ترڅو هغوی وکولای شي په یوازې ځان او د شخص له معیت پرته مخدره توکي انتقال کړي، دا عمل هم نقل ګڼل کېږي، او قاچاقبران اکثره له دې وسیلې ځخه ګټه پورته کوي ترڅو تر تعقیب او اشتباه لاندې ونه نیول شي.
- **وړاندې کول:** د مادې رایجول، که د هغه په وړاندې کولو سره وي یا خلکو ته د هغه د ګټو بیانول وي او یا پېرلو ته د هغوی هڅول وي.
- **کارول:** استعمالول، ترې ګټه اخیستل. مصروفل، چې ورڅخه منظور د مخدره توکو مصرفول دي.
- **زېرمه کول:** ساتل، ذخیره کول، هغه څه چې وساتل شي ترڅو یو ورځ په کار راشي.

- **پټول:** له نظر څخه د مخدره توکو پټول، د مخدره توکو پټول په هره طریقه چې وي؛ که په کوم ځای کې پټ کړل شي یا په خپله د قاچاقبر په بدن کې او یا په نقلیه وسیله کې او داسې نور.
- **د هرې اولیه کیمیاوي مادې (پریکرسر) په اړه فعالیت:** د کارولو فعالیت، کوشش کولو ته وایي.

**اولیه کیمیاوي ماده (پریکرسر):** هغه ماده ده چې د مخدره توکو او روان اړوونکو په تولید یا پروسس کې کارول کېږي او له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون په (۴) ګڼه منضمه جدول کې تنظیم شوې ده[۱].

---

**(٦) شپږم فعالیت**

**مباحثوي پوښتنه:**

که ګډونوال، د جزا کود د ۲۹۹مې مادې په ۲ جزء کې د مخدره توکو د قاچاق درج شوي موارد د ۱۳۹٦ کال له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون د درېیمې مادې په ۲ جزء کې د مخدره توکو د قاچاق له مواردو سره پرتله کړي، وبه موندي چې:

الف) د مخدره توکو انتقال او ارسال، د جزا کود د ۲۹۹مې مادې له ۲ جزء سره سم، د مخدره توکو د قاچاق له مواردو څخه پېژندل شوي دي، په داسې حال کې چې دا دوه کړنې، د مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون د درېیمې مادې له ۲ جزء سره سم د مخدره توکو د قاچاق جرم له مواردو څخه نه دي.

پوښتنه: ولې د ۱۳۹٦ کال د مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون د مخدره توکو انتقال او ارسال د مخدره توکو د قاچاق له مواردو څخه نه دي ګڼلي؟

---

۱- د ۱۳۹٦ کال د کب د میاشتې په ۵مه نېټه په (۱۲۸۴) ګڼه رسمي جریده کې خپور شوی له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون د ۳مې مادې (۷) جزء ته دې مراجعه وشي.

ب) د مخدره توکو کارول، په جزا کود کې د مخدره توکو د قاچاق له مواردو څخه نه دی، خو د ۱۳۹۶ کال د مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې په قانون کې نوموړې کړنه د مخدره توکو د قاچاق له مواردو څخه يو مورد پېژندل شوی دی.

پوښتنه: ولې د ۱۳۹۶ کال د مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون د مخدره توکو کارول قاچاق گڼلی دی؟

ج) جزا کود د ۲۹۹مې مادې په ۲ جزء کې لاندې کړنې د مخدره توکو د قاچاق په حکم کې گڼلې دي:

- د هغو وسايلو او تجهيزاتو جوړول چې د مخدره توکو په کرنه يا توليد کې کارول کېږي.
- د هغو وسايلو او تجهيزاتو لېږد رالېږد چې د مخدره توکو په کرنه يا توليد کې کارول کېږي.
- د هغو وسايلو او تجهيزاتو پير او پلور او توزيع چې د مخدره توکو په کرنه يا توليد کې کارول کېږي.

پوښتنه: پورته ذکر شوې کړنې د ۱۳۹۶ کال د مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون له نظره څه حکم لري؟

## دويم مطلب: د قاچاق جرم موضوع:

د مخدره توکو د قاچاق موضوع څخه منظور هغه څه دي چې دا جرم پرې واقع کېږي. د ۱۳۹۶ کال د مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون د دريمې مادې په ۱ جزء کې صراحت ته په کتو، د مخدره توکو د قاچاق جرم موضوع عبارت ده له «**د ۱۳۹۶ کال د مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون په (۱، ۲، ۳ او ۴) گڼه جدولونو کې درج نباتات، مواد او مرکبونه**»، يا په بل عبارت، د مخدره توکو د قاچاق موضوع له «**مخدره توکو**» څخه عبارت ده. بناءً، که چېرې د مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون د دريمې مادې په ۲ جزء کې درج شوې جرمي کړنې پر « **د ۱۳۹۶ کال د مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون په (۱، ۲، ۳ او ۴) گڼه جدولونو کې درج نباتات، مواد او مرکبونه**» واقع نه شي، نوموړې جرمي کړنو ته د مخدره توکو قاچاق نه شو ويلای. د بېلگې په ډول: د **چاودېدونکو توکو** توليد،

برابرول، پروسس، پیر، پلور، ساتل، توزیع، کمېشنکارۍ، واردات، صادرات، لېږد رالېږد (ترافیک)، وړاندې کول، کارول، زېرمه کول یا پټول د مخدره توکو د قاچاق جرم نه پېژندل کېږي، بلکه بل جلا جرم دی، نوموړې کړنې پر **چاودېدونکو توکو** واقع شوې دي، نه پر مخدره توکو.

باید یادونه وشي چې زیاتې کړنې شتون لري چې د قاچاق ځانګړنه ځانته غوره کوي، خو حتمي نه ده چې هر قاچاق دې د مخدره توکو د قاچاق جرمي ځانګړنه ځانته غوره کړي، بلکه جرمي ځانګړنه د جرم موضوع ته په کتو توپیر کوي؛ د تجارتي مالونو قاچاق، د فحشاګرۍ په موخه د ښځو قاچاق، د وسلې قاچاق او داسې نور، هر یو جلا جرمي ځانګړنه لري. خو هر هغه څه چې په دې روزنیزه رساله کې زموږ د موضوع بحث تشکیلوي، د مخدره توکو قاچاق دی، لکه څنګه چې د مخدره توکو په تعریف کې واضح کړل شول، قانون جوړوونکي ټول مخدره توکي او روان اړوونکي د ۱۳۹٦ کال د مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون په (۱، ۲، ۳ او ۴) ګڼه منضمه جدولونو کې ډلبندي او تنظیم کړي دي چې د مخدره توکو د قاچاق جرم موضوع تشکیلوي.

| **(۷) اووم فعالیت** |
| --- |
| **فرضیه:** |
| که پولید له کوم شخص سره مواد پیدا کړي چې د مخدره توکو په وړاندې کولو کې کارول کېږي، خو نوموړي مواد د مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون په (۱، ۲، ۳ او ۴) ګڼه منضمه جدولونو کې درج شوي نه وي، آیا نوموړی شخص تر عدلي تعقیب لاندې نیول کېږي. |

**پایله او د سببیت اړیکه:**

لکه څرنګه چې وړاندې تصریح شول، د مخدره توکو د قاچاق جرم له نا پایله لرونکي جرمونو څخه دی؛ یعنې د پایلې رامنځته کېدل د مخدره توکو د قاچاق جرم د تکمیل شرط نه دی، له همدې کبله، نوموړی جرم د ۱۳۹٦ کال د مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون د درېیمې مادې په ۲ جزء کې د درج

شوو جرمو کړنو څخه د یوې په اجراء کولو سره بشپړېږي. د بېلگې په ډول: د مخدره توکو پلورل د مخدره توکو د قاچاق له جرمي کړنو څخه یوه دی، دا جرم یوازې د مخدره توکو په پلورلو سره بشپړېږي، او د چا عقل ته د زیان رسول د هغه د تکمیل شرط نه دی.

## درېیمه وینا: د مخدره توکو د قاچاق جرم معنوي عنصر:

د مخدره توکو د قاچاق جرم له عمدي جرمونو څخه دی. نو د هغه معنوي عنصر له علم او ادارې سره یوځای د مادي ارتکاب څخه عبارت دی چې د مادي عنصر ټولو اجزاوو ته متوجه وي. نو په پایله لرونکي جرمونو کې د هغه فعل په اړه علم چې جرم رامنځته کوي، او د جرم د پایلې په اړه علم د هغه د رامنځته کېدو شرط دی، او که چېرې ځانگړی ارکان شتون ولري، له هغه څخه آگاهي هم شرط دی. خو په نا پایله لرونکي جرمونو کې، - لکه د مخدره توکو جرم – د جرم د پایلې په اړه علم د هغه د تکمیل شرط نه دی. (ځکه چې په دې جرمونو کې د عنصر پایله جرم نه دی)، بلک د هغه فعل په اړه علم چې جرم رامنځته کوي او د جرم د ځانگړي ارکانو په اړه علم کافي دی. له همدې کبله، د مخدره توکو د قاچاق جرم مرتکب باید د جرم د مادي عنصر د ټولو اجزاوو په اړه علم ولري. د بېلگې په ډول: د مخدره توکو د انتقال په صورت کې (چې د مخدره توکو د قاچاق جرم گڼل کېږي)، مرتکب باید آگاه وي له دې څخه چې هغه مواد چې انتقالوي یې، مخدره توکي دي؛ پرته له دې، د هغه عمل د مخدره توکو د قاچاق جرم نه گڼل کېږي. لاندې فرضیې ته پام وکړئ.

**(۸) اتم فعالیت**

**فرضي قضیه:**

احمد له کابل څخه کندز ته سفر کوي، د هغه له ملگرو څخه یو کوچنی بیگ چې وزن یې د دوو کیلو گرامو په اندازه کې وو، هغه ته یې ورکړ او ورته یې وویل: په دې بیک کې یوه اندازه وچه مېوه ده، هغه زما ورور ته د کندز په ښار کې تسلیم کړه. پولیس د لارې په اوږدو کې په هغه موټر کې چې احمد په کې سپور وو، تلاشي کوي او بیک پرانیزي او ویني چې په هغه کې مخدره توکي ځای پر ځای شوي دي. آیا احمد د مخدره توکو د قاچاق په ارتکاب د عدلي تعقیب وړ دی یا نه؟

لنډه دا چې د مخدره توکو د قاچاق جرم له عمدي جرمونو څخه دی، سربېره پردې چې مرتکب د جرم د ارتکاب قصد لري؛ باید د جرم د موضوع په اړه علم ولري او هغه فعل چې جرم رامنځته کوي، په آزادۍ ارادې او له جبر او اکراه پرته ترسره شوی وي.

د عمل د جرم والي په اړه د مرتکب علم او آګاهي شرط نه دی، ځکه چې د قانون د حکمونو په اړه علم یو فرض شوی عمل دی. لاندې فرضیې ته پام وکړئ.

**(۹) نهم فعالیت**

**فرضیه:**

د شاکر له ملګرو څخه یو، یوه اندازه مخدره توکي د هغه کور ته راوړل او ورته یې وویل: دا توکي په خپل کې کښېږده، زه د راتلونکې جمعې په ورځ راځم او درڅخه یې بېرته اخلم. شاکر د دې سربېره چې پوهېده دا توکي، مخدره توکي دي، خو نه پوهېده (علم یې نه درلود) چې د مخدره توکو ساتل قانون جرم پېژندلی دی، آیا شاکر د مخدره توکو د قاچاق په جرم د عدلي تعقیب وړ دی؟

## درېیم مبحث: د مخدره توکو د قاچاق جزا:

په دې مبحث کې دوه ویناوې شاملې دي؛ په لومړۍ وینا کې، اصلي جزاګانې او تبعي جزاګانې بیانېږي او په دویمه وینا کې د هغو جرمونو جزا چې د مخدره توکو تر قاچاق لاندې قرار نه لري، خو د هغې اړیکې په سبب چې د مخدره توکو د قاچاق له جرم سره یې لري، تشریح کېږي.

## لومړۍ وینا: د مخدره توکو د قاچاق اصلي جزا او تبعي جزا:

د مخدره توکو قاچاق د جزا کود په ۳۰۰ تر ۳۲۱ مادو کې جرم انګاري شوی او جزا یې ټاکل شوې ده. د مخدره توکو د قاچاق د جرم جزا د قاچاق شوو توکو له ډول او کمیت سره سم توپیر لري. د مخدره توکو د قاچاق د جرم جزا کې اصلي جزا (حبس او نغدي جزا)، تبعي جزا او تکمیلي جزا (مصادره) شاملې دي.

**لومړی مطلب: د مخدره توکو د قاچاق د جرم اصلي جزاګانې:**

د جزا کود کې د مخدره توکو د قاچاق د جرم اصلي جزاګانې لاندې حالتونه لري.

۱. د مخدره توکو او روان اړوونکو توکو د مؤلدو نباتاتو د کرنې جزا. د جزا کود ۳۰۱ مه ماده.
۲. د هیروئینو، مورفینو او کوکائینو د قاچاق جزا. د جزا کود ۳۰۲مه ماده.
۳. د اسیتیک آنهایدرایت او سنتیتیک د قاچاق جزا. د جزا کود ۳۰۳مه ماده.
٤. د تریاکو د قاچاق جزا. د جزا کود ۳۰۴مه ماده.
٥. د چرسو د قاچاق جزا. د جزا کود ۳۰۵مه ماده.
٦. د مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې او د هغه د کنټرول قانون په جدولونو کې د درج شوو توکو د قاچاق جزا. د جزا کود ۳۰٦مه ماده.
۷. د مالک او په ګروی اخیستونکي شخص مجازات. د جزا کود ۳۰۷مه ماده.

وضاحت:

له پورته اوو مواردو له جملې، دوه موارد یې (د جزا کود ۳۰۱ او ۳۰٦ مادې) وضاحت ته اړتیا لري. نور موارد واضح دي.

**الف) د جزا کود د ۳۰۱مې مادې وضاحت:**

د جزا کود په ۳۰۱مه ماده کې، دوه ټکي د بحث وړ دي:

لومړی: د جزا کود د ۳۰۱مې مادې (۱) او (۲) فقرو ته په کتو، هغه شخص چې د ځمکې مالک نه وي او د بزګر په توګه ځمکه د خپل ځان یا مالک، ګرو کوونکي یا اجاره کوونکي لپاره بنګ دانه، خشخاش یا کوکا وکري، د کرنیز ځمکې مساحت ته په پام مجازات کېږي.

د ځمکې مساحت او د جزاګانو اندازه په نوموړو فقرو کې بیان شوي دي چې د هغه تکرار ته اړتیا نه لیدل کېږي، خو د یادونې وړ ټکی دا دی چې بزګر هیڅکله نه شي کولای د بل شخص ځمکه د هغه له اجازې پرته وکري، بلکه د ځمکې مالک، ګرو نیوونکی یا اجاره اخیستونکی هغه کسان دي چې برګز یې د بنګ

داني، خشخاشو یا کوکا کرلو لپاره گمارلی دی خو هغوی ولې په نومړو فقرو کې په درج شوو جزاگانو نه مجازات کېږي؟ آیا ستاسو په نظر دا یوه ستونزه نه ده؟ تاسو کولای شئ د دا ډول ستونزې د حل لپاره د جزا کود د ۳۰۷مې مادې (۱) فقرې ته مراجعه وکړئ.

**(۱۰) لسم فعالیت**

**فرضیې:**

د جزا کود د ۳۰۷مې مادې (۲) فقره په سمه توگ مطالعه کړئ او لاندې فرضیو ته ځواب ورکړئ.

لومړۍ فرضیه: (الف) شخص د خپل د ملکیت ځمکه (ب) شخص ته د غنمو د کرلو لپاره په اجاره ورکوي، خو (ب) شخص په هغه بنگ دانه وکرله. (الف) شخص له دې موضوع څخه خبربږي، خو ممانعت نه کوي او مسؤولو مراجعو ته هم خبر نه ورکوي. په دې قضیه کې څوک د مخدره توکو د قچاق په جرم مرتکب شوي دي؟

دویمه فرضیه: (ج) شخص د خپل ملکیت ځمکه (د) شخص ته د پنبې د کرلو په منظور په اجاره ورکوي، خو اجاره اخیستونکی پر هغه خشخاش وکرل. (ج) شخص له دې موضوع څخه خبر شو او مسؤولو مراجعو ته یې خبر ورکړ، په دې قضیه کې څوک د مخدره توکو د قاچاق په جرم مرتکب شوي دي؟

دریمه فرضیه: (هـ) شخص د خپل ملکیت ځمکه (و) شخص ته د وریجو د کرلو په منظور په گرو ورکوي. (و) شخص هغه د (ز) شخص په واک کې ورکوي ترڅو له هغه څخه د خپل معیشت د امرارو لپاره وکاروي. (ز) شخص پر هغه ځمکه کوکا وکرله. د ځمکې مالک ممانعت نه کوي، خو گرو نیوونکی ورته وایي: ستاسو ځمکه له ما سره گرو ده، نو تاسو د مداخلې حق نه لرئ. د ځمکې څښتن چپ پاتې شو او مسؤولو مراجعو ته یې خبر ور نه کړ. په دې قضیه کې څوک د مخدره توکو د قاچاق په جرم مرتکب شوي دي؟

دويم: د جزا کود د ۳۰۱مې مادې (۳) فقره: "(۳) که چېرې د کرنې عمل د دې مادې په (۱ او ۲) فقرو کې په درج شوو احوالو کې د مالک، گرو اخيستونکي يا اجاره اخيستونکي په واسطه ارتکاب شي، مرتکب د کروندې مساحت ته په پام سره، د دې په (۱ او ۲) فقرو کې د پېشبيني شوو مجازاتو په دوه چنده محکومېږي".

**(۱۱) يوولسم فعاليت**

**فرضي قضيه:**

د جزا کود د ۳۰۱مې مادې (۳) فقره په دقت سره مطالعه کړئ او لاندې پوښتنې ته ځواب ورکړئ:

(x) شـــخص چې د ځمکې مالک دی، په خپله اووه بســـوې ځمکه باندې يې بنگ دانه کرلې ده، او (y) شـخص چې هم د خپلې ځمکې مالک دی، په خپلې يوې بسـوې ځمکه باندې يې خشـخاش کرلي دي. محکمه غواړي د بنگ دانې کروونکی په نغدي جزا او د خشـــخاش کروونکی په حبس محکوم کړي، د هر يو جزا د جزا کود د ۳۰۱مې مادې په (۳) فقره او د جزا کود د ۳۰۱مې مادې د (۱) فقرې په (۱) جزء او (۲) فقرې په (۱) جزء کې له درج شوي حکم سره سم مشخصه کړئ؟

**ب) د جزا کود د ۳۰٦مې مادې وضاحت:**

د جزا کود په ۳۰٦مه ماده کې، د مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې او د هغوی د کنټرول قانون له جدولونو څخه يادونه شوې ده، خو نوموړی قانون اوسمهال ملغی دی او د هغه ځای د ۱۳۹٦ کال د مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون (چې له جزا کود وروسته نافذ شوی) نيولی دی او د مسکراتو او مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې او د هغوی د کنټرول قانون جدولونه د ۱۳۹٦ کال له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون ته انتقال شوي دي. له همدې کبله، د جزا کود په ۳۰٦مه ماده کې پېشبيني شوې جزاگانې د ۱۳۹٦ کال له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون په جدولونو کې د درج شوو توکو پر قاچاق د تطبيق وړ دي.

## دویم مطلب: د مخدره توکو د قاچاق د جرم تبعي جزا:

د جزا کود له ۱۷۱ مې مادې سره سم، «تبعي جزا هغه مجازات دي چې له اصلي جزا څخه په تبعیت سره پر محکوم علیه د قانون په حکم تطبیقېږي، پرته له دې چې د محکمې په حکم کې پر هغې تصریح شوې وي.»

**(۱۲) دوولسم فعالیت**

**مباحثوي پوښتنه:**

د جزا کود په ۳۰۱ تر ۳۰۷ مادو کې درج شوې جزاګانې په دقت مطالعه کړئ او وواياست چې د مخدره توکو د جرمونو مرتکبین په کومو مواردو کې د اصلي جزا سربېره، په تبعي جزا هم محکومېږي.

## درېیم مطلب: د مخدره توکو د قاچاق جرم تکمیلي جزا:

قانون جوړوونکي د اصـــلي او تبعي جزا سربېره تکمیلي (مصـــادره) جزا هم د مخدره توکو د قاچاق جرمونو ته پېشبیني کړې ده. تر دې عنوان لاندې، لومړی د مصادرې عمومي حکمونه، بیا د مخدره توکو د جرم اړوندو وجوهو او شتمنو مصادره توضیح کوو.

**الف) د مصادرې عمومي حکمونه:**

- د مصادرې په اړه یوازې په هغو مواردو کې چې په قانون کې پېشبیني شوي وي، حکم کېدلای شي.
- په مصادره کې د محکوم علیه منقول او غیر منقول مالونه او نور جرمي شیان شامل دي.
- د محکوم علیه ملکیت چې د اعاشې، اباتې او د هغه او د هغه د کورنۍ د اړتیا وړ د معیشت د تأمین نور لګښتونه نه شي مصادره کېدلای.
- په مصادره حکم، د ثالث اشخاصو حقوق چې حسن نیت ولري، نه ګډوډوي.

**ب)د مخدره توکو د جرمونو اړوندو وجوهو او شتمنیو مصادره:**

د مخدره توکو د جرمونو اړوندو وجوهو او شتمنیو مصادره د ۱۳۹۶ کال له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون په ۳۲مه ماده او د جزا کود په ۳۰۸مه ماده کې پېشبيني شوې ده.

له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون د ۳۲مې مادې د حکم پر بنسټ، ټول هغه منقول او غیر منقول وجوه او شتمنۍ چې د مخدره توکو او مسکراتو جرمونو په ارتکاب کې کارول شوي يا د هغه له ارتکاب څخه ترلاسه شوي او يا د هغه د ارتکاب په قصد برابر شوي وي، مصادره کېږي.

**(۱۳) دیارلسم فعالیت**

**گروپي کار:**

گډونوال دې په درې کاري گروپونو ووېشل شي او د مخدره توکو د قاچاق جرمونو اړوندو وجوهو او شتمنیو د مصادرې په اړه لاندې موارد تر بحث او څېړنې لاندې ونيسي:

- د جزا کود ۳۰۸مه ماده د ۱۳۹٦ کال له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون له ۳۲مې مادې سره پرتله کړئ او لاندې پوښتنو ته ځواب ورکړئ:

الف- د دوو پورته ذکر شوو مادو ترمنځ، څه توپيرونه شتون لري، ويې ليکئ؟

ب- له پورته ذکر شوو دوو قوانينو څخه کوم يو پخواى او کوم يو لاحق او اوسنى دى، آيا پخواني قانون ته اعتبار ورکول کېږي يا که لاحق او اوسني قانون ته؟

ج- له پورته ذکر شوو مادو څخه کومه يوه د مخدره توکو د جرمونو اړوندو وجوهو او شتمنیو د مصادرې په اړه د تطبيق وړ ده؟

د- مصادره له تکميلي جزاگانو څخه يوه ده او د جزا کود ۷مې مادې تصريح کړې ده چې هيڅ جزا نه شي تطبيق کېدلاى خو دا چې په جزا کود کې تصريح شوې وي. آيا د مصادرې جزا چې د ۱۳۹٦ کال له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون په ۳۲مه ماده کې پېشبيني شوې ده، د تطبيق وړ ده؟

**(۱۴) څوارلسم فعالیت**

**فرضي قضیه:**

که مالک، خپل ځمکه یا تعمیر د مجاز فعالیتونو په منظور په اجاره یا کرایه ورکړي، خو اجاره نیوونکی یا کرایه نیوونکی له ځمکې یا تعمیر څخه د مخدره توکو د جرمونو د ارتکاب په قصد ګټه پورته کړي، او د ځمکې یا تعمیر مالک د دې موضوع څخه د خبرېدو سربېره ممانعت ونه کړي او مسؤولې مراجع هم خبرې نه کړي، آیا د هغه ځمکه یا تعمیر مصادره کېږي؟

نوموړې پوښتنې ته په ځواب کې، له لاندې مادو څخه مرسته واخلئ:

- د جزا کود د ۳۰۷مې مادې (۲) فقره.
- د جزا کود د ۱۸۲مې مادې (۲) فقره.

**دویمه وینا: هغه حالتونه چې له نورو جزاګانو سره یوځای د مخدره توکو د قاچاق د جرم جزا د تطبیق وړ ده:**

د اصولو له مخې د جرمونو د معنوي تعدد او همدارنګه د هغه مادي تعدد په حالت کې چې د تجزیې وړ نه دی، جزاګانې له یو او بل سره تداخل کوي او د جزاګانو له منځه یوازې شدیدې یې پر مرتکب تطبیق کېږي؛ خو احیاناً قانون جوړوونکي د نوموړې قاعدې برخلاف او د جزا د تشدید په منظور جزاګانې د جمع وړ ګڼي او د هغوی مجموعه پر مرتکب د تطبیق وړ ګڼي. لاندې دا حالتونه څېړل کېږي.

## لومړی مطلب: د مخدره توکو او روان اړوونکو توکو د قاچاق د جرم د ګماروونکي جزا:

**الف)** د جزا کود د ۳۱۰مې مادې (۱) فقرې ته په کتو، " **(۱) هغه شخص چې بل څوک له اکراه او اجبار پرته د مخدره موادو او روان اړوونکو موادو د قاچاق د جرمونو د ارتکاب په منظور استخدام کړي، د جرم پر اصله جزا برسېره له احوالو سره سم په متوسط حبس او په هغه صورت کې چې له اکراه او اجبار سره یوځای وي تر لسو کلونو پورې په طویل حبس محکومېږي**".

په پورته فقره کې، دوه ډوله جزاګانې د استخدام کوونکي لپاره پېشبیني شوې دي؛ د مخدره توکو د قاچاق د جرم جزا او د مخدره توکو د قاچاق د جرمونو د ارتکاب په منظور د شخص د استخدامولو جزا.

**ب)** د جزا کود د ۳۱۰مې مادې (۲) فقرې ته په کتو، " **(۲) هغه شخص چې طفل یا په جنون یا سفاهت مصاب شخص یا پر مخدرو موادو معتاد، په دې فصل کې د درج شوو قاچاقو د جرمونو د ارتکاب په منظور استخدام کړي، د اصل جرم د مجازاتو پر اکثر حد برسېره، له احوالو سره سم له اوو کلونو څخه زیات په طویل حبس محکومېږي. په هغه صورت کې چې دغه جرم له اجبار سره یوځای وي، مرتکب له لسو کلونو څخه زیات په طویل حبس محکومېږي**". (د جزا کود د ۳۱۰ مې مادې (۲) فقره).

لیدل کېږي چې د ۳۱۰مې مادې د لومړۍ فقرې په نسبت په دویمه فقره کې د مجازاتو د تشدید علت د استخدام شوي شخص له جسمي یا رواني ناتوانۍ (طفل یا مصاب شخص) څخه استفاده ده.

**(۱۵) پنځلسم فعالیت**

**مباحثوي پوښتنې:**

۱- د ځمکې مالک دهقان د بنګ دانې د کرلو په منظور له اکراه او اجبار پرته استخداموي، د استخدام شوي شخص جزا د جزا کود د ۳۱۰مې مادې د (۱) فقرې په رڼا کې مشخصه کړئ؟

۲- د جزا کود ۳۱۰مې مادې په (۲) فقره کې، د استخداموونکي شخص جزا معلومه ده، تاسو د استخدام شوي شخص (طفل، په جنون مصاب شخص، په سفاهت مصاب شخص او په مخدره توکو معتاد شخص) چې له اکراه او اجبار پرته د مخدره توکو د قاچاق جرمونو د ارتکاب په منظور استخدام شوی دی، جزا مشخصه کړئ؟

## دویم مطلب: پر معتادینو د مخدره توکو او روان اړوونکو توکو د پلورلو او وېشلو مجازات:

د جزا کود د ۳۱۱مې مادې حکم ته په کتو، "**هغه شخص چې مخدره مواد او روان اړوونکي مواد خپله یا د بل شخص په واسطه پر معتادینو یا نورو اشخاصو وپلوري یا یې ووېشي، په لاندې مجازاتو محکومېږي:**

**۱- لومړی ځل په دې فصل کې د درج شوو مخدره موادو او روان اړوونکو موادو د قاچاق د پېشبيني شوي جرم پر اصل جزا برسېره، تر دريو کلونو پورې په متوسط حبس.**
**۲- د تکرار په صورت کې، په دې فصل کې د درج شوو مخدرو موادو او روان اړوونکو موادو د قاچاق پر اصل جزا برسېره، تر لسو کلونو پورې په طويل حبس».**

**(۱٦) شپاړلسم فعاليت**

**مباحثوي پوښتنه:**

(x) شخص د لس کيلو گرامو په اندازه هيروئين پر (y) شخص وپلورل. (x) شخص په کومه جزا محکومېږي؟

نومورې پوښتنې ته د ځواب ورکولو څخه مخکې، لاندې ټکو ته پام او دقت وکړئ:

- هيروئين، مخدره توکي دي.
- د جزا کود د ۲۹۹مې مادې د ۲ جزء صراحت ته په کتو، د مخدره توکو پلورل، قاچاق تعريف شوی دی.
- د مخدره توکو د قاچاق جزا (د بېلگې په ډول، د لس گرامو هيروئينو پلورل) د جزا کود د ۳۰۲مې مادې په ۱ جزء کې، يوه جزا، يعنې قصير حبس ټاکل شوی دی. خو د جزا کود د ۳۱۱مې مادې په ۱ جزء کې د مخدره توکو د پلورلو لپاره دوه جزاگانې (۱- د جرم اصل جز «قصير حبس» ۲- تر دريو کلونو پورې د متوسط حبس جزا) ټاکل شوې ده.

ستاسو په نظر، آيا (x) شخص د جزا کود د ۲۹۹مې مادې په ۲ جزء کې په درج شوې جزا محکومېږي يا که د جزا کود د ۳۱۱مې د ۱ جزء په جزا؟

## درېيم مطلب: د مخدره موادو او روان اړوونکو موادو د غير قانوني تجويز، پلور يا استعمال جزا:

د جزا کود ۳۱٦مه ماده د نومورې جرم په اړه داسې صراحت لري:

**« (۱) هغه شخص چې د مسکراتو او مخدرو موادو پرخلاف د مبارزې او د هغو د کنټرول د قانون په منضمه ۲ او ۳ گڼه جدولونو کې درج د مخدرو موادو او روان اړوونکو موادو لرونکي درمل، له تزویر شوې طبي نسخې څخه په استفادې سره وپېري یا استعمال کړي یا د نسخې په تزویري والي د خبرتیا با وجود یا له طبي نسخې پرته، هغه وپلوري، د مخدرو موادو او روان اړوونکو موادو د قاچاق پر جزا برسېره، په دې قانون کې درج د تزویر د جرم په جزا هم محکومېږي.**

**(۲) که چېرې طبي مؤظف، په دې باندې د علم په لرلو سره چې د دې فصل د مخدرې مادې استعمال غیر مجاز دی، هغه د طبي نسخې په ذریعه تجویز کړي، د اصل جرم پر جزا سربېره، تر دریو کلونو پورې په متوسط حبس محکومېږي.**

**(۳) که چېرې د دې مادې په (۲) فقره کې درج شوی جرم د صحي مؤسسو لخوا ارتکاب شي، د اصلي فاعل پر مجازاتو برسېره، صحي مؤسسه لومړی ځل له احوالو سره سم له پنځه سوه زره څخه تر دوو میلیونو افغانیو پورې په نغدي جزا او د تکرار په صورت کې پر دوه میلیونو افغانیو نغدي جزا برسېره، د جواز په سلب هم محکومېږي».**

په دې ماده جې څو ډوله کړنې ذکر شوې دي:

۱. له تزویر شوې طبي نسخې په استفادې د مخدره توکو پېرودل او یا استعمال.

۲. د تزویر شوې طبي نسخې پر بنسټ په دې اړه د آگاهۍ سربېره چې نوموړې نسخه تزویر شوې ده، د مخدره توکو پلور.

۳. د طبي مؤظف لخوا د طبي نسخې په ذریعه د مخدره توکو د مصرفولو تجویزول په دې اړه د آگاهۍ سربېره چې مخدره توکي په غیر مجاز شکل مصرفېږي.

لومړۍ کړنه غالباً د پېرودونکو لخوا او دویمه کړنه غالباً د درمل پلورونکو له خونا او درېیمه کړنه غالباً د ډاکټر لخوا د تصور وړ ده. په لومړي او دویم حالت کې قانون د قاچاق د جرم جزا د تزویر له جرم سره

یوځای کوي او دواړه د جرم پر مرتکب د تطبیق وړ ګڼي. خو په درېیم حالت کې د قاچاق د جرم جزا د متوسط حبس له جزا سره یوځای کوي او پر مرتکب یې د تطبیق وړ ګڼي.

د نوموړې مادې له درېیمې فقرې سره سم، که دا جرم د حکمي شخص (صحي مؤسسې) په نوم یا حساب ترسره شي، یوازې یوه جزا پر حکمي شخص تطبیقېږي چې عبارت ده له:

- د لومړي ځل لپاره: له پنځوس زرو څخه تر دوو میلیونو افغانیو پورې نغدي جزا.
- د تکرار په صورت کې: دوه میلیونه افغانۍ او د جواز سلبول.

لیدل کېږي چې د حکمي شخص په حق کې د قاچاق د جرم جزا د دې مادې له نوموړې جزا سره جمع شوې نه ده.

**د دویمې برخې پایلیزه:**

د جزا کود د ۲۹۹ تر ۳۱۱ مادو د تشریح، تحلیل او څېړنې پایلې په لاندې ډول خلاصه کېدلای شي:

۱- هر جرم له درې عمومي عناصرو (قانوني، مادي او معنوي) څخه متشکل دی او ځیني جرمونو ځانګړي عناصر هم لري چې غالباً د قانون له نصوص څخه استنباط کېږي.

۲- د جزا کود له ۳۲مې مادې سره سم، «قانوني په دې قانون کې د جرمي عمل او د هغه د ټاکلې جزا له تصریح څخه عبارت دی.» د جزا کود ۳۰۰ تر ۳۲۱ مادو قانوني عنصر د مخدره توکو د قاچاق جرمونه تشکیلوي.

۳- د جزا کود له ۳۳مې مادې سره سم: «د جرم مادي عنصر د قانون د مخالف عمل له ارتکاب یا د هغه عمل د اجراء له ډډې کولو څخه عبارت دی چې قانون په هغه حکم کړی دی په داسې ډول چې ارتکاب یا ډډه کول په جرمي پایلې تمام شي او د عمل او پایلې ترمنځ د سببیت اړیکه موجوده وي.» د جرم په مادي عنصر کې فعل، پایله او د سببیت اړیکه شامل دي.

٤- فعل له هماغه جرمي کړنې څخه عبارت دی. هغه کړنې چې د مخدره توکو د قاچاق جرم تشکیلوي، د ۱۳۹٦ کال د مخدره او مسکراتو سره د مبارزې قانون د درېیمې مادې په ۲ جزء او د جزا کود د ۲۹۹مې مادې په ۲ جزء کې تصریح شوې دي.

٥- د ۱۳۹٦ کال د مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون د درېیمې مادې د ۱ جزء صراحت ته په کتو، د مخدره توکو د قاچاق د جرم موضوع «د ۱۳۹٦ کال د مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون په (۱، ۲، ۳ او ۴) ګڼه منضمه جدولونو کې له درج شوو نباتاتو، موادو او مرکبونو څخه عبارت ده.

٦- د جرم پایله له هماغه هدف یا مقصد څخه عبارت ده چې د هغه په منظور جرمي کړنه صورت نیسي. د مخدره توکو د قاچاق پایله د انسان پر عقل د ضرر له رامنځته کېدو څخه عبارت ده. جرمونه د پایلې د درلودلو او نه درلودلو له پلوه په پایله لرونکي او نا پایله لرونکي جرمونو وېشل کېږي. په پایله لرونکي جرمونو کې د پایلې رامنځته کېدل د جرم د تکمیل لپاره شرط دی، خو په نا پایله لرونکي جرمونو کې د پایلې له رامنځته کېدو پرته یوازې د فعل واقع کېدل جرم پېژندل

کېږي. د مخدره توکو د قاچاق جرم له نا پایله لرونکي جرمونو څخه دی؛ یعني د پایلې رامنځته کېدل د هغه د تکمیل لپاره شرط نه دی، بلکه دا جرم د ۱۳۹٦ کال له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون د دریيمې مادې په ۲ جزء کې له درج شوو جرمو کړنو څخه د یوې په اجراء سره بشپړېږي.

۷- د جزا کود له ۳۸مې مادې سره سم، «د جرم معنوي عنصر له جرمي قصد، په جرم او د هغه پر پایلې یا جرمي خطا له علم او خبرتیا څخه عبارت دی.» د مخدره توکو د قاچاق جرم په معنوي عنصر کې علم او اراده شامل دي؛ علم په دې معنی چې مرتکب د جرم د موضوع په اړه علم ولري. اراده په دې معنی چې مرتکب جرمي کړنه په خپلې آزادې ارادې او له اکراه او جبر پرته ترسره کړې وي.

۸- د مخدره توکو د قاچاق جرم له عمدي جرمونو څخه دی، سربېره پردې چې مرتکب د جرم د ارتکاب قصد لري؛ باید د جرم د موضوع په اړه لعم ولري، او هغه فعل چې جرم رامنځته کوي، په خپلې آزادې ارادې او له جبر او اکراه پرته یې ترسره کړې وي.

۹- د مخدره توکو د قاچاق په جزا کې اصلي، تبعي او تکمیلي جزاګانې شاملې دي.

۱۰- د مخدره توکو د قاچاق د جرم د اصلي جزاګانو خفت او شدت د موادو او د هغه د کمیت ته په کتو توپیر کوي. دا جزاګانې د جزا کود په ۳۰۰ تر ۳۲۱ مادو کې پېشبیني شوې دي.

۱۱- که چېرې د مخدره توکو د جرم مرتکب د حبس په جزا محکوم شي، نو تبعي جزا پرې هم تطبیقېږي، ولو که د هغه د حبس موده له لسو کلونو کمه وي. ځکه چې د جزا کود د ۱۷۲مې مادې صراحت ته په کتو، هغه شخص چې د جزا کود د دویم کتاب د لومړي باب په جرمونو کې له لسو کلونو څخه په کم حبس محکوم شي، تبعي جزا هم پر هغه تطبیقېږي.

۱۲- قانون جوړوونکي د مخدره توکو د قاچاق جرمونو لپاره د اصلي او تبعي جزا سربېره تکمیلي جزا (مصادره) هم پېشبیني کړې ده. د مخدره توکو د جرمونو اړوندو وجوهو او شتمنیو مصادره د ۱۳۹٦ کال له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون په ۳۲ او د جزا کود په ۳۰۸ مادو کې پېشبیني شوې ده.

# درېیمه برخه

## د مخدره توکو د قاچاق جرمونو اړوند جرمونه

**سریزه:**

د مخدره توکو د قاچاق اړوند جرمونه له هغو جرمونو څخه عبارت دي چې د جزا کود د مخدره توکو د قاچاق په فصل کې ذکر دي، خو قانوناً د مخدره توکو قاچاق ګڼل شوی نه دی. دا جرمونه له هغو کړنو څخه عبارت دي چې یا د قاچاق زمینه ورته برابروي او یا له هغه سره مبارزه له ننګونې سره مخ کوي او یا هغه سرغړونې دي چې د مخدره توکو د جرمونو د تنظیم، کشف او څېړنې د مؤظفینو لخوا واقع کېږي، لکه د دندې، او یا د سمع وسیلې او الکترونیکي څارنې د افشاء کولو پرمهال د پټو همکارانو سرغړونې او داسې نور.

دا کوم جرمونه دي؟ د هغوی مادي او معنوي عناصر څرنګه تنظیم شوي دي؟ او قانون د هغوی مرتکبینو ته کومې جزاګانې پېشبیني کړې دي؟ دا هغه پوښتنې دي چې په دې برخه کې ورته ځواب ورکول کېږي.

دا جرمونه ځیني وخت له قاچاقو سره د مبارزې کوونکې او یا تنظیموونکې ادارو د مؤظفینو لخوا ارتکاب کېږي او بعضاً د عادي اشخاصو لخوا او ځیني وخت هم د دواړو ډلو لخوا د تصور وړ دي. نو دا برخه په دوو مبحثونو کې په لاندې ډول تنظیم شوې ده:

لومړی مبحث: د مؤظفینو او یا پټو همکارانو لخوا د مخدره توکو د قاچاق اړوند جرمونه

دویم مبحث: د عادي اشخاصو لخوا د مخدره توکو د قاچاق اړوند جرمونه

**لومړی مبحث: د مؤظفینو او یا پټو همکارانو لخوا د مخدره توکو اړوند جرمونه:**

په دې بحث کې له مخدره توکو سره د مبارزې او یا د هغه د کنټرول پرمهال د مؤظفینو او یا پټو همکارانو د سرغړونو څخه را ولاړ شوي جرمونه په څلورو ویناوو کې څېړل کېږي.

لومړۍ وینا: د مخدره توکو د تنظیم کمېټې د غړو سرغړونه؛ دویمه وینا: د پټو همکارانو سرغړونه؛ درېیمه وینا: پټ کشفي غیر قانوني اقدامات؛ او څلورمه وینا: د سمع او الکترنیکي څارنې د وسایلو او یا د پټو کشفي اقداماتو اړوندو معلوماتو افشاء کول.

**لومړۍ وینا: د مخدره توکو د تنظیم کمېټې د غړو سرغړونه:**

د جزا کود ۳۱۵مه ماده له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون کې د درج شوي اجازه لیک او جواز لیک په ورکولو کې د مخدره توکو د تنظیم کمېټې د غړو عمدي سرغړونه داسې جرم انګاري کړې ده:

**« که چېرې د مسکراتو او مخدرو موادو پر خلاف د مبارزې او د هغو د کنټرول په قانون کې درج د مخدره موادو د تنظیم د کمېټې غړي، د مسکراتو او مخدرو موادو د مبارزې او د هغو د کنټرول په قانون کې درج جواز لیک یا اجازه لیک، په دې اړه علم په لرلو سره چې جواز لیک یا اجازه لیک د ناوړې استفادې مورد ګرځي او یا دا چې د هغو له غیر قانوني استفادې څخه خبر ورکړل شوی وي، اعطاء کړي، یا د هغه د صادرېدو زمینه مساعده کړي، تر لسو کلونو پورې په طویل حبس محکومېږي»**.

په لاندې کرښو کې د نوموړي جرم عناصر او مجازات تشریح کېږي:

د مخدره توکو د تنظیم کمېټه کومه ده؟ اجازه لیک او یا جواز لیک څه دي؟ د کوم منظور لپاره او له کومو شرایطو سره سم ورکول کېږي؟ او په پای کې دا چې د دې جرم عناصر او مجازات څنګه تنظیم شوې دي؟ دا هغه پوښتنې دي چې په لاندې مطالبو کې ورته ځواب وراندې کېږي.

**لومړی مطلب: د مخدره توکو د تنظیم کمېټه:**

د مخدره توکو د تنظیم کمېټه د ۱۳۸۵ کال د زمري په میاشت کې چې د ۲۰۰۶ زېږدیز کال له اگست میاشت سره سمون خوري، د طبي، حقوقي او مالي چارو د پنځو کارپوهانو په ترکیب سره په لاندې ډول رامنځته شوه:

- له عامې روغتیا وزارت څخه د درملیزو چارو یو نفر متخصص او د طبي چارو یو نفر متخصص؛
- له مالیې وزارت څخه د گمرکونو د چارو یو متخصص؛
- له کورنیو چارو وزارت څخه د مخدره توکو د چارو یو نفر متخصص؛ او
- له مخدره توکو سره د مبارزې وزارت (چې اوسمهال د کورنیو چارو وزارت د مخدره توکو سره د مبارزې په معینیت تبدیل شوی دی) د مخدره توکو د چارو یو متخصص.

د ۱۳۹۶ کال له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانو د ۸مې مادې پر بنسټ د نوموړې کمېټې غړي ۸ کسانو ته پورته شو:

- له عامې روغتیا وزارت څخه یو د درملیزو چارو کارپوه او یو د طبي چارو کاپوره (۲ کسان)؛
- له مخدره توکو سره د مبارزې وزارت (چې د کورنیو چارو وزارت د مخدره توکو سره د مبارزې په معینیت تبدیل شوی دی) څخه د طبي چارو یو کارپوه او د حقوقي چارو یو کارپوه (۲ کسان)؛
- له مالیې وزارت څخه د گمرکونو چارو یو نفر کارپوه (۱ کس)؛
- له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې پولیسو له معینیت څخه یو کارپوه (۱ کس)؛
- له سوداگرۍ او صنایعو وزارت څخه یو کارپوه (۱ کس)؛ او
- له عدلیې وزارت څخه د حقوقي چارو یو کارپوه (۱ کس).

نوموړي کارپوهان له اړوند وزارت لخوا د څلورو کلونو لپاره پېژندل کېږي. بیا دوی په خپل منځ کې یو تن د دوو کلونو لپاره د کمېټې د رئیس په توګه ټاکي[۱]. د نوموړې کمېټې تر ټولو مهم واک هغو غوښتونکو اشخاصو ته د جواز لیک او اجازه لیک د اعطاء کولو څخه عبارت دی چې غواړي «... **د درملنې، طبي او علمي څېړنو او د تعلیمي چارو د پرمخ وړلو او صنعتي مقصدونو په منظور...**» له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون د ۱، ۲ او ۳ ګڼه منضمه جدولونو کې درج مواد وکري، تولید، برابر، پروسس کړي، ویې پېري، ویې پلوري، ویې ساتي، وویشي، وارد، صادر او یا یې زېرمه کړي.
کمېټه مکلفه ده غوښتنې په سمه توګه و ارزوي چې په اړونده مقرره کې له درج شوو شرایطو څخه ډاډ ترلاسه شي ترڅو غوښتونکي له جواز څخه ناوړه استفاده ونه کړي او ترڅنګ یې د جواز د اعطاء کولو پرمهال ډاډ ترلاسه کړي چې د دغو موادو په تولید کې د هېواد کلنۍ ونده رعایت کېږي. د نوموړې خطر ناکې دندې په پرمخ وړلو او یا د هغوی په عمدي سرغړونو کې د کمېټې د غړو غفلت او نه پام ښایي د نوموړي جواز ته د مخدره توکو د قاچاقبرانو د لاسرسي او له هغه څخه د مخدره توکو په قاچاق کې د ناوړې ګټې اخیستنې لامل وګرځي. خو قانون جوړوونکي د نوموړې کمېټې غیر عامدانه سرغړونې جرم نه دی ګڼلی، یوازې د هغوی عمدي سرغړونې یې جرم ګڼلی دی.

## دویم مطلب: د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې په قانون کې درج شوی جواز لیک او یا اجازه لیک:

لکه څرنګه چې لیدله کېږي، د جواز لیک او یا اجازه لیک په اعطاء کولو کې عمدي سرغړونه د جزا کود په ۳۱۵مه ماده کې جرم انګاري شوې ده. جواز لیک او اجازه لیک دواړه د مخدره توکو د تنظیم کمېټې لخوا ورکول کېږي.

[۱] - له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون د ۸ مې مادې ۱ او ۲ فقرې (۱۳۹٦).

جواز لیک (لایسنس) عبارت دی له: « **هغه کتبي سند دی چې د دې قانون په دولسمه ماده کې د درج شوو فعالیتونو د ترسره کولو په منظور ورکول کېږي**»[۱].

اجازه لیک عبارت دی له « **هغه رسمي کتبي سند دی چې په جواز لیک کې د درج شوي هر فعالیت د ترسره کولو په منظور د کمیت او کیفیت په ټاکلو سره د جواز لیک لرونکي ته ورکول کېږي**».

نو جواز لیک د یو لایسنس حیثیت لري چې د مخدره توکو د تنظیم کمېټې لخوا غوښتونکي ته ورکول کېږي. بیا هغه غوښتونکو اشخاص چې دا جواز یې ترلاسه کړی دی، که وغواړي په جواز لیک کې له درج شوو فعالیتونو څخه یو ترسره کړي، نو لازمه ده ترڅو په نوي ډول د نوموړي فعالیت اجازه لیک ترلاسه کړي. د دې اجازه لیک ترلاسه کول، پر څښتنانو د شدیدې څارنې او کنټرول په منظور جواز لري، ترڅو خپل جواز لیک او یا اجازه لیک څخه یې ناوړه ګټه پورته نه کړل شي. له همدې کبله، دولت غواړي د جوزا لرونکو هر فعالیت په ځانګړي ډول وارزوي او ترې څارنه وکړي.

له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون په ۱۲مه ماده کې درج شوي فعالیتونه د جواز اخیستونکې ادارې له ډول سره سم توپیر لري:

**الف: د دولتي ادارو لپاره:**

که چېرې د جواز لرونکی دولتي اداره وي، د لاندې فعالیتونو جواز لیک او اجازه لیک ورته ورکول کېدلای شي:

د نوموړي قانون په (۱، ۲ او ۳) ګڼه منضمه جدولونو کې د درج شوو موادو ۱) کرل، ۲) تولید، ۳) برابرو، ٤) پروسس، ٥) پېرودل، ٦) پلورل، ۷) ساتل، ۸) وېشل، ۹) واردول، ۱۰) صادرول، ۱۱) استعمالولو، او

[۱] - د (۱۳۹٦) کال له مخدره توککو او مسکراتو سره د مبارزې قانون د ۳مې مادې ۱۳ جزء.

۱۲) زېرمه کول، البته له لاندې **مقصدونو** څخه د يو لپاره: ۱) درملنه، ۲) طبي او علمي څېړنې، ۳) د تعليمي چارو پرمخ وړل او ٤) صنعتي مقصدونه[1].

**ب: د غير دولتي ادارو لپاره:**

که چېرې غوښتونکي غير دولتي اشخاص وي، د مخدره توکو د مؤلدو نباتاتو د کرنې په **استثناء** سره پورته مقصدونو لپاره د پورته ټولو فعاليتونو جواز ليک او يا اجاره ليک ورکول کېږي[2].

د جواز ليک او اجازه ليک د ورکړې شرطونه او طريقه د مخدره او روان اړوونکو مجازو درملو، خالصو پريکرسرونو او د هغوی د ترکيبي شکلونو د اجازه ليکونو د صدرو سيستم او څرنګوالي په طرز العمل (۱۳۸۷) کې تشريح شوي دي[3]. د نوموړي سند پر بنسټ، د جواز ليک او يا اجازه ليک د توزيع پروسه د مخدره توکو د ډول او مقسم له پلوه توپير لري:

**الف: په طبي برخه کې د جواز ليک او يا اجازه ليک ترلاسه کول:**

هغه مخدره توکي چې په طبي برخه کې کارول کېږي، متقاضي لومړی خپل غوښتنليک د عامې روغتيا وزارت د فارمسۍ چارو د رياست مخدره آمريت ته وړاندې کوي. نوموړې اداره دغه غوښتنليک له تخنيکي پلوه ارزوي، په هغه صورت کې چې تخنيکي ستونزه ونه لري، د ملي درملو د بورډ فرعي کمېټې تأييدي او په ځانګړي مواردو کې په خپله د د درملو د ملي بورډ تأييدي ترلاسه کېږي، بيا نوموړی

[1] - هماغه، د ۱۲مې مادې ۱ فقره.
[2] - هماغه، د ۱۲مې مادې ۲ فقره.
[3] - د دې سند نوم له انشايي پلوه ستونزه لري. د هغه متن د مخدره توکو د وزارت په وېبپاڼه کې موندل کېږي (۲۱/۴/۱۳۹۸ وخت: د ماسپښين ۳:۰۰ بجې)
http://mcn.gov.af/fa/page/٥١٢٩/١٨٣٦/object-objectobject-objectdrug-regulation-committee

غوښتنلیک د مخدره توکو د تنظیم کمېټې ته راجع کوي. دا کمېټه له ارزونې وروسته جواز لیک او یا اجازه لیک اعطاء کوي[۱].

**ب: د صنعت په برخه کې د مخدره توکو د جواز لیک یا اجازه لیک ترلاسه کول:**

هغه مخدره توکي چې د صنعت په برخه کې ترې ګټه اخیستل کېږي، د جواز لیک او یا اجازه لیک غوښتنه د سوداګرۍ او صنایعو وزارت د صناعیو معینیت ته لومړی وړاندې کېږي، د هغوی له تأییدۍ وروسته نوموړی غوښتنلیک د مخدره توکو د تنظیم کمېټې ته راجع کېږي[۲].

**ج: په علمي او څېړنیزه برخه کې د مخدره توکو د جواز لیک او یا اجازه لیک ترلاسه کول:**

هغه مخدره توکي چې په علمي او څېړنیزو چارو کې کارول کېږي، غوښتنلیک لومړی د لوړو زده کوو وزارت ته وړاندې کېږي، بیا د هغوی له تأییدۍ وروسته، د عامې روغتیا وزارت د فارمسۍ چارو او درملیزې فرعي کمېټې تأییدي ترلاسه کېږي. بیا په وروستي پړاو کې غوښتنلیک د مخدره توکو د تنظیم کمېټې ته راجع کېږي[۳].

## درېیم مطلب: د مخدره توکو د تنظیم کمېټې د غړو د سرغړونې جرم عناصر:

په دې مطلب کې لومړی د دې جرم مادي عنصر او ور پسې معنوي عنصر څېړل کېږي:

---

[۱] - د مخدره او روان اړوونکو مجازو درملو، خالصو پریکرسرونو او د هغوی د ترکیبي شکلونو د اجازه لیکونو د صدرو سیستم او څرنګوالي طرز العمل له ۲ تر ۴ مادو پورې (۱۳۸۷).

[۲] - د مخدره او روان اړوونکو مجازو درملو، خالصو پریکرسرونو او د هغوی د ترکیبي شکلونو د اجازه لیکونو د صدرو سیستم او څرنګوالي طرز العمل ۵مه ماده (۱۳۸۷).

[۳] - د مخدره او روان اړوونکو مجازو درملو، خالصو پریکرسرونو او د هغوی د ترکیبي شکلونو د اجازه لیکونو د صدرو سیستم او څرنګوالي طرز العمل ٦مه ماده (۱۳۸۷).

**الف: مادي عنصر:**

دا جرم له پایله لرونکي جرمونو څخه دی، نو د هغه مادي عنصر له فعل، د فعل موضوع، د مرتکب صفت، پایلې او د سببیت اړیکې څخه عبارت دی.

**الف: فعل:**

د دې جرم فعل عبارت دی له:

۱) هغه شخص ته د مخدره توکو سره د مبارزې په قانون کې د درج شوي جواز لیک یا اجازه لیک ورکول چې له هغه څخه ناوړه استفاده او یا غیر قانوني استفاده کوي؛ یا

۲) دا ډول شخص ته د جوزا لیک د صادرېدو لپاره د زمینې برابرول.

له کومه ځایه چې د جواز لیک او اجازه لیک صادرېدل د مخدره توکو د تنظیم کمېټې د اکثرت غړیو د پرېکړې پر بنسټ صورت نیسي، لومړنۍ کړنه هغه وخت متصور ده چې لږ تر لږه هغه جمع چې قانوناً د جواز ورکړې حق لري[1]، جرمي اراده ولري.

خو دویمه کړنه له هغه حالت څخه بحث کوي چې د کمېټې یوازې یو او یا څو غړي ناوړه نیت ولري، خو اکثریت نه تشکیلوي او نه شي کولای متقاضي ته جواز ورکړي، نو له بلې طریقې څخه ګټه پورته کوي چې له زمینې برابرولو او د نورو غړو د قانع کولو څخه عبارت ده. د زمینې برابرولو فعل بېلابېل ډولونه او بېې درلودلای شي لکه د متقاضي په ګټه استدلال، د متقاضي د فعالیتونو توجیه، ملاتړ کول او یا حتی د مخالفو غړو تشخیصول او د هغوی په غیاب کې د جلسې دایرول... او داسې نور.

[1] - لږ تر لږه د غړو شمېر چې کولای شي په ناوړه نیت سره جواز ورکړي، دوه تنه دي. ځکه چې د کمېټې د غړو شمېر اوسمهال ۸ تنه دي او د هغوی د غونډو نصاب د دوه ثلثو په شتون سره بشپړېږي (یعنې ۳ تنه) او پرېکړې په اکثریت رأیو سره نیول کېږي. یعنې په دې فرضیه کې دوه کسان اکثریت ګڼل کېږي. خو لکه څرنګه چې ټول غړي حاضر دي، لږ تر لږه پنځه کسان په ناوړه نیت سره باید جواز ورکړي.

**ب: د فعل موضوع:**

د جواز لیک او یا اجازه لیک ورکول مطلقاً جرم نه دی، بلکه هغه وخت جرم ګڼل کېږي چې:

لومړی: د هغه جوازلیک او یا اجازه لیک چې ورته ورکول کېږي او یا د هغه صادرېدو لپاره زمینه ورته برابرېږي، موضوع له مخدره توکو سره د مبارزې قانون په ۱۲مه ماده کې د درج شوو فعالیتونو اړوند وي، ځکه چې د جزا کود په ۳۱۵مه ماده کې په صراحت سره ویلي دي «**له مسکراتو او مخدره توکو سره د مبارزې او د هغوی د کنټرول په قانون کې درج شوی جواز لیک او یا اجازه لیک...**». نوموړی قانون په خپله ۱۲مه ماده کې جوازلیک او یا اجازه لیک او د هغه مواردو ته اشاره کړې ده[1].

دویم: جواز لیک او یا اجازه لیک هغو اشخاصو ته ورکول کېږي چې له هغه څخه ناوړه ګټه او یا غیر قانوني ګټه پورته کوي، ځکه چې د جزا کود په ۳۱۵مه ماده کې تصریح کړې ده:«... **په دې اړه د علم په لرلو سره چې جواز لیک یا اجازه لیک د ناوړې استفادې مورد ګرځي او یا دا چې د هغو له غیر قانوني استفادې څخه خبر ورکړل شوی وي...**». له همدې کبله، که د کمېټې غړي هغو اشخاصو ته جواز ورکړي چې له هغه څخه قانوني استفاده کوي او یا غیر قانوني استفاده کوي، خو د کمېټې غړي له هغه څخه خبر نه وي، دا جرم نه رامنځته کېږي.

اصولاً د مخدره توکو د تنظیم کمېټه د ټولو جواز لیکونو او یا اجازه لیکونو واک نه لري، خو که فرضاً دا کمېټه د خپل واک له دایرې څخه دباندې د هغو کارونو د پرمخ وړلو لپاره جواز صادروي چې د مخدره توکو له فعالیتونو سره هیڅ اړیکه نه لري، له اداري پلوه یې عمل باطل دی، خو جرم نه رامنځته کوي.

[1] - له مخدره توکو سره د مبارزې قانون د ۱۲مې مادې ۱ فقره داسې صراحت لري: «(۱) **کمېټه کولای شي د معالجې، طبي او علمي څېړنو، د ښوونیزو چارو د پرمختیېولو او صنعتي مقصدونو په منظور، د دې قانون په (۱، ۲ او ۳) ګڼه منضمه جدولونو کې د درج شوو توکو د کرلو، تولید، برابرول، پروسس، پېر، پلور، ساتنې، وېشلو، وارداتو، صادراتو، کارولو او زېرمه کولو جوازلیک او اجازه لیک، یوازې دولتي ادارو ته ورکړي (۲)**....».

**ج: د مرتکب صفت:**

د دې مادې د فعلونو مرتکب او یا مرتکبین باید د مخدره توکو د تنظیم کمېټې غړي وي، ځکه چې د جزا کود ۳۱۵مې مادې په صراحت سره ویلي دي «**که چېرې د مخدره توکو د تنظیم کمېټې غړی...**». نو که غړی نه وي، او یا له مقرری ورانډې او یا د دندې د مودې تر پای ته رسېدو وروسته په دغه عمل لاس پورې کړي، دا جرم نه واقع کېږي. همدارنګه د هغو اشخاصو کړنې چې نوموړې کمېټې ته د غوښتنلیک له رسېدو څخه وړاندې غوښتنلیک پروسس او یا تأیید کړي، په دې جرم کې نه شاملېږي. لکه څرنګه چې وړاندې تشریح شول چې د جواز غوښتنه مخکې له دې چې دې کمېټې ته وړاندې شي، په نورو ادارو کې ډېر شمېر پړاوونه وهي، لکه د عامې روغتیا وزارت، د لوړو زده کړو وزارت او د سوداګرۍ او صنایعو وزارت. له همدې کبله، که د نوموړو ادارو مؤظفین په ناوړه نیت سره غوښتنلیک تأیید او یا له پړاوونو تېر کړي، دا جرم نه واقع کېږي. بلکه د کړنې له ډول سره سم نوموړی عمل د اداري فساد د جرمونو له ډولونو څخه د یوه تر لاندې قرار ونیسي.

**د: پایله:**

د جرم پایله هغه شخص ته د جواز لیک او یا اجازه لیک له ورکړې څخه عبارت ده چې قرار لري له هغه څخه ناوړه استفاده او یا غیر قانوني استفاده وشي. له همدې کبله، یوازې د جواز لیک او اجازه لیک په ورکړې سره جرم نه بشپړېږي که متقاضي په عمل کې له جواز څخه غیر قانوني استفاده کړې وي او یا نه.

**(۱۷) اوولسم فعالیت**

**مباحثوي پوښتنه:**

له «ورکړې» و «صادرېدو» څخه مراد څه دی؟ آیا د متقاضي لخوا د جواز له تسلیمولو څخه مراد دی؟ او یا د ادارې لخوا د متقاضي په نوم د جواز صادرول؟

**احتمالي ځواب:**

په دې ځای کې دوه احتمالونه او یا دوه تفسیرونه وارد دي:
د لومړي تفسیر پر بنسټ، جرم هغه وخت بشپړېږي چې متقاضي جواز له اداري څخه تسلیم کړي. خو د دویم تفسیر پر بنسټ، جرم یوازې د جواز په صادرېدو سره بشپړېږي ولو که متقاضي تر اوسه هغه تسلیم کړی نه وي. د (جزا کود د ۳۱۵مې مادې) په متن کې دوه کلمې کارول شوې دي "ورکړه" و "صادرول". لومړی لفظ لومړي تفسیر ته خورا نږدې دی و دویم لفظ دویم تفسیر ته. دویم تفسیر راجح تر سترګو کېږي، ځکه چې جوازلیک او یا اجازه لیک یوازې په صادرېدو سره قانوناً موجودېږي او د هغه د امتیاز حق د جواز څښتن ته انتقالېږي ولو که د جواز څښتن تر اوسه هغه نه وي تسلیم کړی.

**هـ: د سببیت اړیکه:**

د جواز صادرېدل باید د جرم د مرتکب له کړنې سره د سببیت متعارفه اړیکه ولري[1].

**ب: معنوي عنصر:**

د مخدره توکو د تنظیم کمېټې د غړي د سرغړونې جرم له عمدي جرمونو څخه دی. د جرمي قصد ډول د عام قصد سربېره ځانګړی قصد هم دی. عام قصد په دې ځای کې له دې څخه عبارت دی چې د جواز د ورکړې یا د د هغه د صادرېدو لپاره د زمینې برابرولو عمل د مرتکب یو ارادي او اختیاري عمل دی. خو ځانګړې قصد او یا ناوړه ځانګړی قصد په دې اړه د علم درلودلو او آګاهۍ څخه عبارت دی چې جواز د ناوړې استفادې او یا غیر قانوني استفادې وړ ګرځي، ځکه چې قانون د دې موضوع په اړ علم درلودل شرط کړي دي.

له همدې کبله، که د مخدره توکو د تنظیم کمېټې غړی له دې موضوع څخه خبر نه وي، نو دا جرم نه واقع کېږي.

[1] - د سببیت د اړیکې موضوع د جزا کود د عامې برخې په درسي نصاب کې د "جرم او د هغه ډولونه" تر عنوان لاندې په تفصیل سره پرې بحث شوی دی.

**(۱۸) اتلسم فعالیت**

**مباحثوي پوښتنه:**

۱ پوښتنه: د جزا کود د **۳۱۵**مې مادې د متن یوه برخه چې لاندې ذکر شوې ده، د هغه د ډبل (بولډ) خط برخې ته په تمرکز سره یې مطالعه کړئ او پوښتنې ته ځواب ورکړئ « ... په دې اړه د علم درلودلو پر بنسټ چې جواز لیک یا اجازه لیک **د استفادې وړ گرځي** یا دا چې د هغه د غیر قانوني استفادې په اړه خبر ورکړل شوی وي..." ځواب ورکړئ چې ولې قانون جوړوونکي د پورته تعبیر عوض نه دی ویلی «... په دې اړه د علم درلودلو پر بنسټ چې د **غوښتونکي** جواز لیک یا اجازه لیک **د استفادې وړ گرځوي**..."؟ د تعبیر د توپیر تأثیر څه کېدلای شي؟

**(۱۹) نولسم فعالیت**

**فرضي قضیه:** (د قضیې موضوع: له جواز لیک یا اجازه لیک څخه د غیر قانوني استفادې مفهوم)

لومړۍ فرضیه: احمد د دوا جوړونې کارخانه لري او د کیمیاوي موادو د تولید جواز لیک (چې له مخدره توکو سره د مبارزې قانون د منضمه جدولونو څخه په یو کې درج دی) یې د درملو جوړونې په فعالیتونو کې د استفادې په منظور اخیستی دی. د ۱۳۹۸ کال د وري په میاشت کې د نوموړو موادو د پنځه لیتره تولید غوښتنه کوي، خو د مخدره توکو د تنظیم کمېټه له دې اندازې سره موافقه نه ده. احمد له کبیر څخه چې د مخدره توکو د تنظیم کمېټې غړی دی، غوښتنه کوي ترڅو د پنځو لیترو د جواز لیک صادرولو لپاره ورته زمینه برابره کړي. خو کبیر ورته وایي چې زه درته زمینه برابروم ترڅو نور غړي درلته د ۳ لیترو د تولید جواز درکړي، بیا ته د همدې جواز لیک څخه په استفادې پنځه لیتره تولید کړه او ورسره استدلال کوي دا چې تاسو د درمل جوړونې په مشروع فعالیتونو کې ترې استفاده کوې، نو هیڅ باک شتون نه لري.

ستاسو له نظره، آیا کبیر د جزا کود په ۳۱۵مه ماده کې د درج شوي جرم مرتکب شوی دی یا نه؟ که ځواب مو هو وي، نو د احمد (غوښتنه کوونکي) او د مخدره توکو د تنظیم کمېټې د نورو غړو چې جواز یې صادر کړی دی، مسؤولیت څه دی؟

دویمه فرضیه: په هغه صورت کې چې قرار ولري احمد له ذکر شوو موادو څخه د مخدره توکو په تولید کې استفاده وکړي او کبیر د هغه له نیت څخه خبر وي، آیا د قضیې بڼه او یا د مجازاتو اندازه توپیر کوي یا نه؟

**احتمالي ځواب:**

د "**له جواز لیک څخه ناوړه استفاده**" تعبیر که په حرفي بڼه تفسیر شي، پورته دواړه فرضیې د جزا کود تر ۳۱۵مې مادې د تعقیب وړ دي. خو که چېرې په غایي بڼه تفسیر شي، یوازې دویمه فرضیه تر دې مادې لاندې به د تعقیب وړ وي. ځکه چې د جوازلیک او یا اجازه لیک د صادرولو سختګیرانه اجراآتو څخه موخه دا ده ترڅو شخص د هغه تر چتر لاندې د مخدره توکو په قاچاق لاس پورې نه کړي، له همدې کبله هغه ته شدیده جزا (تر لسو کلونو طویل حبس) پیشبیني شوې ده. خو که شخص له اجازه لیک څخه د مخدره توکو په قاچاق کې استفاده ونه کړي، خو د هغه ناوړه استفاده په دې بڼه وي چې په اجازه لیک د درج شوو موادو اندازه یا د موادو ډول نه مراعتوي، له هغه څخه زیات او یا د هغه مخالف یې تولیدوي، په دې حالت کې ۳۱۵مه ماده پر هغه نه تطبیقېږي، ځکه چې دا ناوړه ګټه اخیستنه د ټولنې نظم تر هغه بریده نه ګډوډوي چې تر لسو کلونو پورې د طویل حبس مجازات (د اصلي جزا په توګه) او د درمل جوړونې کارخانې مصادره (د تکمیلي جزا په توګ) توجیه کړي. له همدې کبله، د تورن په ګټه د اصل تفسیر پر بنسټ، ایجاب کوي چې لومړۍ فرضیه د جزا کود په ۳۱۵مه ماده کې نه شاملېږي.

تاسو د دې احتمالي ځواب په اړه څه نظر لرئ؟ او که کوم بل نظر لرئ، نو مطرح یې کړئ.

## دویم مطلب: د مخدره توکو د تنظیم کمېټې د غړو د سرغړونې جرم جزا:

د دې جرم اصلي مجازات تر لسو کلونو پورې له طویل حبس څخه عبارت دي. یعنې له پنځو کلونو څخه زیات د لسم کال تر پای پورې. د هغه ترڅنګ د جرم مرتکب په تکمیلي جزا هم محکومېدلای شي[1]. سربېره پردې چې په تکمیلي جزاګانو کې اصل دا دی چې دا جزاګانې الزامي نه دي، بلکه د محکمې له اختیاري واکونو او صلاحیتونو څخه دی، خو احیاناً قانون جوړوونکی د جزاګانو یوه برخه الزامي او د محکمې د تکلیفي صلاحیتونو برخه ګرځوي. د مخدره توکو په جرمونو کې، د مصادرې په برخه کې د تکمیلي جزاګانو له منځه دا ډول حکم پېشبیني شوی دی. له همدې کبله، اوسمهال مصادره یو الزامي امر دی او له همدې کبله محکمه مکلفه ده په هغو مواردو کې چې مصادره د تطبیق وړ ده، د لاندې مادو حکمونه رعایت کړي: د ۱۳۹۶ کال د مخدره توکو سره د مبارزې قانون ۳۲مه ماده، د شتمنیو[2] د مصادرې په اړه د پیسو وینځلو څخه د مخنیوي قانون نا لغوه شوي حکمونه او همدارنګه د جزا کود د ۱۸۰ تر ۱۸۲ مادې او ۲۰۸مه ماده.

## دویمه وینا: د پټو (مخفي) همکارانو سرغړونې:

د جزا کود ۳۱۹مه ماده داسې صراحت لري: « **که چېرې مخفي همکار د قانون د حکمونو پر خلاف فعالیت وکړي، تر دریو کلونو پورې په متوسط حبس، محکومېږي**».

مخفي (پټ) همکار څوک دی؟ د هغه د فعالیت معیارونه کو دي؟ د جرم عناصر او د هغوی مجازات څنګه تنظیم شوي دي؟ دا هغه درې پوښتنې دي چې په لاندې دریو مطالبو کې ورته ځواب ورکول کېږي.

[1] - د "جزاها و تدابیر" کتاب ته دې مراجعه وشي.

[2] - له مخدره توکو سره د مبارزې قانون د ۳۲مې مادې ۲ فقرې تصریح کړې ده چې " واکمنه محکمه، د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوي توکي او نور وجوه او شتمنۍ، د دې قانون او د پیسو وینځلو او له جرمونو څخه د راپیدا شوو عوایدو د مخنیوي د قانون د حکمونو مطابق، مصادره کوي." نوټ: د پیسو وینځلو څخه د مخنیوي په قانون کې د مصادرې حکمونه له ۳۹ تر ۴۴ مادو کې تنظیم شوي دي. متهی د دوی له منځه د پیسو وینځلو څخه د مخنیوي قانون ۳۹مه ماده د جزا کود د ۹۱۶مې مادې د ۲۱ جزء پر بنسټ لغوه کېږي خو د هغه نورې مادې یعنې له ۴۰ تر ۴۴ مادو پورې د مخدره توکو په قضیو کې د رعایت وړ دي.

**لومړی مطلب: د پټو همکارانو معرفي کول:**

له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون پټ همکاران تعریف کړي نه دي. خو د هغوی حکمونه په بېلابېلو قوانینو کې د ۱۳۹٦ کال له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون، د ۱۳۹٦ کال د جزا کوډ او د ۱۳۹۳ کال د پیسو وینځلو څخه د مخنیوي قانون په ګډون پېشبیني شوي دي. دغو قوانینو ته کتنه ښیي چې پټ همکاران له هغو اشخاصو څخه عبارت دي چې د واکمنو مراجعو (د مخدره توکو د پولیسو په شمول) لخوا استخدام کېږي او د اجازې پر بنسټ او د هغوی له لارښوونو سره سم د جرمي ډلو په منځ کې نفوذ کوي او د جرمي فعالیتونو، د جرم مرتکبینو او د جرم دلایلو په اړه معلومات ترلاسه کوي او دا معلومات نوموړو مراجعو سره شریکوي.

هغوی ته "پټ همکاران" ویل کېږي، ځکه چې له یوې خوا له پولیسو او څارنوال سره همکاري کوي او له بلې خوا د هغوی اصلي هویت مستور او پټ ساتل کېږي، هم د فعالیت پرمهال او هم هغه وخت کله چې د هغوی له اقوالو څخه په جزایي محکمو کې ګټه اخیستل کېږي[۱].

له مخدره توکو سره د مبارزې قانون د ۳۰مې مادې د ۷ فقرې پر بنسټ، دا اشخاص د پولیسو لخوا د هغه طرز العمل سره سم چې د کورنیو چارو وزارت یې جوړوي، استخدامېږي. د استخدام کلمه د دې همکارانو او پولیسو ترمنځ د اداري اړیکې ښکارندوي کوي. د یادونې وړ ده چې د هېواد ټول اتباع مکلف دي ترڅو له پولیسو سره همکاري وکړي او د جرم، مجرم او د هغه اړوندو دلایلو په اړه راپور ورکړي. منتهی دوی "پټ همکاران" نه بلل کېږي. بلکه پټ همکاران هغه اشخاص دي چې له استخدام وروسته

[۱] - د ۱۳۹٦ کال د مخدره توکو سره د مبارزې قانون د ۳۰مې مادې ۵ فقرې ته مراجعه وشي: صفا عبد الرحمن، المخبر السرى و أثره على المتهم، ص ٦، ۲۵-۲٦.

او د واکمنو چارواکو د اجازې پر بنسټ او د هغوی د لارښوونې سره سم د جرمي ډلو ترمنځ نفوذ کوي او له پولیسو سره معلومات شریکوي[1].

د دې لپاره چې پټ همکاران وکولای شي د مجرمینو باور ترلاسه کړي او ترڅنګ یې د مجرمینو اصلي شبکه په ګوته کړي، قانوناً هغوی ته له ځانګړو معیارونو او شرایطو سره سم د ځینو جرمي فعالیتونو اجازه ورکول کې.ي چې په راتلونکي مطلب کې څېړل کېږي[2].

## دویم مطلب: د پټو همکارانو د فعالیت ساحه:

پټ همکاران په بېلابېلو برخو کې مهم رول لوبوي چې له هغوی څخه تر ټولو مهم یې عبارت دي له:

۱. **له جرم څخه مخنیوی**: باید یادونه وشي چې له جرم څخه مخنیوی د هغه له کشفولو څخه مهم دی، ځکه که چېرې جرم د هغه له پیښېدو څخه وړاندې کشف شي، د ټولنې نظم اصلاً هیڅ نه ګډوډېږي. له همدې کبله، هغه معلومات چې پټ همکاران یې له پولیسو سره شریکوي، احیاناً د ډېرو جرمونو له پیښېدو څخه د مخنیوي سبب ګرځي.

۲. **د جرم، مجرم او د جرم د دلایلو کشفول:** د پټو همکارانو د فعالیت یو له تر ټولو مهمه ساحه د جرم، مجرم، د جرم د دلایلو او د جرم په اړه د هر ډول معلوماتو کشفول تشکیلوي. په سازمان موندلو جرمونو کې اکثراً مجرمین خو زیات احتیاط کوي ترڅو خپل هیڅ اثر او نښه پرې نږدي. له همدې کبله، غالباً په دا ډول جرمونو کې پولیسو ته ډېره ستونزمنه ده ترڅو له عادي لارې جرم کشف او د فاعلینو، شریکانو، معاونینو، سازمان ورکوونکو، آثارو او د جرم د دلایلو په ګډون د

---

[1] - د مصر په حقوقي نظام کې، هغه همکاران چې له استخدام وروسته د دندې په توګه معلومات ورکوي د " مخبر سری" په نوم یادېږي او معاش ترلاسه کوي، خو عادي خلک که په پټ ډول راپور ورکړي، د "مرشد سری" په نوم یادېږي او مؤظف نه ګڼل کېږي، بلکه د راپور په بدل کې هغوی ته جایزه ورکول کېږي. محمد علی الشهری، ضوابط التعامل مع المخبر السري، ص ۸-۹.

[2] - د ۱۳۹۶ کال له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون د ۳۰مې مادې ۳ او ۴ فقره.

جرم مرتکبین په ګوته کړي. خو د هغو پټو همکارانو څخه په استفادې چې د دغو سازمانونو ترمنځ نفوذ کوي، په راحتۍ سره پولیس کولای شي د پام وړ معلومات کشف کړي.

۳. **تر کنټرول لاندې لېږد:** د پټو همکارانو د پټو فعالیتونو له ساحو څخه یوه تر کنټرول لاندې لېږد څخه عبارت ده. تر کنټرول لاندې لېږد عبارت دی له:« **د مدارکو د راټولولو او د مخدره توکو او مسکراتو د قاچاق د مظنونو اشخاصو د پېژندلو په منظور د عدلي او قضایي واکمنو مراجعو په اجازه په هېواد کې دننه یا د افغانستان له قلمرو څخه یوه یا د څو هېوادونو قلمرو ته، د مخدره توکو، تجهیزاتو، لابراتوارونو او نورو اړوندو اقلامو څخه ډکې ناقانونو محمولو او تر شک لاندې محمولو لېږد (ترانزیت) او لېږد رالېږد ته د اجازې ورکول دي**[1]».

- دولت احیاناً د مخدره توکو له لېږد څخه خبر ترلاسه کړي، خو عمداً هغه ضبط نه کړي، بلکه یوازې تر کنټرول او مراقبت لاندې یې ونیسي او پرېږدي ترڅو د لېږد عملیه له معمول سره سم ترسره شي او په دې برخه کې لیدل کېږي چې نقلیه واسطه چېرته ودرېږي؟ له کومو مسیرونو څخه استفاده کوي؟ کوم اشخاص له هغوی سره په اړیکه کې دي؟ د تلاشۍ له محلونو څخه څنګه رد کېږي؟ آیا له مؤظفینو څخه څوک له هغوی سره همکار دي یا نه؟ او په پای کې کوم مقصد ته تسلیمېږي؟ او څنګه توزیع کېږي؟... دا طریقه له سازمان موندل شوو جرمونو سره په مبارزه کې ګټوره ده، ځکه چې له هغه څخه په استفادې دولت د قاچاق ټولې شبکې کشفوي، او د هغه په نیولو سره د جرم ګراف یو ځلې را ټیټېږي، په داسې حال کې چې که دولت په هماغه لومړنۍ مرحله کې په ضبط او نیولو باندې اقدام وکړي، احتمالاً له عادي اشخاصو څخه څو تنه چې احتمالاً د شبکې غړي نه دي، ویې نیوه، لکه ډرایور، جوالي چې د مخدره توکو د بار کولو په خاطر استخدام شوي دي.

---

[1] - د ۱۳۹۶ کال له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون د ۳مې مادې ۵ جزء.

- منتهی دا عملیه په ورته وخت کې چې خورا مهمه ده، خطرناکه هم ده، ځکه چې تر کنټرول لاندې راوستل او د هغه مستمر مراقبت ستونزمن کار دی. بې احتیاطي ښایي د دې موجب شي چې دولت د هغه رد ورک کړي او یا کشفي کارکوونکي خپل ژوند له لاسه ورکړي. خو دا کار د پټو همکارانو لپاره اسانه دی.

د پورته مواردو سربېره، له پټو همکارانو څخه په نورو برخو کې هم استفاده کېدلای شي، لکه له هغو اشخاصو څخه مراقبت چې د وسلې اجازه اخلي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې د جرمي موخو لپاره هغه نه کاروي[۱].

## دویم مطلب: د پټو همکارانو د فعالیتونو ضوابط:

ولیدل شوه چې پټ همکاران عملاً د جرم تشکیلوونکې مادي کړنې ترسره کوي. له همدې کبله، دوی ظاهراً د ټولنې د نظم په ګډوډۍ کې ونډه اخلي، خو د دې په خاطر د هغوی عمل (د قانوني جواز په سبب تر اباحت حالت لاندې نیول کېږي)، د عدلي تعقیب وړ نه ګڼل کېږي. د دې لپاره چې له دې وسیلې څخه ناوړه ګټه پورته نه شي او د پټ همکار تر چتر لاندې اشخاص جرمي فعالیتونه ترسره نه کړي، نو قانون ورته ځیني معیارونه او ضوابط پېشبیني کړي دي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې د پټ همکار فعالیتونه یوازې او یوازې له جرم سره د مبارزې په برخه کې ترسره کېږي، نه د جرم د ارتکاب یا د هغه د تشویق په برخه کې. د دغو ضوابطو نه رعایتول او یا نه موجودیت د دې سبب ګرځي چې د پټ همکار کړنه د اباحت له دایرې څخه وځي او جرمي مسؤولیت ورته رامنځته کېږي. دا ضوابط عبارت دي له: ۱. له واکمنو مقاماتو څخه مخکینۍ او کتبي اجازه اخیستل، ۲. په ځانګړو جرمونو کې د پټ همکار په توګه فعالیت، ۳. له جرم سره د مبارزې قصد او ٤. له مخدره توکو سره د مبارزې قانون کې له درج شوو کشفي کړنو څخه استفاده او د پولیسو د لارښود رعایت.

---
[۱] - ضوابط التعامل مع المخبر السري، ص ۳۷-۴۰.

**۱. له واکمنو مقاماتو څخه د مخکینۍ او کتبي اجازې ترلاسه کول:**

په دې شرط کې په واقعیت سره درې موضوعات شامل دي: لومړی د اجازې ترلاسه کول؛ دویم: د اجازې کتبي والی؛ دریم: دا چې اجازه له واکمنو چارواکو څخه اخیستل شوې وي.

**واکمن مقامات:** د ۱۳۹٦ کال د جزایي اجراآتو قانون له کشفي پټو اقداماتو څخه د استفادې واک د څارنوالۍ په غوښتنه او د واکمنې محکمې په اجازې پورې منحصر کړی دی، څکه چې د هغه ۱۱۴مه ماده داسې صراحت لري: «کشفي پټ اقدامات **یوازې** د څارنوال په وړاندیز او د محکمې په اجازه، په یوه له لاندې حالاتو کې صادرېدای شي...». خو له مخدره توکو سره د مبارزې قانون دا واک مخدره پولیسو ته هم ور کړی دی او د یو ځانګړي قانون په توګه او لاحق قانون په دې مورد کې د تطبیق وړ دی[1].

له مخدره توکو سره د مبارزې قانون د ۲۴مې مادې ۱ فقره داسې صراحت لري: « **(۱) له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې پولیس کولای شي د مخدره توکو او مسکراتو د قاچاق په شبکو کې د نفوذ او د سندونو، مدارکو او نورو اړینو معلوماتو د راټولولو په منظور، د جزایي اجراآتو د قانون، دغه قانون او نورو تقنیني سندونو د حکمونو مطابق، د کشف او تحقیق په بهیر کې، پټ کشفي اقدامات سرته ورسوي.**».

همدارنګه د نوموړي قانون د ۳۰مې مادې ۱ فقره داسې صراحت لري چې:« **(۱) له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې پولیس کولای شي، د مخدره توکو او مسکراتو د جرمونو د کشف په غرض، له پټو همکارانو څخه ګټه واخلي**».

[1] - د ۱۳۹٦ کال له مخدره توکو سره د مبارزې قانون د ۳۰مې مادې ۱ فقره او د ۲۴مې مادې ۱ فقره.

**د اجازې بڼه او وخت:** اجازه باید په لیکلې بڼه وي[۱]، او په پټو فعالیتونو باندې له اقدام څخه وړاندې ترلاسه او ثبت شي[۲]. له دې تدبیرونو څخه موخه د شفافیت رامنځته کول او له دې طریقې څخه د ناوړې استفادې منع کول دي. ځکه که اجازه لیک په لیکلې بڼه نه وي او د پټ همکار د فعالیتونو له ترسره کولو څخه وړاندې نه وي، او ثبت نه شي، دا امکان لري چې د مخدره توکو یو قاچاقبر له نیولو څخه وروسته د پولیس په ملګرتیا مدعي شي چې په د پټ همکار په توګه یې فعالیت کاوه. البته «...**په بېړنیو حالاتو کې، په شفاهي توګه یا د الکترونیکي اړیکو د وسایلو له لارې اجازه ورکول کېږي، په دې صورت کې، زیات نه زیات د (۷۲) ساعتونو د مودې په ترڅ کې، په لیکلي ډول اجازه صادرېږي، له هغه پرته د پټ همکار د فعالیت دوام غیر قانوني ګڼل کېږي او تر عدلي تعقیب لاندې نیول کېږي**»[۳].

۲. **په ځانګړو جرمونو کې له پټو همکارانو څخه ګټه اخیستل:**

وړاندې ولیدل شول چې یوازې ځانګړې مراجع له پټو همکارانو څخه د ګټې اخیستلو حق لري. په دې ځای کې دا ټکی زیاتېږي چې حتی نوموړې مراجع په هر جرم کې نه شي کولای له پټو همکارانو څخه ګټه پورته کړي. بلکه ځانګړي جرمونه وجود لري چې په هغه کې له پټو همکارانو څخه استفاده جایزه ده. د ۱۳۹٦ کال له مخدره توکو سره د مبارزې قانون د ۳۰مې مادې ۱ فقره په دې اړه داسې صراحت لري:« **(۱) له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې پولیس کولای شي، د مخدره توکو او مسکراتو د جرمونو د کشف په غرض، له پټو همکارانو څخه ګټه واخلي**».

---

[۱] - هماغه، د ۳۰مې مادې ۴ فقره.

[۲] - هماغه، د ۳۰مې مادې ۲ او ۳ فقرې.

[۳] - هماغه، د ۳۰مې مادې ۴ فقره.

نور هغه جرمونه چې په هغوی کې له پټو کشفي اقداماتو (له پټو همکارانو څخه د استفادې په ګډون)[۱] ګټه اخيستل کېدلای شي، د ۱۳۹۳ کال د جزايي اجراآتو قانون په ۱۱۳ مه ماده کې داسې ليست شوي دي:

**« د لاندې جرمونو د مظنونينو او تورنو پر خلاف پټ کشفي اقدامات تر ګټې اخيستنې لاندې نيول کېږي:**

**۱- تروريستي جرمونه، د پيسو تطهير او د تروريزم تمويل.**

**۲- د کورني او بهرني امنيت پرخلاف د جرمونو په قانون کې درج شوي جرمونه.**

**۳- د مخدره موادو او مسکراتو جرمونه.**

**٤- د اداري فساد جرمونه.**

**٥- د اختطاف او د انسان د قاچاق جرمونه.**

**٦- د قتل جرمونه.**

**۷- د عدالت له تطبيق څخه د مخنيوي په منظور، د شاهدانو، قاضيانو او څارنوالانو او د هغوی د هر يو د کورنيو د غړي د تهديد جرمونه، د هغوی تر څېړنې لاندې قضيې په ارتباط.**

**۸- د بين المللي جزايي محکمې په اساسنامه او د روم د ډيپلوماتيک کنفرانس په وروستني سند کې درج شوي جرمونه».**

### ۳. له جرم سره د مبارزې قصد:

پټ همکاران د مخدره توکو په شبکو کې د نفوذ او له هغه سره د مبارزې په منظور له مجرمينو سره اړيکې ټينګوي او اقدام ترسره کوي، نه د قاچاق فعاليتونو د ترسره کولو او د مال ترلاسه کولو په موخه. له همدې

[۱] - د ۱۳۹۳ کال د جزايي اجراآتو قانون په ۱۱۲ ماده کې د درج شوو کشفي پټو اقداماتو په ليسټ کې له پټو همکارانو څخه استفاده درج کړې نه ده. خو د ۱۳۹٦ کال له مخدره توکو سره د مبارزې قانون په خپلې ۲۴ مې مادې کې هغه او ځينې نور موارد اضافه کړي دي.

کبله، د هغوی فعالیتونه کشفي اړخ لري نه تشویقي. په دې معنی چې هغوی جرم نه رامنځته کوي، بلکه هغه کشفوي. لهذا، جایزه نه ده چې پټ همکار دې جرمي مفکوره له هغو اشخاصو سره چې له هغوی سره اړیکې ټینګوي، رامنځته کړي، ځکه چې ښایي عادي اشخاص چې د جرم اراده نه لري، د پټو همکارانو د هڅولو په پایله کې د جرم خوا ته سوق شي.

د ۱۳۹٦ کال له مخدره توکو سره د مبارزې قانون د **۳۰** مې مادې ۲ فقره د پټو همکارانو د فعالیتونو منظور داسې تشریح کوي:

« (۲) پټ همکاران کولای شي، له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې له پولیسو څخه دمخه اجازې په اخیستلو سره، **د مخدره توکو او مسکراتو د قاچاق په شبکو کې د نفوذ، د غیر قانوني فعالیتونو په هکله د معلوماتو د ترلاسه کولو او د مدارکو د راټولولو په منظور، د مخدره توکو او مسکراتو په قاچاق له مظنونو اشخاصو سره اړیکه ټینګه** او له اړوند لارښود سره سم، په دې قانون کې له درج شوو کشفي تګلارو څخه ګټه واخلي».

## ٤. له مخدره توکو سره د مبارزې په قانون کې له درج شوو کشفي طریقو څخه استفاده او د پولیسو لارښود رعایتول:

پټ همکاران مکلف دي ترڅو له مخدره توکو سره د مبارزې په قانون کې له پیشبیني شوو تګلارو او لارو څخه ګټه واخلي او همدارنګه د پولیسو لارښود رعایت کړي. د ۳مې مادې د ۲ فقرې وروستۍ برخه چې پورته ذکر شوه، دې موضوع ته صراحت لري «... او له **اړوند لارښود سره سم، په دې قانون کې له درج شوو کشفي تګلارو څخه ګټه واخلي**». د همدې مادې د درېیمې فقرې وروستی جزء هم صراحت لري چې «... هغه پټ همکاران چې **د مسؤولو مراجعو د لارښود خلاف** د سرغړونې مرتکب شي یا په هغه کې ګډون وکړي، د قانون مطابق د خپل هر ډول ارتکابي جرم پر وړاندې، تر عدلي تعقیب لاندې نیول کیږي».

په دې اساس، پټ همکار مکلف دی له مخدره توکو سره د مبارزې پولیسو اجازه لیک په سمه توګه مطالعه کړي او هغه لارښود چې د پولیسو لخوا د هغه اعمالو چې باید ترسره یې کړي، د ډول او حدودو په اړه درج او په جدي ډول دې رعایت کړي. د پورته ذکر شوې مادې د ۴مې مادې وروستی جزء د لارښود د موضوعاتو په اړه داسې توضیحات وړاندې کوي:

**« ... په نوموړې اجازه لیک کې حتی الامکان د هغو اعمالو ډول او حدود چې پټ همکار کولای شي هغه سرته ورسوي یا په کې ګډون وکړي، تصریح او د پټ همکار فعالیتونه د مؤظفو مسؤولینو لخوا ثبتېږي".**

**(۲۰) شلم فعالیت**

**مباحثوي پوښتنه:**

د مخدره توکو او مسکراتو له جرمونو سره د مبارزې په قانون کې درج شوې کشفي تګلارې لیست کړئ.

**(۲۱) یوویشتم فعالیت**

**مباحثوي پوښتنه:**

د ۱۳۹۳ کال د جزایي اجراآتو قانون په ۱۱۴مې ماده کې د کشفي پټو اقداماتو لپاره یو شمېر شرایط پیشبیني کړي دي. دا چې له مخدره توکو سره د مبارزې قانون له پټو همکارانو څخه استفاده د کشفي پټو اقداماتو یوه برخه ګڼلې ده[1]، آیا د جزایي اجراآتو په قانون کې د پټو همکارانو څخه د استفادې په اړه نوموړي شرایط د رعایت وړ دي یا نه؟

د جزایي اجراآتو قانون د ۱۱۴مې مادې متن:

[1] - نګاه شود جزء ۲ فقرۀ ۲ مادۀ ٢٤ قانون مبارزه با مواد مخدر و مسکرات(۱۳۹٦).

**«کشفي پټ اقدامات يوازې د څارنوال په وړانديز او د محکمې په اجازه، په يوه له لاندې حالاتو کې صادرېداى شي:**

**۱- په هغه صورت کې چې شخص ددې قانون په يو سلو ديارلسمه ماده کې له درج شوو جرمونو څخه د يوه په ارتکاب مظنون يا تورن وي يا د هغه په ارتکاب کې شريک وي.**

**۲- په هغه صورت کې چې د پام وړ سندونو او مدارکو د راټولولو امکان له بلې لارې څخه موجود نه وي او يا يې له بلې لارې څخه راټولول د ستونزو د پيدا کېدو باعث شي.**

**۳- په هغه صورت کې چې شخص د دې قانون په يو سلو ديارلسمه ماده کې په درج شوو جرمونو کې د معلوماتي يا مخابراتي ټکنالوژۍ له وسايلو څخه د مظنون يا تورن د ګټې اخيستنې په مورد د علم با وجود، دغه وسايل د مظنون يا تورن په واک کې ورکړي.**

**٤- په هغه صورت کې چې شخص مظنون يا تورن ته په جرم پورې د اړوندو معلوماتو د برابرولو يا ترلاسه کولو وسيله شي».**

احتمالي ځواب:

ليدل کېږي چې پورته ذکر شوي شرايط له پټو همکارانو څخه د استفادې په اړه د رعايت وړ نه دي. ځکه چې له مخدره توکو سره د مبارزې قانون د دې سربېره چې له پټو همکارانو څخه استفاده د کشفي پټو اقداماتو برخه ګڼلې ده، د هغه لپاره يې ځانګړي شرطونه په ۳۰مه ماده کې پېشبيني کړې دي. همدارنګه د جزا کود، له کشفي پټو اقداماتو څخه سرغړونه يې يو جرم (۳۲۰ او ۳۲۱ مادې) او د پټو همکارانو سرغړونې يې بل جرم (۳۱۹ ماده) تلقي کړی دی او دا دليل شمېرل کېږي پردې بنسټ چې پټ همکاران خپل ځانګړي احکام لري.

آيا تاسو له دې ځواب سره موافق ياست او يا که کوم بل نظر لرئ؟

## درېیم مطلب: د پټو همکارانو د سرغړونو جرم عناصر:

په لاندې کرښو کې د دې جرم مادي او معنوي عناصر بیانېږي.

### الف: مادي عنصر:

د پټو همکارانو د سرغړونو جرم له مطلق جرمونو څخه دی، ځکه چې قانون د هغه تکمیل ته د پایلې رامنځته کېدل شرط نه دی ایښی. د جزا کود ۳۱۹مه ماده داسې تصریح شوې ده:«**که چېرې مخفي همکار د قانون د حکمونو پر خلاف فعالیت وکړي، تر دریو کلونو پورې په متوسط حبس، محکومېږي**».

له همدې کبله، د دې جرم مادي عنصر له فعل او د مرتکب له صفت څخه عبارت دي.

#### ۱. فعل (د جرم مادي کړنه):

فعل او یا د دغه جرم تشکیلوونکې کړنه د «قانون د حکمونو برخلاف فعالیت» څخه عبارت ده.

د قانون د حکمونو برخلاف فعالیت زیاتې بڼې درلودلای شي:

الف: ښایي پټ همکار له لارښودونو، د فعالیت د تګلارې طرز العملونو او داسې نورو مسؤولیتونو چې یو همکار یې باید رعایت کړي، څخه سرغړونه کوي.

ب: ښایي د مخدره توکو د قاچاق په جرم کې ونډه واخلي.

ج: ښایي د فعالیت پرمهال نور جرمونه ترسره کړي، لکه ضرب او جرح، مالي زیان او داسې نور.

د: ښایي د غیر جزایي قوانینو حکمونه نقض کړي.

هغه پوښتنه چې مطرح کېږي دا ده چې د جزا کود په ۳۱۹مه ماده کې له «قانون» څخه مراد څه دی؟ آیا له ټولو څلور ډوله قوانینو سره د مخالفت جزا متوسط حبس دی؟ لیدل کېږي چې پیشبیني شوې جزا د لومړي ډول سرغړونو پورې منحصره ده. څلورم ډوله (د) سرغړونې یعنې د مدني، تجارتي او داسې نورو قوانینو له حکمونو څخه سرغړونه چې جرم نه دی، په ۳۱۹مه ماده کې نه شاملېږي. دویم او درېیم ډول (ب او ج) سرغړونه یعنې د قاچاق په جرم کې ګډون او یا د نورو جرمونو ارتکاب، که چېرې د پولیس په

اجازه وي، د اباحت حالت لاندې قرار نیسي، ځکه چې له مخدره توکو سره د مبارزې قانون د **۳۰**مې مادې ۳ او ۴ فقرې پولیسو ته واک ورکړی دی چې پټ همکار ته په جرم کې د ګډون اجازه ورکړي. خو که همکار ته یوازې د مشخصو معلوماتو د ترلاسه کولو اجازه ورکړل شوې وي، نه په جرم کې اشتراک او همکار د لارښود برخلاف په جرم کې اشتراک وکړي، همکار د ارتکابي جرم مسؤولیت پر غاړه اخلي او د جرمونو د تعدد حالت رامنځته کېږي او همدارنګه د جزا کود **۳۱۹**مه ماده د تطبیق وړ ګرځي او هم د ارتکابي جرمونو تنظیمونکې مادې او د هر جرم جزا چې شدیده وي، پر پټ همکار اجراء کېږي. له مخدره توکو سره د مبارزې قانون د **۳۰**مې مادې ۳ فقره داسې صراحت لري «... هغه پټ همکاران چې د مسؤولو مراجعو د لارښود خلاف د سرغړونې مرتکب شي یا په هغه کې ګډون وکړي، **د قانون مطابق د خپل هر ډول ارتکابي جرم پر وړاندې**، تر عدلي تعقیب لاندې نیول کېږي». «**د هر ډول ارتکابي جرم پر وړاندې**» تعبیر وایي چې پټ همکار د ارتکابي جرم مسؤولیت هم پر غاړه اخلي.

| **(۲۲) دوویشتم فعالیت** |
| --- |
| **مباحثوي پوښتنه:** |
| له مخدره توکو سره د مبارزې قانون د **۳۰**مې مادې ۴ فقرې د مخدره توکو پولیسو ته یې د « **د معلوماتو ترلاسه کولو یا په جرمونو کې د ګډون لپاره پټو همکارانو ته د اجازې ورکولو**...» صلاحیت ورکړی دی. ستاسو له نظره د «جرمونو» توري کې کوم جرمونه شاملېږي؟ آیا ټول جرمونه (قباحت، جنحه او جنایت)؟ او که چېرې هغه د جرمونو په کوم ځانګړي ډول پورې منحصروئ، نو ستاو دلیل څه دی؟ |

**۲. د مرتکب صفت:**

د جزا کود په **۳۱۹**مه ماده کې په درج شوي جرم مرتکب باید د پټو همکارانو له جملې څخه وي، پرته له دې نوموړې ماده د تطبیق وړ نه ده.

**انتقادي فکر/نیوکه**

د جزا کود په ۳۱۹مه ماده کې د درج شوي جرم مادي کړنې، د جزا حقوقو د اصولو برخلاف په واضح او روښانه توګه مشخص شوي نه دي. ځکه چې دا جمله «که پټ همکار **د قانون د حکمونو برخلاف عمل وکړي**» دا یو خورا پراخه تعبیر او د بېلابېلو تفسیرونو وړ دي. غوره به وای که قانون جوړوونکي د تخلف بېلابېل موارد مشخص کړي وای لکه څرنګه چې په ۳۲۰مه ماده کې تخلفات د کشفي پټو اقداماتو په اجراء کولو کې یې مشخص کړي دي.

له بله پلوه، دا ماده یوازې د پټو همکارانو له سرغړونو څخه بحث کړی دی، په داسې حال کې چې له پټو همکارانو څخه د استفادې اړوند ځیني قواعد پولیسو پورې اړه لري. هغه پولیس چې له پټو همکارانو څخه ګټه اخلي، نه په خپله همکاران. د بېلګې په ډول؛ د کتبي اجازه لیک ثبت چې له مخدره توکو سره د مبارزې قانون د ۳۰مې مادې په ۴ فقره کې پېشبیني شوې ده او په ۷۲ ساعتونو کې د کتبي اجازه لیک صادرول که چېرې د عاجل ضرورت په سبب شفاهي او یا الکترونیکه اجازه صادره شوې وي[1]، او یا د پټ همکار د فعالیتونو ثبتول او یا دا چې په اجازه لیک کې د همکار د فعالیت ډول او د هغه د ترسره کولو څرنګوالی شامل وي[2].

نو، غوره به وای چې د دې جرم عنوان د «د پټ همکار سرغړونو» پر ځای داسې وای « له پټ همکار څخه په استفاده کې سرغړونې» او د هغه لاندې دواړه ډول سرغړونې جرم انګاري کېدلې: ۱. د استخداموونکو مراجعو سرغړونې او ۲. د پټو همکارانو سرغړونې.

---

[1] - له مخدره توکو سره د مبارزې قانون د ۳۰مې مادې ۴ فقره داسې صراحت لري: «... په بېړنیو حالاتو کې، په شفاهي توګه یا د الکترونیکي اړیکو د وسایلو له لارې، اجازه ورکول کېږي، په دې صورت کې، زیات نه زیات د (۷۲) ساعتونو د مودې په ترڅ کې، په لیکلي ډول اجازه صادرېږي، **له هغه پرته د پټ همکار د فعالیت دوام غیر قانوني ګڼل کېږي او تر عدلي تعقیب لاندې نیول کېږي**». جالبه دا ده چې چې د (۷۲) ساعتونو په ترڅ کې په لیکلي ډول د اجازه لیک نا صادرېدل د پټ همکار د عدلي تعقیب لامل ګرځي، نه د پولیسو.

[2] - له مخدره توکو سره د مبارزې قانون د ۳۰مې مادې د ۴ فقرې وروستی جزء.

**ب: معنوي عنصر:**

د پټ همکار د سرغړونو جرم له عمدي جرمونو څخه دی، نو د هغه په معنوي عنصر کې علم او اراده شامل دي. یعنې متخلف پټ همکار هغه وخت د مجازاتو وړ ګڼل کېږي چې په آګاهانه او عامدانه توګه د تخلف مرتکب شوی وي.

## څلورم مطلب: د پټو همکارانو د سرغړونو جرم جزا:

د پټو همکارانو د سرغړونو د جرم جزا تر دریو کلونو (له یو کال څخه زیات د درېیم کال تر پای پورې) له متوسط حبس څخه عبارت ده. د جزا کود ۳۱۹مه ماده صراحت لري: « که چېرې مخفي همکار د قانون د حکمونو پر خلاف فعالیت وکړي، تر دریو کلونو پورې په متوسط حبس، محکومېږي».

## درېیمه وینا: کشفي مخفي غیر قانوني اقدامات:

د جزا کود ۳۲۱مه ماده صراحت لري: « **که چېرې د عامه خدمتونو مؤظف په قانون کې له درج شوو مواردو پرته کشفي مخفي اقدامات ترسره کړي، له دوو کلونو څخه زیات په متوسط حبس، محکومېږي**».

د دې وینا لاندې لومړی د دې جرم اړوند مفاهیم تشریح کېږي (لومړۍ وینا)، بیا د هغه عناصر او مجازات په دویم او درېیم ویناوو کې واضح کېږي.

## لومړی مطلب: د مفاهیمو تشریح:

د عامه خدمتونو مؤظف څوک دی؟ مخفي کشفي اقدامات څه دي؟ په کومو مواردو کې له دې اقداماتو څخه ګټه اخیستنه جایزه ده؟ دا هغه درې پوښتنې دي چې په دې مطلب کې ورته ځواب ورکول کېږي.

**الف: د عامه خدمتونو مؤظف:**

د جزا کود د ۴مې مادې ۳ جزء د عامه خدمتونو مؤظف داسې تعریف کړی دی:

**«د عامه خدمتونو مؤظف: هغه شخص دی چې د عامه خدمتونو اجراء ته مؤظف شوی وي او لاندې اشخاص په کې شامل دي:**

**- د دولت، دولتي تصديو او شرکتونو کارکوونکی.**

**- د عامه مؤسسو کارکوونکی.**

**- د دولت د ارکانو او د ولايتي او ولسوالۍ شوراګانو غړي.**

**- قاضي، څارنوال، مدافع وکيل، حکم، اهل خبره او نور هغه اشخاص چې د هغوی تصديقونه معتبر وپيژندل شي.**

**- هغه شخص چې رسماً د عامه خدمتونو پر ترسره کولو مؤظف شوی وي».**

**ب: کشفي مخفي اقدامات:**

په لاندې کرښو کې کشفي مخفي اقدامات تعريفېږي (يو) او له هغوی څخه د استفادې شرايط بيانېږي (دوه).

**يوه: د کشفي مخفي اقداماتو مفهوم:**

کشفي مخفي اقدامات (او يا مخفي کشفي[1]) د ځينو کشفي اجراآتو څخه عبارت دي چې د پوليسو لخوا او يا د هغوی په لارښود په پټه توګه د جرم، مجرمينو او د جرم د دلايلو په اړه د معلوماتو راټولولو په منظور ترسره شي لکه، د مکالمو اورېدل او داسې نور.

کشفي مخفي اقداماتو کې ۷ ډوله اقدامات شامل دي چې پنځه هغه يې د جزايي اجراآتو په قانون (۱۳۹۳) کې او ۲ نور موارد يې[2] له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې په قانون کې تنظيم شوي دي.

[1] - دواړه تعبيرونه واحده معنی لري. د جزايي اجراآتو په قانون کې له (کشفي مخفي اقداماتو) تعبير څخه استفاده شوې ده او له مخدره توکو سره د مبارزې په قانون او جزا کود کې له (مخفي کشفي اقداماتو) تعبير څخه استفاده شوې چې خورا دقيقه ده.

[2] - له مخدره توکو سره د مبارزې قانون ظاهراً ۳ اضافي حالتونه ذکر کړي دي خو دا چې د هغه وروستی حالت تکراري دی، په دې ځای کې نه دی محاسبه شوی. د نوموړي قانون د ۲۴مې مادې د ۲ فقرې ۴ جزء دې د جزايي اجراآتو قانون د ۱۱۲مې مادې د ۲ فقرې له ۲ جزء سره پرتله شي.

د جزايي اجراآتو قانون د ۱۱۲مې مادې ۲ فقره دا موارد داسې بيانوي:

**«(۲)کشفي پټ اقدامات عبارت دي له:**

**۱- د ټېلفون، کمپيوټر، انټرنيټ يا نورو معلوماتي مخابراتي او ټکنالوژي وسايلو له لارې د مظنونو او تورنو اشخاصو د مکالمو د محتوياتو او ارتباط اوريدل، څارل يا ثبتول او د مکالمو او د ارتباط د ډول، ځای، سرچينې، واټن (مسافې)، تگلورې (مسير)، زمان، نېټې، اندازې، مودې په هکله د اطلاعاتو راټولول.**

**۲- په خصوصي اماکنو، کورونو او عامه ځايونو کې د اشخاصو الکترونيکي پټه څارنه يا د مکالمو، حرکاتو او يا فعاليتونو ثبتول.**

**۳- د هغو مالي معاملو څارنه چې د بانکونو يا نورو مالي او سوداگريزو مؤسسو له لارې صورت مومي.**

**٤- د مکتوب، بستې (غوټې)، کانتينر، پارسل، مادي او تخنيکي وسايلو پلټنه.**

**٥- د افغانستان له قلمرو څخه د يوه يا څو نورو هېوادونو قلمرو ته، د عدلي او قضايي واکمنو مراجعو په خبرتيا او تر څارنې لاندې د غير قانوني يا مشکوکو محمولو لېږدېدو، عبور او مرور (تر څارنې لاندې تسليم ورکولو) ته اجازه ورکول».**

له مخدره توکو سره د مبارزې قانون د ۲۴مې مادې ۲ فقره درې نور موارد ور اضافه کړي دي:

**« (۲) پټ کشفي اقدامات په لاندې مواردو کې شامل دي:**

**۱- هغه موارد چې د جزايي اجراآتو په قانون کې پېشبيني شوي دي.**

**۲- هغه پټ فعاليتونه چې د جرمونو د کشف او مخدره توکو او مسکراتو د قاچاق د مظنونيو د نيولو په منظور، د مظنون د تعقيب، له پټو همکارانو څخه د گټې اخيستنې او له نورو اړوندو مراجعو سره د استخباراتي معلوماتو د راکړې ورکړې له لارې، د کشفي مراجعو په واسطه، صورت مومي.**

**۳- هغه محرم فعالیت چې د مخدره توکو او مسکراتو د قاچاق په سازمان موندل شوو شبکو کې د نفوذ په منظور، د جرمونو د کشف او د مخدره توکو او مسکراتو د قاچاق د مظنونینو د نیولو په غرض، د پولیسو په واسطه د کذب هویت څخه په ګټې اخیستنې سره، صورت مومي.**

**٤- په مشکوکو خصوصي او عمومي کورونو او اماکنو کې د مظنونو اشخاصو د اعمالو او حرکتونو د ثبت لپاره د الکترونیکي وسایلو نصبول».**

**(۲۳) درویشتم فعالیت**

**مباحثوي پوښتنه:**

له مخدره توکو سره د مبارزې قانون د ۲۴مې مادې د ۲ فقرې په ۲ او ۳ جزؤنو کې چې پورته ذکر شول، لاندې اعمال یې پټ کشفي اجراآت ګڼلي دي:

۱. د مظنون تعقیبول ؛ ۲. له پټو همکارانو څخه استفاده؛ ۳. د استخباراتي معلوماتو تبادله؛

٤. له کاذب هویت څخه په استفادې د پولیسو محرم فعالیتونه.

دا په داسې حال کې ده چې پټ کشفي اجراآت په خپله ځانګړې حکمونه او قواعد لري چې د جزایي اجراآتو قانون[1] په ۱۱۳ تر ۱۱٦ مادو کې تنظیم شوي دي.

**پوښتنه:** ستاسو له نظره، آیا د جزایي اجراآتو په قانون کې د درج شوو پټو کشفي اجراآتو حکمونه په پورته څلورو ذکر شوو مواردو تطبیقېږي یا نه؟ که نه تطبیقېږي، نو ولې له مخدره توکو سره د مبارزې قانون دا موارد پټ کشفي اجراآت ګڼلي دي؟

[1] - د جزایي اجراآتو قانون اړوند مادې په دې روزنیزه رساله کې راوړل شوي دي. ص .

**دوه: له پټو کشفي اقداماتو څخه د استفادې شرایط:**

له پټو کشفي اقداماتو څخه د استفادې لپاره پنځه شرطونه شتونه لري:

**۱. د قانونیت د اصل رعایتول:**

پټ کشفي اقدامات د افرادو پر خصوصي ژوند یو ډول تېری او تعرض ګڼل کېږي او د هغوی خصوصي حریم او اساسي حقوق نقض کوي، له همدې کبله، د قانون له حکم پرته جواز نه لري. د افغانستان اساسي قانون په خپله ۳۷مه ماده کې په دې اړه داسې صراحت لري:

«**د اشخاصو د مخابرې او لیکونو آزادي او محرمیت که په لیکلي ډول وي یا د ټیلیفون او تلګراف یا نورو وسیلو له لارې، له تېری څخه خوندي دي. دولت د اشخاصو د مخابرو او لیکونو د پلټنې حق نه لري، مګر د قانون له حکمونو سره سم**».

د دې اصل پر بنسټ، له پټو کشفي اقداماتو څخه د استفادې موارد او د هغوی د اجراء څرنګوالی باید په قانون کې پېشبیني شوی وي.

**۲. له پټو کشفي اقداماتو څخه د استفادې د محدودیت رعایتول:**

د افغانستان قوانین له پټو کشفي اقداماتو څخه ګټنه په محدودو مواردو کې مجاز ګڼل شوی دی. نو یوازې په همدې مواردو کې له هغوی څخه استفاده کېدلای شي.

دا موارد د جزایي اجراآتو د قانون په ۱۱۳ مه ماده داسې بیان شوي دي:

«**د لاندې جرمونو د مظنونینو او تورنو پر خلاف پټ کشفي اقدامات تر ګټې اخیستنې لاندې نیول کېږي:**

**۱- تروریستي جرمونه، د پیسو تطهیر او د تروریزم تمویل.**

**۲- د کورني او بهرني امنیت پر خلاف د جرمونو په قانون کې درج شوي جرمونه[1].**

**۳- د مخدرو موادو او مسکراتو جرمونه.**

---

[1] - نوموړی قانون د جزا کود د ۹۱۶مې مادې د ۲ فقرې د ٦ جزء پر بنسټ لغوه شوی دی. نوموړي جرمونه د ۱۳۹٦ کال د جزا کود د دویم کتاب په لومړي باب کې په ۲۳۷ تر ۲٦۲ مادو کې تنظیم شوي دي.

**٤- د اداري فساد جرمونه.**

**٥- د اختطاف او د انسان د قاچاق جرمونه.**

**٦- د قتل جرمونه.**

**٧- د عدالت له تطبيق څخه د مخنيوي په منظور، د شاهدانو، قاضيانو او څارنوالانو او د هغوی د هر يو د کورنيو د غړي د تهديد جرمونه، د هغوی تر څېړنې لاندې قضيې په ارتباط.**

**٨- د بين المللي جزايي محکمې په اساسنامه او د روم د ډيپلوماتيک کنفرانس په وروستني سند کې درج شوي جرمونه[۱]».**

د بين المللي جزايي محکمې په اساسنامه کې په درج شوي جرمونو کې ٦ ډوله جرمونه شامل دي. د هغوی پنځه مهم موارد د نوموړې اساسنامې په پنځمه ماده کې ذکر شوي چې عبارت دي له:

۱. نسل وژنه (جينوسايډ)؛ ۲. د بشريت پر خلاف جرمونه؛

۳. جنګي جرمونه؛ ٤. د تېري جنايت؛

پورته جرمونه د افغانستان د جزا کود په دويم کتاب کې په څلورو فصلونو کې تنظيم شوي دي (۳۳۲ تر ۳۴۳ مواد).

د هغه شپږم مورد د عدالت پر وړاندې جرمونو څخه عبارت دی چې د نوموړې اساسنامې په ۷۰مه ماده کې ذکر شوي دي.

۱ - Final Act of the United Nations Diplomatic Conference of Plenipotentiaries on the Establishment of an International Criminal Court (۱۹۹۸).

که څه هم، د روم د ډیپلوماتیک کنفرانس په وروستي سند کې په درج شوو جرمونو کې تروریستي جرمونه او د مخدره موادو جرمونه شامل دي[۱]. دا دوه جرمونه د هېوادونو ترمنځ د اختلاف له امله د بین المللي جزایي محکمې[۲] په صلاحیت کې شامل شوي نه دي.

پټ کشفي اجراآت هماغه ډول چې د پورت جرمونو د مرتکبینو پر وړاندې کارول کېږي، د اشخاصو په دوو نورو کټګوریو هم کارول کېږي چې د جزایي اجراآتو د ۱۱۴مې مادې په ۳ او ۴ فقرو کې ذکر شوي دي:

۱. هغه شخص چې د معلوماتي یا مخابراتي ټکنالوژۍ وسایل د پورته جرمونو د مرتکبینو په واک کې ورکوي، په دې اړه د علم باوجود چې دغه وسایل په پورته جرمونو کې کاروي؛
۲. هغه شخص چې د پورته جرمونو مرتبط معلومات د نوموړو جرمونو مرتکبینو ته برابر او یا ترلاسه کړي.

د جزایي اجراآتو د قانون متن په لاندې ډول دی:

**«کشفي پټ اقدامات یوازې د څارنوال په وړاندیز او د محکمې په اجازه، په یوه له لاندې حالاتو کې صادرېدای شي:**

**۱-....**

**۲-....**

**۳- په هغه صورت کې چې شخص د دې قانون په یو سلو دیارلسمه ماده کې په درج شوو جرمونو کې د معلوماتي یا مخابراتي ټکنالوژۍ له وسایلو څخه د مظنون یا تورن د ګټې اخیستنې په مورد د علم با وجود، دغه وسایل د مظنون یا تورن په واک کې ورکړي.**

[۱] - د روم ډیپلوماتیک کنفرانس د وروستي سند لومړۍ ضمیمه (په ۱۹۹۸ کال کې تصویب شوی).

[۲]- International Criminal Court (ICC).

**٤- په هغه صورت کې چې شخص مظنون یا تورن ته په جرم پورې د اړوندو معلوماتو د برابرولو یا ترلاسه کولو وسیله شي».**

### ۳. د واکمنو مراجعو اجازه:

محکمه یوازینۍ مرجع ده چې د پټو کشفي اقداماتو د اجراء اجازې صادرولو واک لري او هغه هم له خپلې خوا نه، بلکه د څارنوال د وړاندیز پر بنسټ. د جزایي اجراآتو قانون ۱۱۴ ماده داسې صراحت لري:

**«کشفي پټ اقدامات یوازې د څارنوال په وړاندیز او د محکمې په اجازه، په یوه له لاندې حالاتو کې صادرېدای شي...».**

د «یوازې» کلمه د حصر افاده کوي. په دې معنی چې له څارنوال پرته څوک د غوښتنې حق نه لري او له محکمې پرته بل د اجازې د صادرولو حق نه لري. له مخدره توکو سره د مبارزې قانون د ۲۴مې مادې ۱ فقره له مخدره توکو سره د مبارزې پولیسو ته د پټو کشفي اجراآتو د ترسره کولو واک ورکړی دی خو قید یې ایښی دی چې د جزایي اجراآتو د قانون او نورو قوانینو په رڼا کې. نو لازمه ده نوموړي پولیس د پټو کشفي اقداماتو اجازه د څارنوال له لارې له محکمې څخه ترلاسه کړي.

د یادونې وړ ده چې دا شرط په هغه شمېر پټو کشفي اجراآتو پورې منحصر دی چې د جزایي اجراآتو په قانون کې ذکر شوی دی. خو هغه موارد چې له مخدره توکو سره د مبارزې په قانون کې د پټو کشفي اقداماتو په توګه اضافه شوي دي[1] لکه له پټو همکارانو څخه استفاده او داسې نور، تر دې شرط لاندې قرار نه نیسي، ځکه چې د هغه اجراء کول د پولیسو له صلاحیتونو څخه دی[2] او د محکمې د اجازې ترلاسه کول د پولیسو د فعالیتونو د وروستي کېدلو سبب ګرځي. له همدې کبله، له مخدره توکو سره د مبارزې قانون د ۲۴مې مادې ۲ فقره د پټو کشفي اقداماتو ساحې ته یې پراخوالی ورکړی دی، د نیوکې وړ دی.

---

[1] - اجزای ۲ و ۳ فقرهٔ ۲ مادهٔ ٢٤ قانون مبارزه با مواد مخدر و مسکرات(۱۳۹٦).

[2] - د بېلګې په ډول؛ له مخدره توکو سره د مبارزې قانون ۳۰مې مادې ته دې وکتل شي چې له مخدره توکو سره د مبارزې پولیسو ته یې له پټو همکارانو څخه د استفادې د اجازه لیک صادرولو واک ورکړل شوی دی.

**٤. له نورو کشفي تګلارو څخه د استفادې د امکان نشتوالی:**

له پټو کشــفي تګلارو څخه اســتفاده هغه وخت جایزه ده چې کشــفي فعالیتونه له عادي لارې امکان نه لري او یا د ســتونزو لامل ګرځي. د جزایي اجراآتو قانون د ۱۱۴مې مادې ۲ جزء په دې اړه داســې صراحت لري:

**« کشفي پټ اقدامات یوازې د څارنوال په وړاندیز او د محکمې په اجازه، په یوه له لاندې حالاتو کې صادرېدای شي:**

**۱-...**

**۲- په هغه صورت کې چې د پام وړ سندونو او مدارکو د راټولولو امکان له بلې لارې څخه موجود نه وي او یا یې له بلې لارې څخه راټولول د ستونزو د پیدا کېدو باعث شي».**

**٥. په قانون کې د پېشبیني شوو اجراآتو او میعادونو رعایتول:**

د پټو کشفي اقداماتو لپاره په قانون کې ځانګړي اجراآت پېشبیني شوي دي چې د هغوی رعایتول حتمي دي.

د هغوی له جملې:

- پولیس مکلف دي د پټو کشفي اقداماتو اجازه د اړوند څارنوال له لارې له واکمنې محکمې څخه ترلاسه کړي[1].
- د پورته ذکر شوي اجازه لیک د ترلاسه کولو په خاطر، پولیس مکلف دي لیکلې غوښتنه چې لاندې معلومات ولري، اړوندې څارنوالۍ ته وړاندې کړي:

**«۱- د هغه شخص بشپړ شهرت چې پر خلاف یې کشفي پټ اقدامات غوښتل شوي دي.**

**۲- د جرم ډول.**

[1] - د (۱۳۹۳) کال د جزایي اجراآتو قانون د ۱۱۵ مادې ۱ فقره..

**۳- د کشفي پټو اقداماتو ډول.**

**٤- د کشفي پټو اقداماتو د اجراء مؤجه دلایل.**

**۵- د پیل نېټه او هغه موده چې د کشفي پټو اقداماتو لپاره غوښتل کېږي**»[۱] .

- د پټو کشفي اقداماتو ترسره کول یوازې د کشف او څېړنې پرمهال جایز دي[۲]. ځکه چې له دې اجراآتو څخه موخه د جرم اړوندو معلوماتو راټولول دي، نو که د جرم او یا د هغه د شک او شبهې راپور موجود نه وي او یا د څېړنې پړاو پای ته رسېدلی وي او محکمې خپل حکم صادر کړی وي، د پټو کشفي اقداماتو ترسره کولو ته هیڅ اړتیا نشته. خو دا چې بل جرم او یا د هماغه جرم تکرار په اړه راپور ورکړل شوی وي.
- د پټو کشفي اقداماتو د نیولو ټولټال موده ۹۰ ورځې ده. پولیس مکلف دي د کار د پرمختګ راپور له هرو ۳۰ ورځو وروسته څارنوالۍ ته وړاندې کړي او څارنوالۍ یې بیا محکمې ته[۳]. له راپور سره یوځای «**د اوربدل شوو مکالمو ریکارد یا د ارتباط سندونه په مناسبه محفظه کې مهر او لاک کېږي او د اورېدنې یا څارنې د ټاکلې دورې له پایته رسېدو څخه وروسته د (۳۰) ورځو په ترڅ کې، له لاس وهنې یا ویجاړولو او له غیر قانوني افشاء څخه د ساتنې په منظور، د اورېدنې یا څارنې د حکم صادروونکې محکمې ته ور تسلیمېږي**[٤]» . د اړتیا په صورت کې، د مودې د تمدید وړاندیز له مخکینۍ اورېدنې څخه له ترلاسه شوو دلایلو او پایلو سره د څارنوالۍ له لارې محکمې ته وړاندې کېږي.
- د قضایي ضبط مامور حق نه لري غیر جرمي مکالمې واوري[۵].

---

[۱] - د (۱۳۹۳) کال د جزایي اجراآتو قانون د ۱۱۵ مادې ۱ فقره.

[۲] - د (۱۳۹۳) کال د جزایي اجراآتو قانون د ۱۱٦ مادې ۲ فقره.

[۳] - د (۱۳۹۳) کال د جزایي اجراآتو قانون د ۱۱٦مې مادې ۳ فقره.

[٤] - د (۱۳۹۳) کال د جزایي اجراآتو قانون ۱۱۸ ماده.

[۵] - د (۱۳۹۳) کال د جزایي اجراآتو قانون ۱۱۷ ماده.

**(۲۴) څلروېشتم فعالیت**

**مباحثوي پوښتنه:**

د پټو کشفي اقداماتو مودې اکثر حد د څو ځلو او هر ځلې د څومره مودې لپاره د تمدید وړ دی؟

## دویم مطلب: د پټو کشفي غیرقانوني اقداماتو د جرم عناصر:

لاندې د دې جرم مادي او معنوي عناصر څېړل کېږي. قانوني عنصر په قانون کې د جرم او جزا له تصریح څخه عبارت دی چې دا هم ورسره څېړل کېږي.

**الف: مادي عنصر:**

د پټو کشفي غیر قانوني اقداماتو جرم له پایله لرونکي جرمونو څخه دی. نو د هغه په مادي عنصر کې فعل، د مرتکب صفت، پایله او د سببیت اړیکه شامل دي چې هر یو یې په لاندې ډول بیانېږي.

**۱. فعل:**

فعل، په قانون کې له درج شوو مواردو پرته (په قانون کې له پېشبیني شوو جرمونو پرته) د پټو کشفي اقداماتو ترسره کولو څخه عبارت دی. هغه جرمونه چې په هغوی کې له پټو کشفي اقداماتو څخه استفاده جایزه ده، د جزایي اجراآتو د قانون په ۱۱۳ ماده او د ۱۱۴ مادې په ۳ او ۴ فقرو کې ذکر شوي دي او په دې روزنیزه رساله کې وړاندې د (له پټو کشفي اقداماتو څخه د استفادې شرطونو) تر عنوان لاندې واضح کړل شوي دي[۱].

د یادونې وړ ده چې دا ماده یوازې د همدې سرغړونې په برخه کې د تطبیق وړ ده. خو له پټو کشفي اقداماتو څخه د استفادې پرمهال د سرغړونو نور ډولونه تر دې مادې لاندې د تعقیب وړ نه دي، لکه د شرطونو نه رعایتول، د پټو کشفي اقداماتو اجراآت او یا موده. د بېلګې په ډول؛ کله چې د عامه خدمتونو مؤظف د

[۱] - د دې روزنیز کتاب له ۹۸ تر ۱۰۹ پاڼو ته دې وکتل شي.

واکمنې محکمې له اجازې پرته او یا له مودې دباندې مکالمې اوري، او یا شخصي او د غیر جرمي اشخاصو مکالمې اوري او ثبتوي.... او داسې نور. دا ټولې کړنې د پټو کشفي اقداماتو په ترسره کولو کې سرغړونه ده چې تصور کېږي د عامه خدمتونو مؤظفین د هغه مرتکب شي. خو هیڅ یو تر دې مادې لاندې د تعقیب وړ نه دي. د جزا کود ۳۲۰مه ماده چې عنوان یې «**د مخفي کشفي اقداماتو په اجراء کې د سرغړونو مجازات**» دی، یوازې له افشاء څخه بحث کوي. نو، دا پوښتنه مطرح کېږي چې ولې د عامه خدمتونو د مؤظفینو نورې سرغړونې د مخفي کشفي اقداماتو په ترسره کولو کې جرم انګاري شوې نه دي؟

دا وضعیت د شرایطو او د مخفي کشفي اقداماتو د اجراآتو د تنظیموونکو قانوني حکمونه بې حرمته او بې اثره کوي، ځکه چې د جزایي مؤیدې نشتوالی د هغه د نقضولو زمینه برابروي او په پایله کې د خلکو پر حقوقو او آزادیو د تېري او د اساسي قانون د ۳۷مې مادې د نقضولو لامل ګرځي چې په صراحت سره د مکالمو اورېدل، د مراسلاتو او مخابراتو تفتیش یوازې د قانون له حکمونو سره سم جایز ګڼل شوي دي.

**۲. د فعل د مرتکب صفت:**

د فعل مرتکب باید د عامه خدمتونو مؤظف وي، لکه ۳۲۱مې مادې په صراحت سره ویلي دي: « **که چېرې د عامه خدمتونو مؤظف....**». له همدې کبله، که د عامه خدمتونو له مؤظفینو پرته بل څوک دا عمل ترسره کړي، او یا د عامه خدمتونو مؤظف له توظیف وړاندې او یا د انفکاک او یا تقاعد وروسته دا عمل ترسره کړي، دا ماده بیا د تطبیق وړ نه ده. د ۱۳۸۹ کال له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون (چې اوس لغوه شوی دی) د ٦۲مې مادې په ۱ او ۲ جزء کې د غیر واکمنو اشخاصو لخوا استراق السمع او همدارنګه د هغوی لخوا د استراق السمع په منظور د الکترونیکي وسایلو برابرول جرم تلقي کړی وو او د هغه جزا یې متوسط حبس پیشبیني کړی وو، له بده مرغه چې د جزا کود په ۳۲۰ ماده کې دا دوه جزؤنه حذف شوي او پاتې نور یې انتقال شوي دي.

**۳. پایله او د سببیت اړیکه:**

د دې جرم پایله په قانون کې له پېشبیني شوو جرمونو پرته له پټو کشفي اقداماتو څخه د یو له تحقق څخه عبارت ده، لکه د مکالمو ثبتول، او یا د پام وړ شخص د فعالیتونو عکاسي او د فلم اخیستل او داسې نور. دا پایله باید د عامه خدمتونو د مؤظف له عمل سره د سببیت اړیکه ولري. خو که چېرې مؤظف په جرمي عمل پیل وکړي، مثلاً د پام وړ شخص په کور یا دفتر کې کامره نصب کړي، خو تصادفاً نوموړی شخص نوموړی شخص حاضر نه شي او یا ریکارډ روښانه کړي، خو مکالمه پرې شي، او یا ریکارډ د فني ستونزو له کبله ثبت نه شي، په جرم د پیل حالت رامنځته کېږي.

**ب: معنوي عنصر:**

دا جرم له عمدي جرمونو څخه دی. نو د هغه په معنوي عنصر کې جرمي علم او اراده شامل دي. یعنې لازمه ده چې د عامه خدمتونو مؤظف په مادي کړنې په آګاهانه او عامدانه توګه مرتکب شي. په دې اساس، د عامه خدمتونو د مؤظف لخوا د نورو د مکتوب پرانیستل که په عمدي شکل نه وي، جرم نه ګڼل کېږي، ولو که د غفلت په پایله کې یې صورت موندلی وي. ځیني په دې باور دي چې دا جرم د خطا شکل هم لري.

**(۲۵) پنځه ویشتم فعالیت**

**فرضي قضیه:**

د عامه خدمتونو یو مؤظف د آګاهۍ نه درلودلو له کبله د قانون له حکمونو څخه درک کوي چې په ټولو جرمونو کې کولای شي له پټو کشفي اقداماتو څخه ګټه پورته کړي. له همدې کبله، له ناوړه نیت پرته په سرقت جرمونو کې له دې طریقو څخه یوه کاروي، ستاسو په نظر، آیا دا مؤظف د جزا کود له ۳۲۱مې مادې سره سم د تعقیب وړ دی یا نه؟

**درېیم مطلب: د مخفي کشفي غیر قانوني اقداماتو د جرم جزا:**

د جزا کود له ۳۲۱مې مادې سره سم، د دې جرم مرتکب له دوو کلونو څخه په زیات متوسط حبس محکومېږي، یعنې له دوو کلونو څخه د پنځم کال تر پای پورې. ځکه چې دا جرم د جنحه په کټګورۍ کې قرار نیسي، محکمه کولای شي مرتکب عنداللزوم په تکمیلي جزاګانو هم محکمومېږي.

**څلورمه وینا: د کشفي مخفي اقداماتو په اجراء کې افشاء ګري:**

د جزا کود ۳۲۰ مه ماده د «د کشــفي اقداماتو په اجراء کې د سرغړونو مجازات» تر عنوان لاندې دا جرم داسې بیانېږي: « **هغه شخص چې له لاندې اعمالو څخه د یوه مرتکب شي، له احوالو سره سم په متوسط حبس محکومېږي، هغه حالات چې د مســکراتو او مخدرو موادو پر خلاف د مبارزې او د هغو د کنټرول په قانون کې، مجاز ګڼل شوي، له دې حکم څخه مستثني دي:**

**۱- د الکترونیکي ارتباط د سمع او څارنې (نظارت) وسیلې موجودیت یا د هغې حکم او یا نصب افشاء کړي.**

**۲- له یوه مخفي کشفي اقدام څخه د ترلاسه شوو معلوماتو او پایلو محتوي چې د مخدرو موادو قاچاقو په ارتباط، د مســـکراتو او مخدرو موادو پر خلاف د مبارزې او د هغو د کنټرول د قانون له حکمونو سره سم، ترلاسه شوي بل شخص ته په لاندې حالاتو کې افشاء کړي:**

**- په دې باندې د علم لرلو سره چې معلومات د مخفي کشفي اقداماتو د اجراء له لارې لاسته راغلي دي.**

**- د مرتکب د عدلي تعقیب د ګډوډولو (اخلال ) په مقصد».**

لیدل کېږي چې د دې مادې عنوان خورا کُلي دی، خو متن یې د ځینو مسایلو له افشاء څخه بحث کوي. نو له دې جرم څخه موخه دوه شیان دي:

لومړی: په دې اړه ډاډ چې سمع او الکترونیک نظارت په بریالیتوب سره ترسره شي. له همدې کبله، د پورته ذکر شوې مادې په ۱ جزء کې قانون جوړوونکي د قرار افشاء کول، د نصب عملیه او یا د سمع او الکترونیک نظارت د وسایلو شتون منع کړي دي ترڅو اړوندې ادارې په بریالیتوب سره لازم معلومات

کشف کړي. لیدل کېږي چې په دې جزء کې قانون جوړوونکي د کشفي مخفي اقداماتو ټول ډولونه په دې حکم کې شامل کړي نه دي، بلکه له اوریدلو او الکترونیکي څارنې څخه یې بحث کړی دی.
دویم: وروسته له دې چې معلومات حاصل شي، بله موخه مطرح کېږي چې د حاصل شوو معلوماتو د افشاء څخه له مخنیوي (د پورته ذکر شوې مادې ۲ جزء) څخه عبارت ده. په دې ځای کې قانون جوړوونکي د مخفي کشفي اقداماتو ټول ډولونه په حکم کې شامل کړي دي.
د مخفي کشفي اقداماتو په اړه وړاندې لازم توضیحات وړاندې شول. لاندې د «افشاء» مفهوم بیانېږي او د هغه په تعقیب د دې جرم عناصر او مجازات څېړل کېږي.
**«افشاء»:** افشاء له هغو اشخاصو سره د محرم معلوماتو له شریکولو څخه عبارت ده چې د هغه په اړه د آګاهۍ واک نه لري. نو که معلومات محرم نه وي، له نورو سره د هغه شریکول افشاء نه ګڼل کېږي. همدارنګه که د یوې ډلې غړی چې یوځای پر محرمو معلوماتو کار کوي او ټول د هغوی په اړه د پوهېدلو واک لري، د هغوی لخوا په خپل منځ کې د معلوماتو شریکولو ته افشاء نه ویل کېږي.
اکثراً، ارسال معلومات از سوی افشاء کننده و دریافت آن توسط مخاطبین، همزمان واقع می شود، اما احیاناً ښایي د معلوماتو د لېږلو او د هغه د ترلاسه کولو ترمنځ زماني واټن شتون ولري. د بېلګې په ډول، شخص د ایمیل، فکس، پیغام (مسیج) او یا لیک له لارې معلومات نورو ته ولېږي او مقابل شخص نوموړي معلومات له لنډې او یا اوږدې مودې وروسته ترلاسه کړي. په دې ځای کې دا پوښتنه مطرح کې.ي چې افشاء څه وخت واقع کېږي؟ آیا نورو ته د معلوماتو له لېږلو وروسته؟ او یا د غیر آدرس ته د معلوماتو له ترلاسه کولو څخه وروسته؟ او یا له معلوماتو څخه د بل له خبرېدو وروسته؟
لیدل کېږي چې افشاء د غیر آدرس ته د معلوماتو په وصولو سره رامنځته کېږي، ځکه چې معلومات د دربیم شخص په کنټرول او اختیار کې قرار نیسي او د لېږوونکي له کنټرول څخه ووځي. نو په دې حالت کې له کومو اشخاصو لېږل شوی پیغام، ایمیل او یا لیک مطالعه کړی دی او یا نه، د افشاء جرم واقع کېږي.

## لومړی مطلب: د مخفي کشفي اقداماتو په اجراء کې د افشاء ګرۍ جرم عناصر:

په لاندې کرښو کې د دې جرم مادي او معنوي عناصر څېړل کېږي.

### الف: مادي عنصر:

دا جرم له مطلق جرمونو څخه دی. نو د هغه په مادي عنصر کې جرمي کړنه او د جرم موضوع شامل دي.

#### ۱. جرمي کړنه:

جرمي کړنه له افشاء کولو څخه عبارت ده. قانون د افشاء کولو لپاره کومه ځانګړې وسیله او یا طریقه پېشبیني کړې نه ده. نو هر ډول افشاء ګري په کې شاملېږي که په شفاهي او یا لیکلې بڼه او یا حتی د اشارې له لارې وي، لکه دا چې د مخفي کامرې په لور اشاره وکړي ترڅو تر څارنې لاندې شخص د هغه متوجه شي او خپله کړنه کنټرول کړي. همدارنګه افشاء کېدلای شي په مستقیم او یا غیر مستقیم ډول وي لکه د قاصد له لورې د پیغام لېږل. همدارنګه افشاء کېدلای شي د الکترونیکي وسایلو له لارې ترسره شي، لکه ټیلفون، فکس، پیغام (مسیج)، ایمیل او داسې نور. او په پای کې دا چې افشاء کېدلای شي ټاکل او یا نا ټاکلي شخص، یا هغه شخص ته صورت ونسي چې معلومات د هغه اړوند کېږي او یا نه کېږي. له همدې کبله، هغه شخص چې د څارنیزو الکترونیکي وسایلو د نصب په اړه خبر ترلاسه کوي،بیا دغه معلومات له نورو سره شریکوي، ولو که هغوی تر څارنې لاندې نه وي، بیا هم دا عمل افشاء ګڼل کېږي. شرط نه دی چې معلومات دې د پام وړ شخص سره شریک شي او د مخفي کشفي اقداماتو پروسه ګډه وډه شي. بلکه جرم یوازې له داسې کس سره د معلوماتو په شریکولو سره تکمیلېږي چې د هغه د ترلاسه کولو حق نه لري.

د یادونې وړ ده چې قانون د مرتکب صفت شرط نه دی ایښی. نو افشاء کوونکی کېدلای شي د عامه خدمتونو د هغو مؤظفینو له ډلې اوسي چې له جرمونو سره مبارزه کوي او کېدلای شي عادي اشخاص اوسي. په داسې حال کې چې ۳۲۱مه ماده یوازې د عامه خدمتونو پر مؤظفینو د تطبیق وړ ده.

**۲. د جرم موضوع:**

هر ډول افشاء گري دا جرم نه رامنځته كوي. بلكه د افشاء موضوع بايد د جزا كود د ۳۲۰مې مادې په ۱ او ۲ جزؤنو كې له درج شوو مطالبو څخه يو وي. دا مطالب د لا زيات وضاحت لپاره جلا جلا ذكر كېږي:

۱) د الكترونيكي اړيكو د سمع او څارنې د وسيلې موجوديت افشاء كول؛

۲) د الكترونيكي اړيكو د سمع او څارنې وسيلې د نصب افشاء كول؛

۳) له نوموړو وسايلو څخه د استفادې جواز په اړه د محكمې د حكم (قرار) افشاء كول؛ او

٤) له يو مخفي كشفي اقدام څخه د ترلاسه شوو معلوماتو او پايلو د محتوى افشاء كول.

د ۳۲۰مې مادې په ۱ جزء كې درې لومړني موارد ذكر دي او يوازې د مخفي كشفي اقداماتو د طريقو څخه له يوې طريقې پورې اړه لري چې له الكترونيكې څارنې او سمع څخه عبارت دی. د هغه څلورم مورد د نوموړې مادې په ۲ جزء كې پېشبيني شوی دی، او يو كُلي حكم دی چې د مخفي كشفي اقداماتو په ټولو طريقو كې د هغو حالاتو په شمول د تطبيق وړ دی چې له مخدره توكو او مسكراتو سره د مبارزې په قانون كې د مخفي كشفي اقداماتو په توگه گڼل شوي دي، لكه له پټو همكارانو څخه استفاده.

**ب: معنوي عنصر:**

دا جرم له عمدي جرمونو څخه دی. نو لازمه ده چې د جرم مرتكب آگاهانه او عامدانه جرمي گڼنه ترسره كړې وي. د ۳۲۰مې مادې په ۱ جزء كې په درج شوې كړنه كې د جرمي قصد ډول عام قصد دی. خو د نوموړې مادې په ۲ جزء كې په درج شوې كړنه كې جرمي قصد ځانگړی قصد دی، لكه څرنگه چې تصريح شوې ده چې افشاء كوونكی لومړی علم ولري چې معلومات د كشفي مخفي اقداماتو له لارې ترلاسه شوي دي، دويم (**د عدلي تعقيب د اخلال په مقصد** ) يې معلومات افشاء كړي دي. په دې معنی چې د دواړو برخو اجتماع لازمي ده.

لازمه نه ده چې د جرم مرتکب د مخفي کشفي اقداماتو د مفهوم او یا د هغوی د حالاتو په اړه وپوهیږي، ځکه چې مرتکبین غالباً د حقوقو متخصصین نه دي، خو همدومره چې د موضوع له حقیقت څخه خبر وي (یعنې خبر وي هغه معلومات چې افشاء کوي، له کومې لارې ترلاسه شوي دي) ولو که ونه پوهیږي چې قانون د دې لارې لپاره کوم ځانګړی نوم پېشبیني کړی وي، جرم تکمیلیږي.

## دویم مطلب: د مخفي کشفي اقداماتو په اجراء کې د افشاء ګرۍ جرم جزا:

د دې جرم اصلي جزا له متوسط حبس څخه عبارت ده. د شرطونو د تکمیل په صورت کې د جرم مرتکب په تکمیلي جزاګانو هم محکومېدلای شي. د جزا کود ۳۲۰مه ماده په دې داسې صراحت لري:« هغه شخص چې له لاندې اعمالو څخه د یوه مرتکب شي، له احوالو سره سم **په متوسط حبس محکومیږي...**».

## دویم مبحث: د عادي اشخاصو لخوا د مخدره موادو اړوند جرمونه:

په مخکیني مبحث کې هغه جرمونه وڅېړل شول چې د هغوی رامنځته کېدل یوازې د هغو اشخاصو لخوا تصور کېدل چې د مخدره موادو د تنظیم او کنټرول او د هغوی له قاچاق سره د مبارزې په برخه کې فعالیت لري. په دې مبحث کې هغه جرمونه څېړل کېږي چې د هر شخص له لورې د هغوی رامنځته کېدل متصور دي. په دې جرمونو کې لاندې موارد شاملېږي چې هر یو کې په یوه وینا کې تر بحث لاندې نیول کېږي: د مالک او رهن اخیستونکي سرغړونې (لومړۍ وینا)، د مخدره توکو په تولید کې د استفادې وړ وسایلو برابرول (دویمه وینا)، له خوراکي او څښاکي موادو سره د مخدره توکو ترکیب او ګډول (درېیمه وینا)، تر تصرف لاندې ځایونو کې د مخدره توکو اجازه (څلورمه وینا) او اجباري اعتیاد سوقول (پنځمه وینا).

### لومړۍ وینا: د مالک او رهن اخیستونکي سرغړونې:

د جزا کود ۳۰۷مه ماده د مالک او رهن اخیستونکي ځینې سرغړونې چې د مخدره توکو د قاچاق له جرم سره اړیکه لري د " مالک او رهن اخیستونکي د مجازاتو" تر عنوان لاندې جرم انګاري شوې دي. نوموړې ماده په دوو فقرو کې له دوو جرمي حالتونو څخه بحث کوي:

لومړی: د مالک، یا رهن اخیستونکي او یا د هغوی د قانوني استازي لخوا **د مخدره توکو د قاچاق په منظور** بل شخص ته ملکیت په رهن، اجارې او یا په واک کې ورکول. دا حالت د مخدره توکو په جرم کې یو ډول ګډون او اشتراک دی. نو مرتکب ته یې اصل جزا پېشبیني شوې ده. (د جزا کود د ۳۰۷مې مادې ۱ فقره).

دویم: **په مشروع منظور** د پورته ذکر شوو اشخاصو لخوا ملکیت په رهن او یا اجاره ورکول، خو په دې اړه له خبرېدو وروسته چې رهن اخیستونکی او یا مستأجر نوموړی ملکیت د قاچاق په جرم کې کاروي، په مرهونه او یا په اجاره ورکړل شوي ملکیت کې د قاچاق له جرم څخه نه ممانعت او د هغه په اړه خبر نه ورکول (۲ فقره).

د لومړني حالت لپاره د جرم (د مخدره توکو قاچاق) اصل جزا پیشبیني شوې ده، په دې اساس چې مالک او رهن اخیستونکی د قاچاق د جرم شریک دي. خو دویم حالت ته د یو جلا جرم په توګه کتل شوي او هغه ته یې متوسط حبس په پام کې نیول شوی دی. دا چې د دې جزوې موضوع د مخدره توکو د قاچاق جرم اړوند جرمونه تشکیلوي، په دې ځای کې یوازې پر دویم حالت بحث صورت نیسي، ځکه چې یوازې همدا حالت د مخدره توکو د قاچاق د جرم اړوند جرم ګڼل کېږي. لومړنی حالت د قاچاق په هجرم کې اشتراک او ګډون دی چې د دې بستې په دویمه جزوه کې په تفصیل سره پرې بحث شوی دی. د ۳۰۷مې مادې په ۲ فقره کې د درج شوې کړنې جرمي ځانګړنه له "په مرهونه او یا اجاره ورکړل شوي ملکیت کې د قاچاق له جرم څخه نه ممانعت او د هغه په اړه خبر نه ورکولو" څخه عبارت ده..

لاندې لومړی د ۳۰۷مې مادې متن ذکر کېږي او ور پسې د هغه په دویمه فقره کې د درج شوي جرم عناصر او مجازات شېړل کېږي.

د جزا کود ۳۰۷مه ماده: «(۱) که چېرې **مالک** یا د **رهن اخیستونکی** یا **د هغوی قانوني استازی** ځمکه، ودانۍ، نقلیه واسطه یا نور اړوند ملکیتونه د مخدره موادو د قاچاق د جرمونو د ارتکاب په منظور، په رهن یا په اجاره ورکړي یا هغه د نورو په واک کې ورکړي، له احوالو سره سم د جرم د اصلي فاعل په عین جزا، محکومېږي.

(۲) که چېرې د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي شخص ځمکه، ودانۍ، نقلیه واسطه یا اړوند ملکیتونه د مجازو فعالیتونو په منظور رهن ته کېږدي یا یې په اجاره یا کرایه ورکړي، په هغه صورت کې چې له هغه څخه په دې فصل کې د درج شوو جرمونو د ارتکاب په مقصدونو استفاده صورت مومي او د علم باوجود د هغو له ارتکاب څخه ممانعت ونه کړي او مسؤولو مراجعو ته خبر ورنه کړي، له احوالو سره سم، په متوسط حبس محکومېږي».

## لومړی مطلب: په مرهونه او یا په اجاره ورکړل شوي ملکیت کې د قاچاق له جرم څخه د نه ممانعت جرم عناصر:

لاندې د دې جرم په مادي او معنوي عناصرو بحث کېږي، قانوني عنصر چې په قانون کې د جرم او جزا له تصریح څخه عبارت دی، ورسره بیانېږي.

**الف: مادي عنصر:**

دا جرم له مطلق جرمونو څخه دی. د هغه مادي عنصر له مادي کړنې (د فعل ترک)، د جرم موضوع او د مرتکب صفت څخه عبارت دی

**۱. مادي کړنه:**

مادي کړنه د فعل له ترک څخه عبارت دی چې دوه حالتونه لري:

- د قاچاق په جرم کې د مرهونه او یا مستأجره ملکیت څخه د استفادې نه ممانعت؛ او
- د قاچاق په جرم کې له مرهونه او یا مستأجره ملکیت څخه د استفادې په اړه مسؤولو مراجعو ته خبر نه ورکول.

د قانون له متن څخه معلومېږي چې د دواړو ترک فعل اجتماع شرط ده. په دې معنی چې مالک یا رهن اخیستونکی له دې موضوع څخه له خبرېدو وروسته چې عاقد مرهونه او یا مستأجره مکلیت د قاچاق په جرم کې کاروي، هم عقد باید فسخ کړي او ملکیت مسترد کړي او هم اړوندو مراجعو ته خبر ورکړي. یوازې د عقد فسخ کېدل او د ملکیت استرداد کافي نه دی، باید خبر ورکول هم صورت ونیسي. **خو که چېرې ممانعت ونه کړي خو اطلاع ورکړي، آیا جرمي مسؤولیت لري؟** لیدل کېږي چې په دې حالت کې مسؤولیت نه لري. ځکه چې اطلاع ورکول د ممانعت له لارو څخه یوه ده، خکه چې مالک یا رهن اخیستونکی په اطلاع ورکولو سره د هغوی د نیولو زمینه برابروي او په پای کې له ملکیت څخه د ناوړې استفادې د ممانعت لامل ګرځي. ځکه چې په ډېرې مواردو کې که د هغوی مانع شي او بیا خبر ورکړي،

ښايي قاچاقبران د جرم دلايل پټ کړي او حتی د مالک او يا رهن اخيستونکي حيات له خطر سره مخ شي.

له مسؤولو مراجعو څخه مراد د قضايي ضبط مامورين دي، نه يوازې د مخدره توکو پوليس، ځکه چې د مخدره توکو پوليسو ته لاسرسی ټولو خلکو ته ميسر نه دی.

**۲. د جرم موضوع:**

د جرم موضوع له مرهونه او يا په اجاره ورکړل شوي ملکيتونو څخه عبارت ده. دا ملکيتونه کېدلای شي ځمکه يا تعمير يا نقليه واسطه او يا هر هغه بل ډول ملکيت دي، ځکه چې قانون د بعد از ذکر کلمهٔ «ځمکې» د کلمې له ذکر وروسته «تعمير» او «نقليه واسطې» په مطلق ډول تصريح کړي دي «... **يا اړوند ملکيتونه**...». دا طريقه قانون جوړوونکي د نيوکې وړ ګڼلې ده، ځکه چې له موجب پرته د قانون د متن د اوږدېدو لامل ګرځي. بله پوښتنه چې مطرح کېږي دا ده چې **د ملکيتونو حکم ته عاريت ورکړل شوی، او يا وصيت شوی، او يا په امانت ورکړل شوی او داسې نور څه دي؟** ځکه چې د دې مادې د دويمې فقرې په متن کې يوازې له رهن او اجارې څخه بحث شوی دی. « ... د مجاز فعاليتونو په منظور په **رهن** ورکړی يا په **کرايه** يا **اجاره** ورکړي...». د يادونې وړ ده چې د دې مادې په **لومړۍ فقره** کې د رهن او اجارې سربېره د "په واک کې ورکولو" کلمه هم کارول شوې وه «... **په رهن يا اجاره ورکړي يا هغه د بل په واک کې ورکړي**..». خو له بده مرغه، د دې مادې په **دويمه فقره** کې د اجارې کلمه دوه ځلې ذکر شوې ده، يو ځل د "اجارې" په کلمې او بل ځل د "کرايې" په کلمې چې دواړه يوه معنی افاده کوي، خو درېيم حالت[1] حذف شوی دی چې د اصطلاحاتو په کارولو کې د قانون جوړوونکي سطحي والی ښيي.

ښه، اوس چې په دويمه فقره کې يوازې له اجارې او رهن څخه بحث شوی دی، پوښتنه دا ده چې په عاريت ورکړل شوو، په امانت ورکړل شوو، وصيت شوو او داسې نورو ملکيتونو حکم څه دی؟ آيا دا

[1] - «... يا هغه د بل په واک کې ورکړي...».

ملکیتونه پر مرهونه او په اجاره ورکړل شوو ملکیتونو د قیاس وړ دي؟ د جزا کود د ۸مې مادې پر بنسټ د قیاس پر بنسټ د جرم او جزا تعیینول جایز نه دي. لیدل کېږي چې دا ماده تعدیل ته اړتیا لري، خو په اوسني وضعیت کې دا فقره یوازې په اجاره د ورکړل شوو مالونو او مرهونه مالونو په اړه د تطبیق وړ ده. په نورو مواردو کې، د جرم په اړه د خبر نه ورکولو جرم رامنځته کېږي او مرتکب د جزا کود له ۴۸۰مې مادې سره سم لکه څرنګه چې لاندې لیدل کېږي، د عدلي تعقیب وړ ګڼل کېږي.

**۳. د مرتکب (ډېره کوونکي) مرتکب:**

د هر شخص نه ممانع او خبر نه ورکول دا جرم نه رامنځته کوي، بلکه تارک باید د مال مالک او یا مرتهن (رهن اخیستونکی) وي، ځکه چې د ۳۰۷مې مادې دویمه فقره داسې صراحت لري« که چېرې د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوی شخص...». او په لومړۍ فقره کې ویل شوي دي « که چېرې **مالک** یا **رهن اخیستونکی** یا د **هغوی قانوني استازی**...». نو د نورو اشخاصو ترک دا جرم نه رامنځته کوي. د بېلګې په ډول؛ که موصی له، یا مستعیر، یا امین او یا مستأجر چې د غیر مال د وصیت، عاریت، امانت او یا اجارې په سبب په خپل واک کې لري، نوموړی مال له مالک پرته د مشروع اهدافو لپاره وسپاري که د عاریت یا امانت او یا باطني اجارې او داسې نورو په بڼه وي او نوی ذوالید نوموړی مال د قاچاق په جرم کې وکاروي، خو موصی له یا مستعیر یا امین یا مستأجر خبر تلاسه کړي، خو ممانعت ونه کړي او مسؤولو چارواکو ته خبر ور نه کړي، دا جرم نه واقع کېږي. همدارنګه ګاونډیان که چېرې د موضوع په اړه خبر تر لاسه کوي او په اړه یې راپور نه ورکوي، دا جرم نه رامنځته کېږي. یوازې د دې ډلې د اشخاصو عمل د جزا کود د ۴۸۰مې مادې لاندې د جزایي اجراآتو د قانون د ۵۷مې مادې د ۱ فقرې په پام کې نیولو سره د تعقیب وړ دی.

د جزا کود ۴۸۰مه ماده داسې صراحت لري:

« (۱) **هغه شخص چې قانوناً د عامه خدمتونو له مؤظفينو څخه يوه ته د يوه امر په اطلاع مکلف وي** او په مطلوب کيفيت او په قانوني وخت کې د هغه له اطلاع څخه **عمداً ډډه وکړي،** د دوو کلونو په متوسط حبس يا له شپېتو زرو څخه تر يو سلو شلو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

(۲) که چېرې د عامه خدمتونو مؤظف چې د جرمونو په کشف او د مجرم په نيونې توظيف شوی او نوموړو جرمونو په اطلاع کې له علم وروسته اهمال وکړي، د دې مادې په (۱) فقره کې په درج شوې جزا محکومېږي. په دې شرط چې په نوموړي جرم کې د دعوي تقديم په شکايت پورې متعلق نه وي يا مجرم د عامه خدمتونو د مؤظف زوج يا له اصولو يا فروعو څخه يو يا يې ورور يا خور يا د عامه خدمتونو د مؤظف د مصاهرت له محارمو څخه وي».

د جزايي اجراآتو د قانون د ۵۷مې مادې ۱ فقره:

«(۱) **د هېواد اتباع** د دې قانون د نورو حکمونو له په پام کې نيولو سره، **د جرم له پېښېدو څخه له خبرېدو** د هغه د ليدلو **په صورت کې مکلف دي** موضوع په ليکلې يا شفاهي توگه او يا له الکترونيکي وسايلو څخه په گټې اخيستنې سره پوليسو يا د قضايي ضبط نورو مامورينو او يا څارنوال ته **خبر ورکړي**».

**(۲٦) شپږويشتم فعاليت**

**مباحثوي پوښتنه:**

د ۳۰۷مې مادې ۱ فقره داسې صراحت لري:« که چېرې... **رهن اخيستونکی**.... ځمکه، ودانۍ او نقليه واسطه او يا نور اړوند ملکيتونه.... **په رهن يا اجاره ورکړي**...».

**پوښتنه:** آيا رهن اخيستونکی قانوناً د مرهونه مال په رهن يا په اجاره د ورکولو حق لري؟

**(۲۷) اووه ویشتم فعالیت**

**مباحثوي پوښتنه:**

که چېرې مالک او یا رهن اخیستونکی په قاچاق کې له مرهونه ملکیت او یا مال څخه د استفادې په اړه علم ونه لري، خو یو ډول شک ورسره رامنځته شوی وي، چې باید ویې کړي؟ او که احیاناً په دې صورت کې خبر ور نه کړي، آیا دا جرم واقع کېږي یا نه؟

**ب: معنوي عنصر:**

دا جرم له عمدي جرمونو څخه دی، ځکه چې قانون تصریح کړې ده چې « ... **او د هغه له ارتکاب څخه د علم سربېره ممانعت ونه کړي او مسؤولو مراجعو ته خبر ور نه کړي...**». له همدې کبله، دا جرم هغه وخت رامنځته کېږي چې مالک یا رهن اخیستونکی او یا د هغوی قانوني استازی د جرم له موضوع څخه خبر شي او عمداً یې ممانعت ونه کړي او مسؤولو مراجعو ته خبر ور نه کړي. خو که چېرې د هغوی د خبر نه ورکول د غفلت له امله وي، نو دا جرم نه رامنځته کېږي.

## دویم مطلب: په مرهونه یا په اجاره ورکړل ملکیت کې د مخدره توکو د قاچاق په جرم کې د نه ممانعت د جرم جزا:

د دې جرم اصلي جزا له متوسط حبس څخه عبارت ده او د شرطونو د تکمیل په صورت کې پر محکوم علیه تکمیلي جزاګانې هم تطبیقېږي.

## دویمه وینا: د مخدره توکو په تولید کې د استفادې وړ وسایلو د برابرولو جرم:

د جزا کود د ۲۹۹مې مادې په ۲ جزء کې لاندې اعمال د مخدره موادو د قاچاق په حکم کې شمېرل کېږي: «... **د هغو وسایلو او تجهیزاتو آګاهانه جوړول، لېږد را لېږد، پېر او پلور او وېش چې د مخدرو موادو او روان اړوونکو موادو په کښت، تولید او برابرولو کې تر ګټې اخیستنې لاندې نیول کېږي...**» خو

د جزا کود په ۳۰۹مه ماده کې هغه د قاچاق د جرم له جزا څخه له یوې جلا جزا سره د یو جلا جرم په توګه پېشبیني شوی دی. په دې معنی چې دا کړنه په ۳۰۹مه ماده کې د قاچاق جرم نه، بلکه د هغه اړوند جرمونو څخه پېژندل شوی دی. هغه امر چې په جزا کود کې تناقض ښیي. احتمالاً په همدې خاطر له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون د خپلې ۳مې مادې په ۱ جزء کې د "مخدره توکو قاچاق" په مکرر ډول تعریف کړی او د وسایلو برابرول یې د قاچاق له تعریف څخه لرې کړی دی او په دې ډول د جزا کود د تناقض ستونزه حل شوې ده. له همدې کبله، په دې روزنیز کتاب کې دا کړنه د مخدره توکو د قاچاق جرم اړوند جرمونو تر فصل لاندې څېړل کېږي.

د جزا کود ۳۰۹مه ماده په دې اړه داسې صراحت لري:

**« (۱) هغه شخص چې د علم په لرلو سره د روان اړوونکو مخدرو موادو د تولید یا جوړولو لپاره وسایل یا اختصاصي تجهیزات برابر، لېږد را لېږد، وارد، صادر، پېر، پلور یا وویشي یا هغه په خپل حیازت کې ولري، د متوسط حبس په اکثر حد او په جرم پورې د اړوندو وسایلو او تجهیزاتو په مصادرې محکومېږي.**

**(۲) هغه شخص چې د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوي وسایل او تجهیزات، د جواز په لرلو سره وارد ولې هغه د مخدرو موادو د غیر مجاز تولید او پروسس په مقصد وپلوري او یا استعمال کړي، له احوالو سره سم له لسو کلونو څخه زیات، په طویل حبس محکومېږي.**

**(۳) که چېرې د دې مادې په (۱ او ۲) فقرو کې درج شوي جرمونه د حکمي شخص په واسطه ارتکاب شي، د جرم د فاعل پر مجازاتو سربېره، حکمي شخص په لومړي ځل له احوالو سره سم له دوو میلیونو څخه پنځه میلیونو افغانیو پورې په نغدي جزا محکوم او په دوه یم ځل، پر پنځه میلیونه افغانیو برسېره، د هغه د فعالیت جواز هم سلب کېږي».**

لاندې د دې جرم عناصر او مجازات په دوو ویناوو کې بیانېږي.

## لومړی مطلب: د مخدره توکو په تولید کې د استفادې وړ وسایلو د برابرولو جرم عناصر:

**الف: مادي عنصر:**

دا جرم له مطلق جرمونو څخه دی. نو د هغه په مادي عنصر کې جرمي کړنه او د جرم موضوع شاملېږي.

**۱. جرمي کړنه:**

د دې جرم تشکیلوونکې جرمي کړنه له « ... **برابرولو، لېږد را لېږد، واردولو، صادرولو، پېر، پلور یا وېشلو...**»څخه عبارت ده (د ۳۰۹مې مادې ۱ فقره). که چېرې له دې کړنو څخه یوه د مخدره توکو په تولید کې د استفادې وړ وسایلو په برخه کې ترسره شي، د دې جرم مادي عنصر بشپړېږي.

**۱. برابرول**: برابرول د تدارک کولو، چمتو کولو او جوړولو په معنی کارول کېږي. **آیا د "برابرولو" اصطلاح د وسایلو په ترمیم او اصلاح کې شاملېږي**؟ لیدل کېږي چې هو؛ ځکه چې د وسایلو ترمیمول او اصلاح د هغوی په چمتووالي کې مهم رول لري، ځکه چې له اصلاح پرته، دا وسایل کار نه کوي. نو هغه شخص چې پوهېږي د مخدره توکو په تولید کې دغه وسایل کارول کېږي او عمداً هغه اصلاح کړي، د دې جرم مرتکب پېژندل کېږي.

**۲. لېږد را لېږد**: «لېږد» د بارولو په معنی او «رالېږد» د انتقالاتو په معنی کارول کېږي. په دې اساس د لېږدولو عمل (جوالي) او شخص چې د وسایلو انتقالات (ټرانسپورټیشن) پر غاړه اخلي، دواړه په دې جرم کې شاملېږي. لېږد را لېږد په مطلق ډول جرم انګاري شوی دی، نو د انتقالاتو ټولې بڼې په کې شاملېږي که د نقلیه وسیلې په واسطه ترسره شي او یا له هغې پرته. که هوایي لېږد وي او یا زمیني او یا سمندري.

**۳. واردول**: هېواد ته را ننباسل.

**٤. صادرول**: له هېواد څخه باسل.

**۵. پېر**؛ او **۶. پلور**. پېر او پلور په مطلق ډول ذکر شوي دي. نو، د هغه ټول ډولونه په کې شاملېږي که دا په مستقیم ډول د اصیل په واسطه صورت ونیسي او یا د ترون د خواوو په نیابت سره د نایب لخوا ترسره شي، که په فزیکي بڼه وي او یا په الکترونیکي بڼه او داسې نور.

۷. **وېشل**: وېشل له هغه حالت څخه عبارت دي چې شخص ډېر شمېر شیان ډېرو آدرسونو ته رسوي او هغه تسلیموي. غالباً د «وېشلو» عمل د پېرودونکي او یا د هغه د استازي لخوا صورت نیسي او اکثراً د لېږد را لېږد له لارې ترسره کېږي. نو ولې د «پلور»، «لېږد» او «رالېږد» ترڅنګ «وېشل» هم یاد شوي دي؟ لیدل کېږي چې قانون جوړوونکي احتیاطاً دا کلمه ذکر کړې ده. ځکه چې په ځیني حالاتو کې ښایي وېشوونکی له پلورونکي پرته یا لېږدوونکی او یا انتقالوونکی وي، لکه دا چې وېشوونکی د کارګر او یا قراردادي په توګه پلورونکي ته وسایل ووېشي پرته له دې چې په خپله یې ولېږدوي، بلکه د ټیلفون او یا انټرنیټ له لارې په همغږۍ او مدیریت سره د وېشلو عمل ترسره کړي.

**۲. د جرم موضوع:**

د جرم موضوع له «... **د مخدره موادو او روان اړوونکو مواد د تولید یا جوړولو لپاره ځانګړي وسایلو یا تجهیزاتو....**»څخه عبارت ده. په دې اساس، د ۳۰۹مې مادې په ۱ فقره کې درج شوې کړنې یوازې هغه وخت رامنځته کوي چې موضوع یې هغه وسایل او تجهیزات تشکیلوي چې په ځانګړي ډول د مخدره توکو په تولید یا جوړولو کې کارول کېږي.

د «**ځانګړي**» اصطلاح د یو قید په توګه ذکر شوی دی. له دې قید څخه دوه درکونه کېدلای شي:

۱. هغه وسایل چې شخص د مخدره توکو د تولید لپاره ځانګړي کړي دي، خو دا وسایل په عرف کې په نورو مواردو کې هم کارول کېږي.
۲. هغه وسایل چې عرفاً یوازې د مخدره توکو په تولید کې کارول کېږي.

لومړی مفهوم د دې جرم ساحه پراخوي. خو دويم مفهوم د جرم ساحه په هغو وسايلو پورې منصحروي چې يوازې د مخدره توکو په توليد او جوړولو کې کارول کېږي او د مضيق تفسير له اصل سره او د تورن په ګټه تفسير جوړ شوی دی.

«**وسايل**»: د وسيلې جمع ده او د ابزارو، ادواتو، جهاز، اسبابو او لوازمو په معنی کارول کېږي.

«**تجهيزات**»: **تجهيز**: مصدر نوم دی چې د چمتو کولو او مجهزولو په معنی کارول کېږي. خو **تجهيزات:** هم د برابر شوو وسايلو او اسبابو په معنی کارول کېږي[1] لکه تعميرات د عمارت او تأسيسات د تأسيس شوو بناګانو په معنی او همدارنګه د "چمتوالو"[2] په معنی کارول کېږي، يعنې: له کارونو څخه د يوه کار د پرمخ بېولو په موخه د چمتووالي لپاره لازم فعاليتونه. د افغانستان په قوانينو کې د "تجهيزات" کلمه په دواړو ذکر شوو معنی ګانو کې کارول شوې ده. خو په دې ماده کې ليدل کېږي چې له "تجهيزات" څخخه مراد هماغه "وسايل" دي، لکه څرنګه چې د هغه په اړه ويل شوي دي چې د مخدره توکو د توليد او جوړولو لپاره کارول کېږي. همدارنګه ويل شوي دي چې تجهيزات لېږد او رالېږدول کېږي، وارد او صادرېږي او په حيازت کې قرار نيسي. دا حکمونه له شک پرته د تجهيزاتي اعمالو په برخه کې صدق نه کوي، بلکه د وسايلو په برخه کې صدق کوي. منتهی دا پوښتنه مطريق کېږي چې ولې قانون جوړوونکي د "تجهيزات" کلمې ترڅنګ د "يا" په کارولو سره د "وسايل" کلمه کارولې ده چې ظاهراً د دې دوو کلمو پر مغايرت دلالت کوي؟ احتمالاً دا ليکلو دا طريقه د قانون جوړوونکي له غفلت څخه را ولاړه شوې ده نه په عامدانه او هدفمندانه توګه. خو که چېرې د ليکلو دا طريقه هدفمندانه وپېژندل شي، بايد د "تجهيزات" لپاره له "وسايل" مختلفه معنی وپلټل شي. د افغانستان په قوانينو کې د "تجهيزات" اصطلاح ته کتل ښيي چې دا اصطلاح ځيني وخت د وسايلو او ځيني وخت هم د چمتووالو په معنی کارول شوې ده. لکه «

---

[1] - هماغه.

[2] - فرهنگ واژه های سره، د (تجهيزات) اصطلاح. د جزا کود په جرم د پيل په باب کې د " تجهيزاتي وسايلو" له تعبير څخ ګټه اخيستل شوې ده.

تجهیزاتي وسایل»[۱]، «تجهیزاتي اعمال»[۲]؛ «نظامي تجهیزات»[۳]، « د ... په تولید کې د استفادې وړ تجهیزات[٤]»، «محاربوي وسایل او تجهیزات...» [٥] او داسې نور.

**ب: معنوي عنصر:**

دا جرم له عمدي جرمونو څخه دی، ځکه چې قانون تصریح کړې ده « هغه شخص چې د **علم په درلودلو سره**، ځانګړي وسایل یا تجهیزات....». له همدې کبله، د هغه په معنوي عنصر کې علم او اراده شامل دي. د معنوي عنصر ډول عام قصد دی.

## دویم مطلب: د مخدره توکو په تولید کې د استفادې وړ وسایلو د برابرولو جرم جزا:

د دې جرم ارتکاب ښایي یوازې د حقیقي شخص لخوا صورت ونیسي او احیاناً ښایي حکمي شخص هم په دې کې دخالت وکړي. د هر یو جزا سره توپیر لري:

**الف: د حقیقي شخص جزا:**

د حقیقي شخص لپاره عادي جزا او مشدده جزا پېشبیني شوې دي.

**۱. د عادي حالت جزا:**

د جزا کود د ۳۰۹مې مادې له ۱ فقرې سره سم، د دې جرم د عادي حالت جزا عبارت ده له:

---

[۱] - «**د تجهیزاتي وسایلو** برابرول او د مقدماتي اعمالو ترسره کول د جرم د ارتکاب په منظور د وسایلو او آلاتو له برابرولو یا د زمینې له مساعدولو څخه عبارت دي.»(د جزا کود (۱) ۴۹).

[۲] - د جزا کود د ۵۷مې مادې ۳ جزء د جرم د معاون په تعریف کې ویلي دي «۳- د جرم له فاعل سره په یو ډول نه یو ډول د جرم د ارتکاب په **تجهیزاتي** یا تسهیلاتي اعمالو کې په هغو د علم په لرلو سره، مرسته وکړي او جرم د همدې مرستې له امله منځته راشي ».

[۳] - د ۲۳۸مې مادې ٦ جزء د ملي خیانت له مواردو څخه یو مورد داسې تعریف کړی دی:«د افغانستان د اسلامي جمهوریت له دولت سره د جګړې په حال کې بهرني دولت یا د افغانستان د اسلامي جمهوریت له دولت سره د جګړې یا وسله والې شخړې په حال کې د وسله والو ځواکونو لپاره د اشخاصو ګمارل (استخدام)، د مالونو یا **نظامي تجهیزاتو** برابرول...».

[٤] -

[٥] - د جزا کود د ۱ ګڼې ضمیمې د ۲۵مې مادې ۱ فقره: «که چېرې نظامي منسوب وسله، مهمات، چاودېدونکي توکي، نظامي تخنیک او نور محاربوي **وسایل او تجهیزات** چې د دندې د ترسره کولو په موخه هغه ته سپارل شوي دي، وپلوري، پلورونکی او پېرودونکی دواړه له احوالو سره سم په طویل حبس چې له لسو کلونو څخه زیات نه وي، محکومېږي».

- متوسط حبس (د اصلي جزا په توګه)
- د جرم اړوندو وسايلو او تجهيزاتو مصادره (د تکميلي جزا په توګه).

**۲. د مشدده حالت جزا:**

د پورته مادې له ۲ فقرې سره سم، د دې جرم جزا له لسو کلونو څخه زيات طويل حبس ته شدت کوي، که چېرې مرتکب د وسايلو او تجهيزاتو د واردولو جواز ولري، خو هغه د مخدره توکو د غير مجاز توليد او پروسس په مقصد وپلوري او يابې استعمال کړي.

نو د مشدده حالت د تطبيق شرطونه عبارت دي له:

۱. د جواز درلودل
۲. د قانوني جواز په استفادې سره د مخدره توکو توليد ته د ځانګړو وسايلو او تجهيزاتو ورادول
۳. د نوموړو وسايلو پلورل په دې قصد چې د مخدره توکو په غير مجاز توليد او پروسس کې کارول کېږي، او يا دا چې په خپله شخص وسايل د مخدره توکو په غير مجاز توليد يا پروسس کې وکاروي. نو که پلورونکی د جواز درلودلو په اړه خبر نه وي چې پېرودونکی نوموړي وسايل د مخدره توکو په توليد او پروسس کې کاروي، جرمي مسؤوليت نه لري.

**(۲۸) اته ويشتم فعاليت**

**مباحثوي پوښتنې/د قانون د مادو شننه:**

**لومړۍ پوښتنه:** د ۳۰۹مې مادې په ۲ جزء کې د درج شوي جواز څخه مراد کوم جواز دی؟ آيا هغه جواز دی چې د (۱۳۹۶) کال له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون د ۳مې مادې په ۱۳ جزء کې تعريف شوی دی[۱]؟ او يا په شکل په هر ډول جواز کې شامليږي؟

ګډونوال دې د "جواز" کلمې په تفسير کې د اختلافي عملي پايلو په اړه له يو بل سره بحث وکړي.

**دويمه پوښتنه:** د ۳۰۹مې مادې ۲ فقره ولې يوازې د وسايلو او تجهيزاتو له واردولو څخه بحث کړی؟ که چېرې احياناً د جواز له درلودلو سره وسايل هېواد ته را ننباسي، او يا د بل شی واردول چې د نيک نيت

[۱] - د دې کتاب ۷۳مې پاڼې ته دې مراجعه وشي.

لري ترلاسه کړي او بیا هغه د مخدره توکو د تولید او یا پروسس په مقصد وپلوري او یا یې وکاروي، حکم یې څه دی؟
**درېیمه پوښتنه: د ۳۰۹مې مادې ۲ فقره یوازې د وارد شوو وسایلو د پلور او استعمال څخه بحث کړی «... د مخدره توکو د غیر مجازت تولید او پروسس په مقصد وپلوري او یا یې وکاروي...»**. ستاسو له نظره، ولې قانون جوړوونکي د همدې مادې په ۱ فقره کې درج شوې تولنې کړنې ذکر نه کړې؟ له همدې کبله، که شخص هغه وسایل چې په جواز سره یې وارد کړي دي، د قاچاق د جرم ارتکاب په مقصد بل ته په عاریت ورکړي، آیا د دې مادې په ۲ فقره کې درج شوی حکم پر هغه تطبیق کېږي؟

**ب: د حکمي شخص جزا:**

که چېرې د جزا کود د ۳۰۹مې مادې په ۱ او ۲ فقرو کې درج شوی جرم د حکمي شخص په نوم او یا حساب ترسره شي، حکمي شخص په لاندې ډول مجازات کېږي:

۱. د لومړي ځل لپاره د جرم ارتکاب: له ۲ میلیونو څخه تر ۵ میلیونو افغانیو پورې نغدي جزا.
۲. د دویم ځل لپاره د جرم ارتکاب: ۵ میلیونه افغانۍ نغدي جزا او د فعالیت د جواز سلبول.

په دې ځای کې د وسایلو له مصادرې څخه بحث نه دی شوي. ځکه چې د نوموړو وسایلو د مصادرې په اړه یو ځل په لومړۍ فقره هکې بحث شوی دی او هماغه حکم د تطبیق وړ دی. ځکه چې د حکمي شخص مجازات د حقیقي شخص د مجازاتو مانع نه ګرځي.

## درېیمه وینا: نورو ته د وړاندې کولو په منظور د مخدره توکو د ترکیب او مخلوطولو جرم:

نورو ته د مخدره توکو ورکول په بېلابېلو بڼو صورت نیسي: ځیني وخت جبري وي او ځیني وخت له فریب سره یوځای او د کاروونکي د علم پرته او احیاناً د مصرفوونکي له علم او موافقت سره یوځای ترسره کې.ي. له بله پلوه، دا ورکول او یا وړاندې کول احیاناً له خوراکي او څښاکي توکو او نورو توکو لکه زرقي، مالشي او داسې نورو سره د مخدره توکو د ګډولو او یا ترکیبولو وروسته صورت نیسي او احیاناً له ګډولو او ترکیب پرته (یعنې څرنګه چې دي) مصرفوونکي ته وړاندې کېږي.

د جزا کود دا حالتونه په یوځای کې ځېړلي نه دي. بلکه بل ته د مخدره توکو د اجباري ورکولو حکم په ۳۱۸مه ماده کې د "اجباري اعتیاد" تر عنوان لاندې تنظیم کړی دی. خو که چېرې بل ته د هغه له علم پرته د مخدره توکو ورکړل شي او اجباري هم نه وي، د هغه حکم د ۳۱۳مې مادې په ۵ فقره کې تنظیم شوی دی. منتهی ۳۱۳مه ماده یوازې د مخلوطوونکي او ترکیبوونکي حکم بیان کړی دی. خو هغه شخص چې مخدره توکي د همدې موخې لپاره له ځان سره ساتي، یا لېږد او رالېږدوي او یا یې پېري او یا په نهایت کې دا مواد له خوړو سره یوځای په مصرفوونکي پلوري او د خوړو او له هغه سره د مخلوط شوو موادو دواړو قیمت له هغه څخه ترلاسه کوي، نو دا کړنې د مخدره توکو تر قاچاق لاندې هم داخلېږي، خو که چېرې مخلوطوونکی په نورو فعالیتونو کې ونډه ونه لري، د هغه عمل تر همدې مادې لاندې د تعقیب وړ دی.

لاندې، لومړی د جزا کود د ۳۱۳مې مادې متن ذکر کېږي، بیا د هغه عناصر او مجازات بیانېږي.

**«(۱) هغه شخص چې نورو ته د وړاندې کولو په منظور هېروئین، کوکائین یا مورفین له خوراکي، څښونکو (نوشیدني) موادو یا نورو موادو سره مخلوط یا ترکیب کړي، د متوسط حبس په اکثر حد محکومېږي.**

**(۲) هغه شخص چې نورو ته د وړاندې کولو په منظور، له خوراکي، څښونکو موادو یا نورو موادو سره تریاک مخلوط یا ترکیب کړي، تر دریو کلونو پورې په متوسط حبس محکومېږي.**

**(۳) هغه شخص چې نورو ته د وړاندې کولو په منظور، د مسکراتو او مخدرو موادو پر خلاف د مبارزې او د هغو د کنټرول د قانون په منضمه ۱، ۲ او ۳ ګڼه جدولونو کې مندرج نور مواد له خوراکي، څښونکو یا نورو موادو سره مخلوط یا ترکیب کړي، د موادو ډول ته په پام سره، د قصیر حبس په اکثر حد محکومېږي.**

**(٤) هغه شخص چې نورو ته د وړاندې کولو په منظور، له خوراکي، څښونکو یا نورو موادو سره چرس مخلوط یا ترکیب کړي، د قصیر حبس په اقل حد محکومېږي.**

**(٥) هغه شخص چې د نورو د معتادولو، تېر اېستلو (فریب) یا ناوړې ګټې اخیستنې په منظور د دې مادې په (۱ تر ۴) فقره کې درج شوو اعمالو مرتکب شي، په طویل حبس محکومېږي».**

## لومړی مطلب: نورو ته د وړاندې کولو په منظور د مخدره توکو د ترکیب او مخلوطولو جرم عناصر:

لاندې د دې جرم مادي او معنوي عناصر څېړل کېږي، قانوني عنصر هم ورسره د بحث په شاوخوا کې بیانېږي.

**الف: مادي عنصر:**

دا جرم له مطلق جرمونو څخه دی، ځکه چې د شخص لخوا له خوراکي، څښونکو او یا د استفادې وړ نورو موادو سره یوازې د مخدره توکو مخلوطول او یا ترکیبول جرم ګڼل شوی دی، که شخص له هغه څخه ګټه پورته کړي او یا نه. له همدې کبله، د هغه په مادي عنصر کې جرمي کړنه (فعل) او د جرم موضوع شاملېږي.

**۱. جرمي کړنه:**

جرمي کړنه له: ۱) ترکیبولو، او ۲) مخلوطولو څخه عبارت ده. لیدله کېږي چې بل ته د مخدره توکو ورکول که د ترکیبولو او مخلوطولو بڼه ونه لري، تر دې مادې لاندې د تعقیب وړ نه دي. بلکه له احوالو سره سم د مخدره توکو د قاچاق او اجباري اعتیاد تر جرم لاندې به د تعقیب وړ وي.

«**ترکیب**»: ترکیب له «په ځینو نورو د ځینو شیانو ځای پر ځای کولو[1]» څخه عبارت دی. د بېلګې په ډول، کله چې شخص مخدره توکو پر خواړو وپاشي، پرته له دې چې مواد له خواړو سره ګډ شي، دا حالت ترکیب نومېږي، خو مخلوطول له ترکیب څخه یوه درجه پورته دی.

«**مخلوطول**»: مخلوطول له « ګډولو او اخته کولو[2]» څخه عبارت دی. نو له خوراکي توکو او یا نورو موادو سره د مخدره توکو مخلوطول له هغه حالت څخه عبارت دی چې له خوراکي او یا څښونکو موادو سره د مخدره موادو سره له یوځای کولو وروسته داسې اخته کېږي چې مخدره مواد او هغه مواد چې له هغه سره یوځای شوي دي (لکه خواړه) له یو بل سره اخته کېږي.

[1] - لغت نامهٔ ده خدا، د ترکیب اصطلاح.

[2] - هماغه، د مخلوط اصطلاح.

د یادونې وړ ده چې قانون مشخص کړې نه ده چې هغه مخدره مواد چې شخص یې په خواړو یا څښوونکو موادو او داسې نورو کې ترکیب او یا مخلوطوي، د چا ملکیت دی؟ بنایي په خپله کاروونکي مخلوطوونکو ته یې ورکړي ترڅو ورته یې په خواړو او یا څښونکو موادو کې مخلوط کړي او بنایي د ترکیبوونکي ملکیت وي او هغه له خواړو سره یوځای پېرودونکي باندې وپلوري چې په دې په صورت کې ترکیبوونکی پېرودونکی هم ګډل کې.ي، او یا مخدره توکي د درېیمګړي ملکیت وي (د بېلګې په ډول؛ د رسټورانټ څښتن) او ترکیبوونکی (لکه آشپز) هغه په خواړو کې د کاروونکي لپاره یې مخلوطوي.
له بله پلوه، د ترکیب او ګډولو عمل عادتاً د یو شمېر نورو اعمالو غوښتنونکی دی چې هغه ته د قاچاق قانون وایي لکه، ساتل، انتقالول، وړاندې کول، زېرمه کول او پټول. نو، که چېرې ترکیبوونکی د قاچاق له اعمالو څخه په یو عمل مرتکب شوی وي، د هغه په حق کې د جرمونو د معنوي تعدد حالت صدق کوي او د جزا کود په لومړي کتبا کې د درج شوو عمومي قواعدو په رڼا کې تر عدلي تعقیب لاندې قرار نیسي.
په یو حالت کې مخلوطول او ترکیبول له قاچاق پرته د تصور وړ دی، او هغه دا چې ترکیبوونکي له ترکیب مخکې او وروسته له مخدره موادو سره هیڅ تماس او اړیکه وهنه لري، یوازې د هغه دنده ترکیبول او یا مخلوطول وي لکه هغه آشپز چې بل (د بېلګې په ډول د هوټل څښتن) ورته مواد راوړي او په دیګ کې یې اچوي او آشپز یوازې هغه له خواړو سره ګډوي، بیا یې بل شخص (لکه ګارسون) ته ورکوي ترڅو ګټه اخیستونکي ته یې وړاندې کړي. په دې بېلګه کې لیدل کې چې د هوټل څښتن او ګارسون په قاچاق مرتکب شوي دي (ځکه چې مواد یې لېږدولي او انتقال کړي دي) خو آشپز د مخدره توکو په ترکیب او مخلوطولو مرتکب شوي دي. خو که چېرې آشپز په خپله مواد له ځان سره وساتي او هغه ولېږدوي او په دیګ کې یې واچوي، نو د هغه په حق کې د جرمونو د تعدد حالت صدق کوي.

**۲. د جرم موضوع:**

د جرم موضوع له مخدره توکو سره د مبارزې قانون د منضمې په ۱، ۲ او ۳ ګڼه جدولونو کې له درج شوو مخدره توکو او روان اړوونکو توکو څخه عبارت دي. په ۳۱۳مه ماده کې دا مواد د هغوی له جزاګانو سره سم په څلورو کټګوریو وېشل شوي دي:
لومړۍ کټګوري: هېروئین، کوکائین یا مورفین.

دویمه کټګوری: تریاک

دریيمه کټګوری: چرس

څلورمه کټګوری: له مخدره توکو سره د مبارزې قانون د منضمې په ۱، ۲ او ۳ جدولونو کې درج شوي نور مواد.

**۳. هغه مواد چې په هغه کې مخدره توکي ترکیب او مخلوط کېږي:**

د مخدره توکو ترکیبول او مخلوطول هغه وخت په ۳۱۳مه ماده کې درج شوی جرم رامنځته کوي چې مخلوط فیه ماده له خوراکي، څښونکو موادو او یا نورو موادو کې د انسانانو د استعمال وړ وي لکه زرقي، مالشي او داسې نورو موادو له جملې څخه. ځکه چې قانون ویلي «...**نورو ته د وړاندې کولو په منظور...**». له «نورو» څخه مراد انسانان دي او«نورو ته وړاندې کول» یعنې په هغو موادو کې د مخدره موادو مخلوطول چې انسانان په یو ډول نه یو ډول نوموړي مواد کاروي او د هغه له لارې مخدره توکي د هغوی په بدن کې جذبېږي لکه خوراکي او څښوونکي مواد، زرقي مواد، مالشي مواد او داسې نور.

خو له هغو موادو سره د مخدره موادو مخلوطول چې انسانانو ته د استعمال وړ نه دي، لکه د حیواناتو خواړه او د حیواناتو څښوونکي مواد او یا له هغو موادو سره چې اصلاً انسانانو ته د استعمال وړ نه دي، لکه تنظیفي او یا ساختماني مواد او داسې نور دا جرم نه رامنځته کوي. همدارنګه د مخدره توکو مخلوطول د شخصي استفادې لپاره نه، بلکه نورو ته د وړاندې کولو په منظور تر دې مادې لاندې د تعقیب وړ نه دي، بلکه د مخدره توکو په استعمال پیل ګڼل کېږي او کله چې مخلوط شوي مخدره توکي خوري او یا یې څښي او یا په بل ډول استعمالېږي، د استعمال جرم بشپړېږي.

نو، غوره به وای چې قانون جوړوونکي قید د « یا نورو موادو» له تعبیر سره اضافه کړی وای ترڅو ناسم درک نه شي، د بېلګې په ډول، ویلای به یې وای: (یا نور هغه مواد چې په بدن کې په جذب تمامېږي). خو دا چې قانون په مطلق شکل ویلي «.... له خوراکي، څښونکو موادو **یا نور موادو** سره مخلوط یا ترکیب کړي....» د نیوکې وړ ده.

**ب: معنوي عنصر:**

دا جرم له عمدي جرمونو څخه دی او جرمي قصد د ځانګړي قصد ډول دی ځکه چې قانون تصریح کړې ده چې « ... **نورو ته د وړاندې کولو په منظور**... مخلوط یا ترکیب کړي». په دې معنی چې مخلوطوونکی سربېره پردې چې جرمي کړنه عامدانه او آګاهانه ترسره کوي، دا نیت هم باید ولري چې مخلوط شوي مخدره توکي نورو ته وړاندې کېږي.

## دویم مطلب: نورو ته د وړاندې کولو په منظور د مخدره توکو د ترکیب او مخلوطولو جرم جزا:

د دې جرم جزا په عادي او مشدده حالت کې توپیر لري:

**الف: د عادي حالت جزا:**

د دې جرم جزا د هغو مخدره توکو له **ډول** سره سم چې مخلوط او یا ترکیب کېږي (نه د هغه **اندازه**) په څلورو درجو وېشل شوې ده:

۱. که چېرې مخلوط شوي مواد هیروئین، کوکائین یا مورفین وي، جزا یې د متوسط حبس اکثر حد ده.
۲. که چېرې مخلوط شوي مواد تریاک وي، نو جزا یې تر دریو کلونو پورې متوسط حبس ده.
۳. که چېرې مخلوط شوي مواد له مخدره توکو سره د مبارزې قانون د منضمې په ۱، ۲ او ۳ ګڼه جدولونو کې درج شوي نور مواد وي، نو جزا یې د قصیر حبس اکثر حد ده.
٤. که چېرې مخلوط شوي مواد چرس وي، نو جزا یې د قصیر حبس اقل حد پېشبیني شوې ده.

**ب: د مشدده حالت جزا:**

که چېرې له پورته اعمالو څخه هر یو د معتادولو، فریب یا له نورو څخه د ناوړې استفادې په منظور مرتکب شي، نو جزا یې طویل حبس پېشبیني شوې ده.

## څلورمه وینا: تر تصرف لاندې ځایونو کې د مخدره توکو د مصرف د اجازې ورکولو جرم:

د جزا کود ۳۱۴مه ماده د دې جرم په اړه داسې صراحت لري: « **هغه شخص چې په رستورانټ، هوټل، سینما، دوکان او تر خپل تصرف لاندې په نورو ځایونو کې د مخدرو موادو او روان اړوونکو موادو، د هغو د لرونکو مرکب د مصرف اجازه ورکړي، د محل د جواز پر سلبېدو برسېره، اجازه ورکوونکی په قصیر حبس او په هغه صورت کې چې اجازه ورکوونکی د عامه خدمتونو مؤظف وي تر دریو کلونو پورې په متوسط حبس محکومېږي**».

لاندې د دې جرم عناصر او مجازات بیانېږي.

## لومړی مطلب: تر تصرف لاندې ځایونو کې د مخدره توکو د مصرف اجازې ورکولو جرم عناصر:

### الف: مادي عنصر:

دا جرم له مطلب جرمونو څخه دی او د هغه په مادي عنصر کې جرمي کړنه، د جرم موضوع، د مرتکب صفت او د مخدره توکو د مصرف ځای شامل دي.

#### ۱. جرمي کړنه او د جرم موضوع:

د مخدره توکو د مصرف په اجازه ورکولو کې جرمي کړنه او د جرم موضوع شاملېږي. جرمي کړنه له اجازه ورکولو څخه عبارت ده او د جرم موضوع له مخدره توکو څخه عبارت ده. په دې ځای کې د ځای څښتن یوازې خپل محل د مخدره توکو د مصرفوونکي په واک کې ورکوي او هغوی ته د مصرف اجازه ورکوي، خو د قاچاق د جرم په تشکیلوونکو کړنو نه مرتکب کېږي. یعنې د ځای څښتن د لېږد رالېږد، وړاندې کولو، پیر او پلور.. او د قاچاق د جرم په نورو تشکیلوونکو فعالیتونو کې ونډه نه اخلي، بلکه یوازې د مخدره توکو مصرفوونکو ته د مصرفولو اجازه ورکوي.

قانون د اجازې ورکولو لپاره کوم ځانګړی شکل شرط نه دی ایښی. نو اجازه کېدلای شي صریح او یا ضمني اوسي. صریح اجازه په دې معنی چې په شفاهي او لیکلي بڼه مصرفوونکو ته د مصرفولو اجازه ورکړي. ضمني اجازه په دې معنی چې مصرفوونکي وګوري خو د ورټیا سربېره هیڅ نیوکه او ممانعت یې ونه کړي، د هغه نه ممانعت د ضمني اجازې مفهوم نه ورکوي. خو که چېرې د مخدره توکو مصرف د ځای د څښتن له علم پرته ترسره شي، ولو که د ځای څښتن له خپل ځای څخه په ساتنه کې غفلت کړی وي، د ځای څښتن د دې جرم مسؤولیت نه لري.

همدارنګه شرط نه دی چې دا اجازه په مقابل کې عوض شي. یعنې د ځای څښتن له مصرفوونکو څخه د دې خدمت په مقابل کې پیسې ترلاسه کړي. په دې اساس اجازه که چېرې د عوض په مقابل کې او یا له هغه پرته وي، په دواړو حالتونو کې جرم واقع کېږي.

د یادونې وړ ده چې دا ماده د مخدره توکو د مصرفولو له اجازې څخه بحث کوي. نو د مخدره توکو اړوند ټول فعالیتونه په دې جرم کې نه شاملېږي، لکه په پلورنځي یا رسټورانټ او داسې نورو کې د پیر او پلور اجازه، ځکه چې په دې حالتونو کې د ځای څښتن د مخدره توکو د قاچاق د جرم معاون پېژندل کېږي.

### ۲. د جرم د مرتکب صفت او د مخدره توکو د مصرف ځای:

اجازه ورکوونکی باید پر هغه ځای کې یو ډول واک او سلطه ولري چې په هغه کې مخدره توکي مصرفېږي، ولري، ځکه چې قانون تصریف کړې ده چې «... او **تر خپل تصرف لاندې** نور ځایونه...». په دې معنی چې ځای باید د اجازه ورکوونکي تر تصرف لاندې وي.

قانون تصریح کړې نه ده چې دا تصرف او یا سلطه قانوني وي. نو، د واکونو ټول ډولونه په کې شاملېږي. که هغه اشخاص چې له قانوني لارې پر محل حق او واک لري لکه مالک، مستأجر، مستعیر، مرتهن، موصی له او داسې نور. او یا هغه کسان چې له غیر قانوني لارې پر یو محل واک ترلاسه کړی دی، لکه غصب.

د مخدره توکو د مصرفولو ځای په اړه قانون د رسټورانټ، هوټل، سینما او پلورنځي څخه یادونه کړې ده. بیا په عام شکل ویلي دي « ... او تر خپل تصرف لاندې نور ځایونه...». د «نور ځایونه» په تفسیر کې دا پوښتنه مطرح کېدلای شي چې آیا په ځانګړي خصوصي ځایونو کې (لکه د هستوګنې کور) هم شاملېږي؟ او یا له «نورو ځایونو» څخه مراد هغه ځایونه دي چې له پورته ذکر شوو سره ورته والی لري، لکه کافي شاپ، انټرنېټ کلب او داسې نور. ځکه چې د قانون په ماده کې ټول ذکر شوي ځایونه یو ډول خصوصي ځایونه دي چې د عمومي استفادې لپاره ځانګړي شوي دي او له همدې کبله د عمومي ځایونو په حکم کې راځي ځکه چې خلک په هغه کې د تردد اجازه لري. د مضیق تفسیر او پر سیاق او سباق ولاړ تفسیر اصل ایجابوي چې «نور ځایونه » د عمومي اصتفادې لپاره خصوصي ځایونو ته تفسیر کړو، نه ټولو ځایونو ته. په دې اساس، د استوګنې په کور کې میلمنو ته د مخدره توکو د مصرفولو اجازه ورکول په دې جرم کې نه شاملېږي. خو دا چې شخص خپل کور په عمومي ډول د مصرفوونکو په واک کې ورکړي او هغوی په کې د تردد حق ولري، ځکه چې په دې صورت کې د استوګنې کور د مصرفوونکو د **تردد په وخت** کې د عمومي استفادې لپاره د تخصیص شوي ځایونو حکم اخلي.

**(۲۹) نهه ویشتم فعالیت**

**مباحثوي پوښتنه:**

شخص تر خپل تصرف لاندې کرنیزه ځمکه کې او یا تر خپل تصرف لاندې باغ کې مصرفوونکو ته د مصرفولو اجازه ورکوي، آیا د هغه عمل د جزا کود تر ۳۱۴مې مادې لاندې د تعقیب وړ دی یا نه؟

**ب: معنوي عنصر:**

دا جرم له عمدي جرمونو څخه دی. نو د جرم مرتکب هغه وخت مسؤولیت ترلاسه کوي چې د جرم په مادي کړنه عامدانه او آګاهانه مرتکب شي.

**دويم مطلب: تر تصرف لاندې ځايونو کې د مخدره توکو د مصرفولو جرم جزا:**

قانون د دې جرم لپاره دوه ډوله جزا ګانې پېشبيني کړې دي: د عادي حالت جزا او د مشدده حالت جزا.

**الف: د عادي حالت جزا:**

په عادي حالت کې د جرم جزا له قصير حبس څخه عبارت ده.

**ب: د مشدده حالت جزا:**

په هغه صورت کې چې اجازه ورکوونکی د عامه خدمتونو مؤظف وي، نو جزا يې تر دريو کلونو پروې متوسط حبس دی.

**پنځمه وينا: اجباري اعتياد ته د سوقولو جرم:**

د جزا کود ۳۱۸مه ماده د دې جرم په اړه داسې صراحت لري:

**«(۱) هغه شخص چې چې، بل څوک د چرسو په استثناء د مخدرو موادو استعمال ته اړ باسي (مجبور کړي) او يا نومورې مواد جبراً په هغه وخوري، وڅښي يا تزريق کړي، په هغه صورت کې چې شخص د هغو د استعمال له امله معتاد شي په طويل حبس محکوميږي.**

**(۲) هغه شخص چې، بل څوک د چرسو استعمال ته مجبور کړي، په هغه صورت کې چې شخص د هغو د کارولو له امله معتاد شي، په قصير حبس، محکوميږي.**

**(۳) که چېرې د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو جرمونو مجني عليه طفل او يا په رواني ناروغيو مصاب شخص وي، مرتکب، د طويل حبس په اکثر حد محکوميږي.**

**(٤) که چېرې شخص د دې مادې په (۱، ۲ او ۳) فقرو کې تر درج شوي اجبار لاندې، د دې عمل تر اغېزې لاندې، د جرم مرتکب شي، سوقوونکی د دې مادې په (۱، ۲ او ۳) فقرو کې پر درج شوو مجازاتو برسېره د ارتکاب موندي جرم په مجازاتو، هم، محکوميږي.**

**(۵) که چېرې د دې مادې په (۱، ۲ او ۳) فقرو کې د درج شوو اعمالو له ارتکاب څخه موخه، پر شخص باندې د جرم ارتکاب وي، مرتکب په دې ماده کې پر درج شوو مجازاتو برسېره، د مرتکبه جرم پر مجازاتو هم محکومېږي».**

لاندې د دې جرم عناصر او جزا څېړل کېږي:

## لومړی مطلب: اجباري اعتیاد ته د سوقولو جرم عناصر:

**الف: مادي عنصر:**

دا جرم له پایله لرونکي جرمونو څخه دی. نو د هغه په مادي عنصر کې مادي کړنه (فعل)، د فعل کیفیت (اجبار)، د جرم موضوع، پایله او د سببیت اړیکه شامل دي.

**۱. مادي کړنه (فعل):**

مادي کړنه عبارت ده له: د مخدره توکو پرې خوړل، څښل او زرق کول او یا شخص مجبورول ترڅو په خپله مخدره توکي له ذکر شوو لارو څخه په یوې مصرف کړي (استعمال کړي).

**۲. د فعل کیفیت (اجبار):**

دا جرم هغه وخت رامنځته کېږي چې مادي کړنه له اجبار او اکراه سره صورت ونیسي. خو که چېرې له تشویق، ترغیب او یا تطمیع سره یوځای کړنه وي، دا ماده د تطبیق وړ نه ده. همدارنګه که چېرې په حیله، فریبا او یا د مصرفوونکي له علم پرته د مخدره توکو ورکړه وي، بیا هم دا ماده د تطبیق وړ نه ده. بلکه د جزا کو ۳۱۳مه ماده چې وړاندې پرې بحث وشو، د تطبیق وړ ده.

غوره به وای چې قانون جوړوونکی د رضـایت او په رواني ناروغیو اخته کسـانو طفل کأن لم یکن ګڼلی وای. خو لکه څرنګه چې د دې مادې له دریېمې فقرې څخه معلومېږي، د هغوی رضـایت بې اعتباره نه دی ګڼل شوی، یوازې په دې حالت کې د اجباروونکي حالت شدت موندلی دی.

### ۳. د جرم موضوع:

دا جرم هغه وخت رامنځته کېږي چې د جرم د موضـوع مواد د مخدره توکو له جملې څخه دي. خو که چېرې بل شـخص د نورو ضررناکو ماد څخه په اسـتفادې مجبور کړي، دا ماده هغه په حق کې نه تطبیقېږي.

### ٤. پایله او د سببیت اړیکه:

د دې جرم پایله د مجني علیه له معتاد کېدلو څخه عبارت ده. که چېرې عمل ترسره شي، خو د اعتیاد حالت رامنځته نه شي، بشپړ جرم واقع شـوی نه دی. په هغه صـورت کې چې مرتکب د معتادولو موخه ولري او دا نیت په ثبوت ورسـېږي، د هغه کړنه په جرم پیل پېژندل کېږي. خو که چېرې دا نیت ثلبت نه شي، دا جرم مصـداق نه پیدا کوي. خو دا چې د مخدره توکو له لېږد او رالېږد او وړاندې کولو پرته د مخدره توکو خوړل او یا څښـل د تصـور وړ نه دی، د مرتکب اعمال د مخدره توکو تر قاچاق لاندې هم داخلېږي. په بل عبارت، د قانون تطبیقوونکي باید د جرمونو د تعدد حالت ته متوجه اوسي، ځکه چې په ډېرى مواردو کې ارتکابي عمل د دې ترڅنګ چې جلا جرم تلقي شوی دی ښایي د مخدره توکو د قاچاق د جرم تر ځانګړنې لاندې هم داخل شي.

پایله چې له معتاد کېدلو څخه عبارت ده، باید د جرم د مرتکب له کړنې سره د سـببیت اړیکه ولري، پرته له دې مرتکب یوازې په جرم د پیل مسؤولیت ښایي ولري، البته په جرم د پیل شرطونو د تکمیل په صورت کې.

**ب: معنوي عنصر:**

دا جرم له عمدي جرمونو څخه دی. نو د هغه په معنوي عنصر کې علم او اراده شامل دي. یعنې د جرم مرتکب باید عامدانه او آگاهانه مخدره توکي جبراً په نورو وخوري، ویې څښي او یا یې زرق نکړي او یا هغوی په دې کار مجبور کړي.

## دویم مطلب: اجباري اعتیاد د سوقولو جرم جزا:

**الف: د عادي حالت جزا:**

د دې جرم عادي جزا د مخدره توکو له ډول سره سم په توپیر سره پیشبیني شوې ده:

- له چرسو پرته په مخدره موادو د معتادېدو د اجبار جزا طویل حبس ده.
- په چرسو د معتاد کېدو د اجبار جزا قصیر حبس دی.

**ب: د مشدده حالت جزا:**

د جزا کود د ۳۱۸مې مادې په ۳، ۴ او ۵ فقرو کې د دې جرم د مشدده حالاتو جزا په لاندې ډول تنظیم شوې ده:

- که چېرې مجني علیه طفل او یا په رواني ناروغیو مصاب شخص وي، په هغه صورت کې چې جبراً له چرسو پرته معتاد شوی وي، د مرتکب جزا د طویل حبس اکثر حد پیشبیني شوې ده. (د جزا کود د ۳۱۸مې مادې ۳ فقره).
- په هغه صورت کې چې مجني علیه د جرمي عمل تر اغېزې لاندې، د جرم مرتکب شي، د دې جرم مرتکب د جزا کود د ۳۱۸مې مادې د ۱، ۲ او ۳ فقرو د جزاگانو سربېره د هغه جرم چې مجني علیه پرې مرتکب شوی دی، په جزا هم محکومېږي. (د جزا کود د ۳۱۸مې مادې ۴ فقره).

- که چېرې د جزا کود د ۳۱۸مې مادې د ۱، ۲ او ۳ فقرو د اعمالو له ارتکاب څخه موخه پر مجني عليه د جرم ارتکاب وي، مرتکب د پورته ذکر شــوو مجازاتو سربېره د مرتکبه جرم په جزا هم محکومېږي.(د جزا کود د ۳۱۸مې مادې ۵ فقره).

تبصره:

د ۳۱۸مې مادې په ۴ فقره کې درج شوی مجني عليه د دوو جرمونو په مادي کړنو مرتکب شوی دی: یو: د مخدره توکو کارول، دوه: د لومړني جرم تر اغېزې لاندې د بل جرم ارتکاب. د لومړني جرم په اړه هيڅ مسؤوليت نه لري، ځکه چې قانون تصريح کړې چې تر جبر او اکراه لاندې پر هغوی مخدره مواد خوړل شوي، يا څښل شوي او يا زرق شوي دي او يا په دې کار مجبور شوي دي. د دويمي جرم په برخه کې چې آيا مسؤوليت لري يا نه؟ قاضي د مجني عليه سني او رواني حالاتو ته ګوري او همدارنګه د هغې اغېزې اندازې ته ګوري چې لومړني جرم د هغه پر اراده او درک وارده شوې ده ځکه چې قانون تصريح کړې ده چې « د دې عمل تر اغېزې لاندې د جرم مرتکب کېږي...» په دې معنی چې اجباري اعتياد د طفل او يا په رواني ناروغيو پر مصاب شخص اغېزې لري او دا اغېزه په دومره اندازه وي چې دوی د هغه تر اغېزې لاندې په دويم جرم اقدام کړی دی. خو قاضي بايد د اغېزې ميزان تشخيص کړي او پر جزايي موانعو د حاکمو کُلي قواعدو سره سم د صغير او په رواني ناروغيو د مصاب شخص برأت او يا مسؤوليت په دويم جرم کې تشخيص کړي.

**عمومي پایلیزه:**

په دې روزنیزه رساله کې، د مخدره توکو او مسکراتو د اړوندو موضوعاتو په اړه د ۱۳۹٦ کال له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون او د ۱۳۹٦ کال د جزا کود له ۲۹۹ تر ۳۲۲ مادو په رڼا کې بحث شوی دی. هغه موضوعات چې په دې روزنیزه رساله کې تر بحث لاندې نیول شوي دي، په لاندې مواردو مشتمل دي.

لومړی: د مخدره توکو د جرمونو کلیات: په دې برخه کې لاندې موارد شامل دي: د مخدره توکو تعریف، له مخدره توکو سره د مبارزې ملي او نړیوالې سرچینې او له مخدره توکو سره د مبارزې اداري.

دویم: د مخدره توکو د قاچاق جرمونه: په دې بخش کې لاندې موارد شامل دي: د مخدره توکو د قاچاق مفهوم، د مخدره توکو د قاچاق عناصر او د مخدره توکو د جرم جزا.

درییم: د مخدره توکو د قاچاق جرمونو اړوند جرمونه: په دې برخه کې لاندې موارد شامل دي: د مؤظفینو یا پټو همکارانو له لوري د مخدره توکو اړوندو جرمونو ارتکاب او د عادي اشخاصو له لورې د مخدره توکو د جرمونو ارتکاب.

## آخځليکونه:

### الف) قوانين، طرز العملونه، ستراتېژۍ او پلانونه:


۱. په (۱۲٦۰) ګڼه رسمي جريده کې خپور شوی د جزا کود، د عدليې وزارت، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت.

۲. په ۱۳۹٦ کال کې په (۱۲۸۴) ګڼه رسمي جريده کې خپور شوی له مخدره توکو او مسکراتو سره د مبارزې قانون، د عدليې وزارت، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت.

۳. د ۱۳۹۳ کال د (۱۱۳۲) ګڼه رسمي جريده کې خپور شوی، د جزايي اجراآتو قانون، د عدليې وزارت، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت.

٤. د مخدره، مجازو روان اړوونکو درملو، ځانګړو پرېکرسرونو او د هغوی ترکيبي بڼو د اجازه ليکونو د صادرولو د څرنګوالي او سيستم طرز العمل (۱۳۸۷ کال).

٥. د مخدره توکو د کنټرول ملي ستراتېژي ۱. ۱. ۳. (۱۳۹۲-۱۳۹٦).

٦. د افغانستان د ملي عمل پلان، له ۲۰۱٥ تر ۲۰۱۹ له مخدره توکو سره د مبارزې لپاره (۱۳۹۴)، ۱ ګڼه.

۷. د روم د ډيپلوماتيک کنفرانس د وروستي سند لومړۍ ضميمه (په ۱۹۹۸ کال کې تصويب شوی).


### ب) کتابونه، ستراتېژۍ، طرز العملونه او پلانونه:


۱- ابن منظور، محمد بن مکرم الأفريقي المصري. لسان العرب ج ٤،ص: ۲۳۰، دار صادر – بيروت چاپ اول.

۲- راجی، عبد القدوس، اضرار و حکم شرعی مواد مخدر، نسخه پی دی ايف، ګرفته شده از سايت عقيده: www.aqeedeh.com.

۳- راغب اصفهانی، المفردات.

٤- الطیار، عبد الله بن احمد، مواد مخدر در فقه اسلام، ترجمه : حسین پور، سید محمد یوسف ، نسخه پی دی ایف، گرفته شده از: www.aqeedeh.com.
٥- ضوابط التعامل مع المخبر السري.
٦- فرهنگ عمید.
٧- فرهنگ واژه های سره.
٨- لغتنامۀ دهخدا.

## ج) انترنيتي آخځليکونه:

١- http://mcn.gov.af/fa/page/١٨٣٦/٥١٢٩/object-objectobject-objectdrug-regulation committee
٢- https://www.ml-advocates.com/ ، https://ar.wikipedia.org/wiki ،/ https://egypt-lawer.blogspot.com/٢٠١١/١٠/١٩٦١.html
٣- http://parstoday.com/dari/radio/uncategorised-i٦٠٥٧٧
٤- https://www.ml-advocates.com/ar/%،/
٥- https://issuu.com/naginadjib/docs/
٦- http://mcn.gov.af/fa/page/١٨٣٥/history-mcn
٧- http://mcn.gov.af/fa/page/٥١٥٦/١٨٣٥
٨- International Criminal Court (ICC).
٩- Rome Statute of the International Criminal Court (١٩٩٨).
١٠- Final Act of the United Nations Diplomatic Conference of Plenipotentiaries on the Establishment of an International Criminal Court (١٩٩٨).
١١- https://fa.wikipedia.org/wiki/%D٩٪٨٢٪DA٪AV٪DA%A٦٪DA٪AV٪D٩٪٨٢

١٢- INTERNATIONAL CONVENTIONON MUTUAL ADMINISTRATIVE ASSISTANCEFOR THE PREVENTION, INVESTIGATIONAND REPRESSIONOF CUSTOMS OFFENCES (Nairobi, ٩ June ١٩٧٧)

١٣- Article ١: (d) the term "smuggling" means Customs fraud consisting in the movement of goods across a Customs frontier in any clandestine manner.

١٤- https://ocs.gov.af/dr/news_details/٦٦

١٥- http://mcn.gov.af/fa/page/١٨٣٦/٥١٢٩/object-objectobject-objectdrug regulation-committee

١٦- http://mcn.gov.af/fa/page/٥١٢٩/١٨٣٦/object-objectobject-objectdrug regulation-committee